صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّي (البخاری)

# زِينَةُ الصَّلَاة

## دلمانځه ښکلا

ليکوال: فضيلة الشيخ ابو محمد امين الله البشاوري

ترتيب او [illegible] احمد هلال

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم


## کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم :: زِينَةُ الصَّلَاة (د لمانځه ښکلا)

ليکوال :: فضيلة الشيخ ابو محمد امين الله البشاوري

ترتيب او ټولوونه:: استاد فريد احمد هلال

خپرندوی :: کتاب خپرندويه ټولنه (جلال کوټ)

کمپوز :: خپله ټولوونکی

ډيزاين او طرح :: ابو عثمان عبدالمجيد – ګندهارا خدمتونه

چاپ کال :: ۱۳۹۰

د ترلاسه کېدو ځايونه::

ګندهارا کتاب پلورنځی (اسحاقزی مارکېټ ځمکتل، جلال کوټ)

مکتبه محمديه (منګل مارکېټ، ګنج بازار، پېښور، کوزه پښتونخوا)

دارالکتب (صدف پلازه، محله جنګي پېښور، کوزه پښتونخوا)


د چاپ حقوق له ټولوونکي سره خوندي دي

## لړليک


د لمانځه جوړښت ........ ۲

د لمانځه روح ........ ۶

د خشوع د پيدا کېدو اسباب ........ ۲۶

لومړۍ مسئله: ستره ودرول ........ ۳۰

دويمه مسئله: د سترې د لوړ والي اندازه ........ ۳۲

دريمه مسئله: د لمونځ کوونکي مخې ته د ځارويو تېرېدو حکم ........ ۳۷

څلورمه مسئله: ايا لمونځ کوونکی خپلې مخې ته تېرېدونکی په زور منع کولای شي؟ ........ ۳۸

پنځمه مسئله: که ستره نه وي؛ نو د لمونځ کوونکي مخې ته په څومره فاصله کې تېربدل صحيح دي؟ ........ ۴۱

د لمانځه طريقه ........ ۴۷

شپږمه مسئله: د ښځو او سړيو په لمانځه کې توپير؟ ........ ۴۸

اوومه مسئله: ښځوته د ښځې د امامت کولو حکم ........ ۵۸

اتمه مسئله: د لمانځه نيت ........ ۶۲

نهمه مسئله: لمانځه ته ودرېدل ........ ۶۷

لسمه مسئله: په صف کې جوخت ودرېدل ........ ۶۸

يولسمه مسئله: د لومړي تکبير پر مهال د لاسونو اوچتول ........ ۷۴

دولسمه مسئله: لاس پر نامه که پر سينه کېښودل پکار دي؟ ........ ۷۶

پر سينه د لاسونو کېښودو په اړه حديثونه ........ ۸۱

(c) ketabton.com: The Digital Library


پرسینه باندي دلاس کېښودو په اړه د علماوو ويناوې ..... ۸۲
د احنافو دلائل او د هغې تجزیه ..... ۸۸
دیارلسمه مسئله: په لمانځه کې کوم ځای ته کتل روا او پکار دي ..... ۹۵
څوارلسمه مسئله: له فاتحې نه مخکې بېلابېل ذکرونه او دعاګانې ..... ۹۶
پنځلسمه مسئله: د تعوذ یانې ((أَعُوذُ بِاللَّهِ)) بېلابېلې کلمې ..... ۱۰۵
شپاړلسمه مسئله: په هر رکعت کې تعوذ لوستل څنګه دي ؟ ..... ۱۰۵
اوولسمه مسئله: په امام پسې د فاتحې لوستل ..... ۱۰۸
اتلسمه مسئله: په اما م پسې د سورت فاتحې لوستو حکم ..... ۱۱۳
د قرائت خلف الامام په اړه د صحابه کرامو اثار ..... ۱۲۳
د قرائت خلف الامام په اړه د تابعینو اثار ..... ۱۲۷
د قرائت خلف الامام په اړه د علماوو ويناوې ..... ۱۲۸
محققين احناف او فاتحه خلف الامام ..... ۱۳۱
د مقابل لوري دلائل او د هغې تجزیه ..... ۱۳۲
نولسمه مسئله: په فاتحه لوستلو کې سنت طريقه ..... ۱۴۳
شلمه مسئله: په خفیه لمونځونو کې د مقتدي لپاره د فاتحې نه علاوه د نورقرات کولو حکم ..... ۱۴۵
یوویشتمه مسئله: تر ((وَلَا الضَّآلِّينَ)) وروسته امین ویل او د هغې اړوند مسئلې ..... ۱۴۸
د آمین بالجهر په اړه د علماوو قولونه ..... ۱۵۹
په پټه د امین ویلو دلیلونه او د هغې تجزیه ..... ۱۷۵
دوویشتمه مسئله: په لمانځه کې سورتونه وړاندې وروسته ویل روا دي ..... ۲۰۲
درویشتمه مسئله: رفع الیدین ..... ۲۰۴
څلورویشتمه مسئله: په سجده کې سنت طریقه ..... ۲۵۱
پینځه ویشتمه مسئلة: په سجده کې دواړه پښې جنګول ..... ۲۵۴
شپږ ویشتمه مسئله: په سجده کې دلاسونو کېښودل ..... ۲۵۶
اوه ويشتمه مسئله: په اوو اندامونو سجده کول ..... ۲۶۰
اته ویشتمه مسئله: د استراحت جلسه ..... ۲۶۳
نهه ویشتمه مسئله: تش رکعاتونه ..... ۲۶۴
دېرشتمه مسئله تورک ..... ۲۶۵
یو دېرشتمه مسئله: په التحیات کې خپلې غېږې ته کتل ..... ۲۶۵
دوه دېرشمه مسئله: اشاره به له کوم ځای نه شروع کوي ..... ۲۶۶
درې دېرشمه مسئله: د اشارې کیفتونه ..... ۲۶۹
څلور دېرشمه مسئله: په قاعده کې د ګوتې خوځول او نه خوځول ..... ۲۷۰
پینځه دېرشمه مسئله: تر الحیات وروسته درود شریف لوستل او د هغې بېلابېلې صیغې ..... ۲۷۴
شپږ دېرشمه مسئله: تر درود شریف وروسته دعاګانې ..... ۲۷۸
اوه دېرشمه مسئله د سلام ستنولو څلور پینځه طریقې راغلي دي ..... ۲۸۷
اته دېرشمه مسئله: سلام ستنول ..... ۲۸۸
نهه دېرشمه مسئله: تر سلام ستنولو وروسته قوم ته مخ راړول ..... ۲۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د فضيلة الشيخ ابومحمد امين الله البشاوري تقريظ

ان الحمد لله نحمده و نستعينه و نستغفره و نعوذ بالله من شرور انفسنا و من سيئات اعمالنا، من يهده الله فلا مضل له و من يضلل فلا هادی له، و اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريک له، و اشهد ان محمداً عبده و رسوله،

اما بعد!

دا کتاب (زينة الصلاة) ياني د لمانځه ډول او ښايست چې زموږ د کتابونو او کېښتونو نه ورور فريد احمد هلال راټول کړی. ما ولوست چې خواصو او عوامو، سرو او ښځو ټولو لپاره ډېر ګټور دی، هرڅوک چې د خپل عبادت قبلول غواړي د دغه نبوي سنت مطابق لمونځ دې وکړي او خپله خشوع دې هم برابره کړي.

په دې کتاب کې هغه خصوصيات چې زموږ ورور استاد فريد احمد هلال راټول کړي دي

۱ د پښتو ژبه يې فصيحه ده.

۲ د احاديثو ژباړه

۳ د احاديثو تخريج په ډېر تفصيل سره.

۴ مهم مهم تحقيقونه

۵ انصاف او عدل په مسائلو کې

۶ ادبي جملې استعمالول چې فحش او بې ادبه کلمات پکې نشته

۷ نور خصوصيات هم شته چې لوستو سره تعلق لري

الله تعالیٰ دا کتاب زما لپاره او د جمع کوونکي او ترتيبوونکي او ټولو مساعدينو علماوو لپاره د نجات ذريعه وګرځوي او ترتيبوونکي (استاد فريد احمد هلال) ته دې الله تعالیٰ اخلاص ورنصيب کړي او د هغه په ميزان



د حسناتو کې دې واچوي، آمين

د کتاب مسوده د جمعه په شپه جمادي الثانية ۸ عام ۱۴۳۲ هـ باندې په مسجد حمزه. پشاور پاکستان کې ما مطالعه کړه او نوموړي استاد ته مې دعا وکړه، ځکه يوه فايده منده رساله يې عالم النشر والتوزيع ته راويستله. الله تعالیٰ دې ټولو مسلمانانو ته ددې رسالې نه فايده ورکړي

صلی الله علی نبينا محمد و اله و اصحابه اجمعين

ابو محمد امين الله البشاوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ان الحمد لله نحمده و نستعينه و نستغفره و نعوذ بالله من شرور انفسنا و من سيئات اعمالنا، من يهده الله فلا مضل له و من يضلل فلا هادی له، و اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريک له، و اشهد ان محمداً عبده و رسوله،

يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَ لَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ۝ يَاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّ خَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَ بَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيْرًا وَّ نِسَآءً ۚ وَ اتَّقُوا اللهَ الَّذِیْ تَسَآءَلُوْنَ بِهٖ وَ الْاَرْحَامَ ۭ اِنَّ اللهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا۝ يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَ قُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا۝ يُّصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ وَ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ۭ وَ مَنْ يُّطِعِ اللهَ وَ رَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا۝

اما بعد!

قدرمنو لوستونکيو!

لمونځ په اسلام کې داسې ضروري رکن د ی، چې د دې سموالی د ټول دين سموالی او د دې خرابوالی د ټول دين خرابوالی دی. لکه چې رسول الله ﷺ فرمايي

«إِنَّ أَهَمَّ أُمُورِكُمْ عِنْدِي الصَّلَاةَ، مَنْ حَفِظَهَا وَحَافَظَ عَلَيْهَا حَفِظَ دِينَهُ، وَمَنْ ضَيَّعَهَا فَهُوَ لِسِوَاهَا أَضْيَعُ»

مصنف عبد الرزاق الصنعاني (۱ / ۵۳٦)

ژباړه:

چاچې د لمانځه حفاظت وکړ، ده د دين حفاظت وکړ او چا چې لمونځ خراب کړ؛ نو د نورو اعمالو خرابوالی يې هم يقيني دی.

او داسې کس ته بيا ښه سړ ی نه دي ويل پکار، چې لمونځ يې خراب وي، له دې امله په اسلام کې پر لمانځه ډېرسخت ټينګار شوی. لکه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



قران کريم کې نهه اتيا ځل الله ﷻ د لمانځه يادونه کړې ده او لمونځ د قران والاوو ځانګړې صفت دی. لکه چې الله ﷻ فرمايي:

وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَهُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ

ژباړه:

پر اخرت ايمان لرونکي پر قران ايمان لري او د خپلولمونځونو حفاظت کوي.

د الله ﷻ ولايت، دوستي او نږديکت له لمانځه پرته نه تر لاسه کېږي او له لمانځه پرته هيڅ يو کس مسلمان نشي کڼل کېدای. همداشان د جنت يوه دروازه هم د لمانځه په نامه نومول شوې. چې هغې ته((باب الصلاة)) ويل کېږي. ياني هغه دروازه چې په لمانځه سره تر لاسه کېدای شي او دا عمل ډېرزيات مشهور او د الله ﷻ ډېرخوښ دی ؛ خو شيطان ورته سړی نه پرېږدي، د لمانځه ډېرې زياتې ګټې اوفضائل دي، سړی چې د کال په سر کې د حديثو کتاب پيل کړي؛ نو ټول کال د لمانځه پر مسائلو تېرېږي، ځکه د حديثو ډېر کتابونه د لمانځه پر احکامو لګېدلي دي له دې امله موږ ته د لمانځه ډېره پابندي پکار ده او الله ﷻ چې پر يوشي ټينګار کړی دی ؛ نو موږ به ولې پرې ټينګار نه کوو ؟ الله ﷻ دې پر يو شي ټينګار کوي او يوسړی دې پر هغه مسئله زور نه ورکوي دا؛ خو ډېره د نقصان خبره ده

همداشان کله، چې د الله رسول ﷺ وفات کېده دا سې فرمايلي ول چې «الصَّلَاةَ، وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ».

سنن ابن ماجه (۱ / ۵۱۹)

ژباړه:

ای خلکو د لمانځه پابندي کوئ، له مريانو(غلامانو )او بې زوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکوسره ښېګړه کوئ؛

ياني د ژوند په وروستيو شيبو کې يې هم پر لمانځه ټينګار کړی، چې ګورئ لمونځ درڅخه خراب نشي ؛ نو له دې امله د لمانځه اهتمام د متقيانو او مؤمنانو صفت دی، څوک چې د لمانځه پابندي نه کوي دا مسلمان نه دی، دې دومره سخت وعيد ته ګوره الله ﷻ فرمايي

فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوۡفَ يَلۡقَوۡنَ غَيًّا ۝

[مريم: ٥٩]

ژباړه:

په دوی پسې وروسته داسې خلک راغلل، چې لمونځونه يې ضائع کړل او په خپلو هيلو پسې روان شول. ژرده، چې د (غی) کندې سره به مخامخ شي . ياني دداسې کسانو ځای دوزخ دی

او نبي ﷺ فرمايي

«مَنْ تَرَكَ صَلاَةَ العَصْرِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ»

صحيح البخاري (١ / ١١٥)

ژباړه

د مازديګر لمونځ که چا پرېښوده ؛ نو عمل يې برباد شه

پردې خبره اوس مؤمنان پوهېږي چې دعمل بربادېدل څومره لوی تاوان دی. که پر تا زرځله بم راخلاص شي دا دومره تاوان نه دی؛ خو چې عمل دې برباد شه دا لوی تاوان دی. دا چې د لمانځه د نه کولو له امله عمل بربادېږي؛ نو د لمانځه اصلاح ډېره ضروري ده او اوس خپل اصلي مقصدته راګرځم، چې هغه دلمانځه جوړښت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لمانځه جوړښت

لمونځ له دوو برخو څخه جوړ دی، چې يو يې بدن او بل يې روح دی، لکه چې انسان له دوو شيانو يانې له بدن اوروح څخه رغېدلی دی، چې بدن نه وي يواځې روح کار نه کوي، بلکې الوځي، له دې د نيا څخه ځي اوکه چېرته بدن وي؛ خو روح پکې نه وي ؛ نو نه به دې سترګې کارکوي، نه به دې لاسونه او پښې، بيا به دې خلک راکاږي چې مړی دی هدېرې ته يې ورسوئ، او په داسې حال کې بيا ستا قدر په دې کې وي، چې خاوروکې دې ښخ کړي؛ نودارنګه لمونځ هم له جسم او روح څخه جوړدی ؛ نو د دې دواړو ډېر اهتمام پکار دی، جسم د لمانځه ظاهري چوکاټ او ډانچه ده، چې د سنت برابر وي او روح يې په هغې کې خشوع او ادب دی، چې دا يو ځانته جلا علم دی

## د لمانځه روح

قدرمنو لوستونکيو دا ډېرضروري علم دی ؛ خو د خلکو له پامه وتی دی، چې دې ته د علماوو په اصطلاح کې علم الخشوع وايي، خشوع د الله سبحانه وتعالی مخامخ د هغه په دربارکې عاجزی، زاری، تذلل او ځان سپکولو ته وايي، د مومنانو له صفاتو څخه الله ﷻ ته خشوع کول يو ضروري او لوي صفت دی، که څه هم د ډېرو خلکو ګومان دادی، چې خشوع يواځې په لمانځه کې پکار ده او له لمانځۀ پرته نه، سره له دې، چې دا په ټول ژوند کې د مؤمنانوصفت دی، او په مومنانو کې به د تل لپاره خشوع وي، لکه چې الله تعالی فرمايلي دي

وَالْخٰشِعِيْنَ وَالْخٰشِعٰتِ

[الاحزاب: ۳۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه:

مومنان سړي او مومناني ښځې هغه دي، چې په دوی کې به د همیشه لپاره خشوع وي

خکه داجمله اسمیه ده؛ نو په سړیو او ښځو ټولو کې به خشوع وي، چې د دې خشوع ګڼه به نورو ډېرو بندګانو ته هم رسېږي، خشوع هغه ښکلی صفت دی چې په سړي کې نور ښکلي صفتونه پیداکو ي او دا د انبیاعلیهم السلام صفت هم دی، لکه چې الله تعالی فرمايي:

إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا ۖ وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ

[الأنبياء: ۹۰]

ژباړه

یقیناً دغو پېغمبرانو به په نېکیوکې مخکې والی کوه او موږ به يې په وېرې او په مینې سره رابللو او موږ ته يې همېشه عاجزي هم کوله

د دې انبیاوو يوځو ښه صفات ول، چې دوی به دوه درې ښه کارونه کول یو دا وه، چې دوی به هرې نېکۍ ته مخکې والی کاوه؛ نو دا موږ ته هم پکاردي دویم دا چې «وَيَدْعُونَنَا»له ماڅخه به يې دعاګانې غوښتلې او زه به يې په ډېر شوق او په وېرې سره رابللم، داخبرې هسې بیانوو؛ خو چې د زړه کیفیت نه وي برابر پر دې آیتونو څوک نه پوهېږي، چې دزړه کیفیت ددې آیتونومطابق نه وي جوړشوی؛ نو هسې پر الفاظو باندې به پوهه نشي، په هغوی کې دريم صفت خشوع وه هر وخت به يې الله ﷻ ته خشوع کوله، په لمونځونوکې هم اوکله به چې دالله ﷻ آیتونه پرې ولوستل شول؛ نو هم به يې عاجزي کوله او د الله ﷻ له بندګانو سره د مخ کېدو پر مهال او په یواځیتوب کې به يې هم خشوع کوله، لکه چې الله ﷻ د مومنانو په صفت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې فرمايي

اِذَا تُتۡلٰی عَلَیۡهِمۡ اٰیٰتُ الرَّحۡمٰنِ خَرُّوۡا سُجَّدًا وَّ بُکِیًّا

[مريم: ۵۸]

ژباړه

د هغوی صفت داوه، چې کله به ورته د الله آيتونه بيانېدل؛ نو پر سجده به پرېوتل

دا د خشوع يوه نښه ده او د عاجزۍ يوصفت دی، چې په سړي کې راشي؛ نو بيا الله ﷻ ته اوږدې اوږدې سجدې لګوي، عاجزي او ژړا کوي، ځکه په سړي کې چې کله خشوع پيداشي؛ نو بيا ژړا ورځي او د انسان له سترګو اوښکې بهېږي، چې دا د انبيا عليهم السلام صفت و او دا په ځان کې پيداکول پکار دي

قرآن موږ ته د دې لپاره بيانېږي، چې د انبياوو او صالحينو تابعداري وکړو په هغوي کې د خشوع ماده موجوده وه، رب العلمين ته خاشعين ول، په پخوانيو اهل کتابو يهود او نصری وو کې، چې کوم نېکان او صالحين ول، چې پر الله ﷻ باندې يې ايمان راوړی و، په هغوی کې دا صفت و، چې خاشعين لله ول الله ﷻ فرمايي

دغه ايمان والاخشعين لله و، الله ﷻ ته يې هر وخت عاجزي کوله

يواځې په لمانځه کې خشوع کوونکي نه ول، بلکې په هر وخت کې خشوع کوونکي ول، په لمانځه کې؛ خو به هرومرو دا صفت وي او د لمانځه متعلق يې ځکه بيانوو، چې لمونځ محک دی، يو د تجربې ځاي دی او يو تدريب دی په دې کې، چې څوک په ځان کې خشوع پيداکړي؛ نو د الله ﷻ په فضل وروسته هم په ده کې الله رب العزت د خشوع ماده رابنکاره کوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانانو ته پکار ده، چې په لمانځه کې يې څه حال وي؛ نو په بازارونو کې هم بايد هسې وي:

حالة المسلم في صلاته ينبغي ان تكون حالته في السوق كذالک

ژباړه:

د مسلمان حال، چې څنګه په لمانځه کې دی؛ نو پکارده چې په بازارکې هم داسې وي

څکه پر لمانځه سړی په عاجزۍ سره ولاړ وي، چغې نه وهي، زور نه کوي، اخوا دېخوا نه ګوري او د لاډېرې عاجزۍ کوښښ کوي ؛ نو پکار دا ده، چې بازارکې هم سړی داسې اووسي ورو ورو به دا جوړوي، رسول الله ﷺ دې ته اشاره کړې ده، کله چې به يې صف جوړاوه؛ نو ويل به يې:

«اسْتَوُوا، وَلَا تَخْتَلِفُوا، فَتَخْتَلِفَ قُلُوبُكُمْ، لِيَلِنِي مِنْكُمْ أُولُو الْأَحْلَامِ وَالنُّهَى ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ»

صحيح مسلم (١ / ٣٢٣)

ژباړه:

برابر شئ او اختلاف مه کوئ (ګډوډ مه ودرېږئ)کنه: نو زړونه به مو ګډوډ شي، ماته دې پوهه اوعقل مندخلک نږدې ودرېږي، لومړی صف پوره کړئ او بيا وروسته په دويم صف کې نږدې نږدې ودرېږئ او دا يې وفرمايل

وَإِيَّاكُمْ وَهَيْشَاتِ الْأَسْوَاقِ

صحيح مسلم (١ / ٣٢٣)

ژباړه:

په بازارونو کې چغې مه وهئ



په دې حديث کې دوه ماناوې دي، يو مقصد دا دی، لکه څرنګه چې په صف کې په عاجزۍ سره ودرېږي؛ نو په بازارونو کې هم داسې اوسئ هلته هم داسې حالت جوړ کړئ، لکه چې سړی په لمانځه کې وي، که څه هم ټول داسې نشي کېداي؛ خو چې څه ناڅه خشوع بايد له تا سره هلته هم وي

د رسول الله ﷺ په صفاتوکې هم راځي، چې هغه انتهايي خاشع وه په لمونځونوکې خصوصا او له لمانځه نه بهرهم ډېره خشوع اوعاجزي پکې وه تردې، چې يوه وينزه به راغله، چې د وينزې قدر هم نه وي او رسول الله ﷺ ته به يې وويل، چې زما درسره کار دی او له لاسه به يې ونيوه، چې تاته زما يو حاجت دی، پوره يې کړه' نو رسول الله ﷺ به ورته وفرمايل

ياأم فُلَانٍ انْظُرِي أَيُّ الطَّرِيقِ شِئْتِ , فَخَلَّى مَعَهَا حَتَّى قَضَتْ حَاجَتَهَا.

مسند البزار = البحر الزخار (١٣ / ٣٤٧)

ژباړه

اى د فلانۍ مورې وګوره، کومه کوڅه ستاخوښه ده چې زه درسره پرې لاړ شم او ستاحاجت پوره کړم

د الله نبي، چې د عالم سردار دی له يوې وينزې سره به دې د هغې د کار لپاره پاڅېد او خپله به ورسره روان به شو او دا به يې هم نه ويل، چې ته ښځه يې جومات ته ولې راځې؟ ته خو وينزه يې، ګورو به بله ورځ به شي رسول الله ﷺ به داسې نه کول بلکې له ښځو سره به هم تله، چې وينزې به له لستوڼي څخه ونيوه، چې دا زما حاجت پوره کړه: نو له واره به ورسره پاڅېده، الله ﷻ ته به يې هم عاجزي کوله او د الله ﷻ د مخلوق په وړاندې به يې هم تواضع اوعاجزي اختياروله، دا صفت پکې و، په بازارونوکې به يې شور نه کاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لَمْ يَكُنْ فَاحِشًا وَلَا مُتَفَحِّشًا وَلَا صَخَّابًا فِي الأَسْوَاقِ

(سنن الترمذي ت شاكر (٤ / ٣٦٩)

ژباړه:

بدکار او بدلمنی هم نه و او نه يې په بازارونو کې چيغې وهلې.

صخاب دې ته وايي، چې چغې وهي ای فلانکيه؛ دلته راشه اواخوا لاړشه دا د بې وقاره خلکو طريقه ده دا د نبي ﷺ طريقه نه وه، زوږي نه و، رسول الله ﷺ په بازارونوکې عاجزي کوله، په حديث کې راځي، چې رسول الله ﷺ به کله پر لمانځه ودريده عبدالله بن شخيروايي:

«أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُصَلِّي وَلِصَدْرِهِ أَزِيزٌ كَأَزِيزِ الْمِرْجَلِ مِنَ الْبُكَاءِ»

حلية الأولياء وطبقات الأصفياء (٢ / ٢١١)

ژباړه:

چې زه نبي ﷺ ته راغلم او هغه پر لمانځه ولاړ و او د ژړا له امله يې له سينې نه يې داسې غږ راخته، لکه چې کتوی خوټېږي اواوازکوي

دا د الله ﷻ د معرفت له امله د هغه د شان او قدر د پېژندو له امله به پر نبي ﷺ باندې داحالت راتله، څومره چې سړی خپل مالک ښه پېژني ؛ نو هغومره پکې دا صفت ډېرېږي، څومره چې له الله ﷻ نه ناخبره وي؛ نو پر دې به نه پوهېږي

په رسول الله ﷺ کې ډېره زياته عاجزي وه، ډېر ځل به رسول الله ﷺ ژړلې په حديث کې راځي، چې رسول الله ﷺ ماسختن کورته راغی او عائشې ﷺ ته يې وفرمايل:

"يَا عَائِشَةُ ذَرِينِي أَتَعَبَّدُ اللَّيْلَةَ لِرَبِّي"



صحيح ابن حبان - محققا (٢ / ٣٨٧)

ژباړه:

ما پرېږده، چې نن ټوله شپه د الله ﷻ بندګي وکړم

کله به هغه ټوله شپه هم بندګي کوله اکثره به د شپې په وروستۍ برخه کې راپاڅېده، کله چې د زړه کيفيت جوړ وي ؛ نو بيا عبادت ډېر خوندکوي، د نبي ﷺ د زړه به څه تپوس کوې، چې په هغې کې څومره ژوروالی اوکمالات ول، چې د هغې تعبير موږ نشوکولای

نبي ﷺ ټوله شپه لمونځونه کول او ژړل يې ان تردې، چې لاندې ځمکه به يې پر اوښکو لونده شوه، سهار، چې بلال ﷺ راغی او نبي ﷺ يې په دې حالت کې وليده وه يې ويل ای د الله رسوله؛ تا ته؛ خو الله ﷻ ښښنه کړې ده ((مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَ مَا تَأَخَّرَ)) ته ولې دومره غم کو ې، نبي ﷺ ورته وفرمايل

پر ما باندې بېګاه شپه داسې آيتونه نازل شوي دي، چې هغه انسان دې هلاک شي چې دا لولي او سوچ اوفکر پکې نه کوي

وَيْلٌ لِمَنْ قَرَأَهَا وَلَمْ يَتَفَكَّرْ فِيهَا { اِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ وَ اخْتِلَافِ الَّيْلِ وَ النَّهَارِ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِي الْاَلْبَابِ ۝ الَّذِيْنَ يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ قِيٰمًا وَّ قُعُوْدًا وَّ عَلٰى جُنُوْبِهِمْ وَ يَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا سُبْحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ۝ رَبَّنَآ اِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ اَخْزَيْتَهٗ وَ مَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ۝ رَبَّنَآ اِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُّنَادِيْ لِلْاِيْمَانِ اَنْ اٰمِنُوْا بِرَبِّكُمْ فَاٰمَنَّا رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَ كَفِّرْ عَنَّا سَيِّاٰتِنَا وَ تَوَفَّنَا مَعَ الْاَبْرَارِ ۝ رَبَّنَا وَ اٰتِنَا مَا وَعَدْتَّنَا عَلٰى رُسُلِكَ وَ لَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ۝ فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ اَنِّيْ لَاۤ اُضِيْعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنْكُمْ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى ۚ بَعْضُكُمْ مِّنْ بَعْضٍ ۚ فَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَ اُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَ اُوْذُوْا فِيْ سَبِيْلِيْ وَ قٰتَلُوْا وَ قُتِلُوْا لَاُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَ لَاُدْخِلَنَّهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۚ ثَوَابًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ وَ اللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الثَّوَابِ ۝ (۱۹۵) لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِي الْبِلَادِ ۝ مَتَاعٌ قَلِيْلٌ ۟ ثُمَّ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ وَ بِئْسَ الْمِهَادُ ۝ لٰكِنِ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا نُزُلًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ وَ مَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّلْاَبْرَارِ ۝ وَ اِنَّ مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَمَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَ مَاۤ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ وَ مَاۤ اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ خٰشِعِيْنَ لِلّٰهِ ۙ لَا يَشْتَرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ۝ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اصْبِرُوْا وَ صَابِرُوْا وَرَابِطُوْا ۟ وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝ } [آل عمران : ۱۹۵]

صحيح ابن حبان - محققا (۲ / ۳۸۷)

په دې آيتونوکې ډېره ژوره مانا پرته ده؛ خو که مؤمن پرې پوه شي، خپل زړه او ماغزه ورته ځير کړي؛ نو ډېر نااشنا کيفيت او حال به د هغه جوړشي ؛ خو ارمان! که زموږ داسې وای، د ايمان والا، چې کوم صفات دي، هغه موږ په ځان کې نه وينو موږ داسې يو، لکه منافقان هسې کاږه لرګي يو ((كَاَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ ؕ)) هغه کاږه لرګي، چې بې ګټې يوځای ته ولاړوي، زموږ د عامو مسلمانانو داسې عادت جوړشوی دی او د خشوع والاعلم ختم شوی دی.

يو ځل رسول الله ﷺ ټوله شپه ژړل عبادة بن الصامت. ځکه فرمايلي دي، چې داعلم ختمېږي او قتادة وايي تاسې ته پته ده، چې کوم علم به اول ختمېږي.

«أَوَّلُ مَا يُرْفَعُ مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ الْخُشُوعُ حَتَّى لَا يُرَى فِيهِ خَاشِعًا»



مسند الشاميين للطبراني (۲ / ٤٠٠)

ژباړه:

لومړی به له دې امت نه د خشوع علم پورته کېږي

دا حديث موقوف بمنزلة المرفوع دی، بل حديث د شداد بن اوس کې هم راغلي. چې له دې امت نه تر ټولو لومړی د خشوع علم او چتېږي، خشوع ته يې علم ويلی دی دا علم دی ډېرې مسئلې يادول دا ښه کار دی؛ خو دا يوازې علم نه دی، چې خشوع درېکې پيداشوه ته عالم يې اوالله ته چې په سړي کې عاجزي نه وي، د زړه ميلان او شوق نه وي هغه طرف ته سرښکته کول نه وي او د خشوع به سړی څه تعبيرکوي پوره، لکه ځينې مادې زه ذکرکوم، چې دا درېکې نه وي؛ نو علم درېکې نشته له اصلي علم نه بې برخې يې. که څه هم تاته ډېر کتابونه زده وي او ډېرې مسئلې درته يادې وي او ډېر روايتونه درته يادوي؛ خو له اصلي علم نه محروم يې. خپل مالک او رب ته، چې درېکې عاجزي نه وي؛ نو له تا سره علم نشته. له دې امت نه به اول خشوع اوچتېږي او دا له دې امت نه غالباً اوچته شوې ده، په عامو ځايونو کې خشوع کوونکي نشته، د دې کفارو د ليدو له امله خشوع ختمه شوې ده، ځکه دا ډېر بې وقاره خلک دي؛ نو د دې په ليدوسره له مسلمانانو نه هم خشوع ختمه شوې ده، هغه عاجزي، سکون او وقار ترې ختم شوی دی. مؤمن به سکون وقار او خشوع والاوي عبادة بن الصامت فرمايي:

يُوشِكُ أَنْ تَدْخُلَ مَسْجِدَ الْجَمَاعَةِ فَلَا تَرَى فِيهِ رَجُلًا خَاشِعًا

سنن الترمذي ت شاکر (٥ / ۳۲)

ژباړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نږدې ده، چې يوجامع جومات ته به داخل شې؛ خو يوكس به هم پكې خشوع كوونكى ونه وينې

ياني په يوه جامع جومات كې به داسې سړى نه وينې، چې هغه الله ﷻ ته ولاړوي او له الله ﷻ څخه وېرېږي، بلكې د هرچامخ ته چې ګورې؛ نو ته به وايې چې دا الله ﷻ ته نه دى ولاړ هسې ولاړدى، خشوع به هغه كې نه وي او كله، چې په سړي كې خشوع و ي؛ نو بل چا ته هم د هغه لمونځ خوند وركوي؛ نو ده ته به خپله ځومره خوندوركو ي ؛ خو له بده مرغه په ډک جومات كې به يو خشوع كوونكى مونده نه كړ ې؛ نو دا علم اوچت شوى دى؛ نو دا بېرته راواپس كول پكاردي او كه سړى كوښښ وكړ ي؛ نو الله ﷻ هغه ته دا لاره راخلاصوي؛ نو له دې امله څوک چې كوښښ كوي الله ﷻ يې ور په برخه كوي

وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا

[العنكبوت: ٦٩)

ژباړه:

هغه څوک چې زموږ په لار كې كوښښ كو ي؛ نو موږ به ورته لارې اسانې كړو

له دې خبرې نه زما غرض دا دى، چې كه پوره خاشعين نه شو؛ نو چې څه ناڅه؛ خوجوړشو او چې په دې لړ كې سړى ډېركوښښ وكړ ي؛ نو څه ناڅه خشوع؛ خو به ترلاسه كړي دا په ځان كې پيداكول غواړي. دا خشوع په صحابه كراموكې هم ډېره زياته وه

ابوبكرصديق ؓچې به كله پر لمانځه ودرېده؛ نو دا طاقت به يې نه درلوده، چې خلكو ته خپل قرائت ورواوروي، نبي ﷺ په مرض وفات كې



وفرمايل:

«مُرُوا أَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ»

صحيح البخاري (١ / ١٣٤)

ژباړه:

ابوبكرته ووايئ چې خلكوته لمونځ وكړي

قَالَتْ عَائِشَةُ: قُلْتُ: إِنَّ أَبَا بَكْرٍ إِذَا قَامَ فِي مَقَامِكَ لَمْ يُسْمِعِ النَّاسَ مِنَ الْبُكَاءِ

صحيح البخاري (١ / ١٣٦)

ژباړه:

عائشې ؓ وويل: ابوبكر، چې كله ستا پر مسله ودرېږي؛ نو د ژړا له امله به خلكو ته قرائت وانه ورولاى شي (ياني لمونځ به ونه كړاى شي)

ځكه د هغه عادت داوه، چې رقيق القلب وه انتهايي نرم زړى وه دا به خلكو ته قرآن وروانه وروي، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل، چې امر ورته وكړئ نبي ﷺ غصه وكړه ((إِنَّكُنَّ لَصَوَاحِبُ يُوسُفَ )) تاسې د يوسف ؑ ملګري ياستئ د هغه د دوكه كولوښښ مو كاوه او اوس مادوكه كوئ. زه چې څه امركوم د هغې تابعداري ولې نه كوئ؟

د حديث لنډيز مې بيان كړه د رسول الله ﷺ په ملګروكې دا كمال وه، په ابوبكرصديق ؓكې دومره خشوع وه، كله چې به پر لمانځه ودرېده؛ نو د يوه بې ساه لرګي په څېر به ښكارېده، ياني په لمانځه كې به هيڅ نه خوځېده

عبدالله بن زبير ؓچې به كله پر لمانځه ودرېده داسې به وه، لكه چې ونه ولاړه وي ډېرځلې به داسې وشول، چې دى به پر سجده پروت و، چنچنې به راتلې او د ده پر شا به كېناستې. ډېره اوږده سجده به يې كوله ؛ نو ځكه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرغيو به پرې د لرګي ګومان کاوه، چې ګونډې دا پر ځای پروت لرګی دی. چې له سره حرکت نه کوي او انسان نه دی، په دې خلکو کې به دومره خشوع وه

عبدالله بن عمر ﵁ به چې کله پر لمانځه ودرېده يرجع ويتاوه آيتونه به يې باربارلوستل اواسويلي به يې کول، له دې نه په لمانځه کې هسې غيراختياري اسويلي مراد دي، چې د ډېرې خشوع له امله به پرې راتلل، په صحابه کراموکې ډېره خشوع وه، له سفيان ثوري نه نقل دي منصوربن المعتمر يو حديثپوه (محدث) دی هغه چې به کله لمانځه پر باندې ودرېده؛ نو تابه ويل، چې اوس به مري

ابراهيم نخعي، چې يو تابعي دی، هغه به چې کله لمونځ وکړه او له لمانځه نه به اوزګار شو ؛ نو تر ډېره پورې به داسې وه ګواکې ناروغ دی له ډېروسلفونه نقل دي، چې کله به هغوی له لمانځه نه اوزګار شول؛ نو د لمانځه اثر به پرې ښکارېده، پکار دا ده سړی له لمانځه نه مخکې يوشان وي او په لمانځه کې بدل شي او تر لمانځه روسته هم پکې دغه آثار ولېدل شي، ځکه شريعت مطهره دا امرکړی دی، چې د لمانځه څه نښې دې پر تاسې ښکاره شي: خو زموږ داسې مزاج جوړشوی دی. څنګه چې له لمانځه نه مخکې وي: نو تر لمانځه وروسته هم هماغسې وي. په دې لړ کې عمر بن الخطاب ﵁ فرمايلي دي

إِنَّ الرَّجُلَ لَيَشِيبُ عارضاه في الاسلام ولم يكمل الله له صلاة .

ژباړه

د يوه سړي ږيرې څنې به په اسلام کې سپينې شي: خو الله ﷻ به ورلره تراوسه لمونځ نه وي پوره کړی

ځکه د هغه به خشوع نه وي برابره، د لمانځه څه غم به ورسره نه وي دا



لمونځ به ورته څه شی نه ښکاري، چې دې ناروغۍ موږ ټول اوس نيولي يو او خپل لمونځونه موږ ته وړوکې ښکاري او سلفو ويلي دي

من هانت عليه صلاته كانت على الله اهون

ژباړه:

چا ته، چې خپل لمونځ سپک ښکاري: نو د هغه لمونځ الله ﷻ ته هم ډېر سپک وي

نوهغه به يې څه قبول کړي حسن به ويل ای مسلمانه!

اذا هانت عليک صلاتک فا ي شيئ يعزعليک؟

کله چې درته لمونځ سپک او بې قدره ښکاري؛ نو تا ته به کوم شی قدرمن وي، ځکه چې لمونځ درته وړه خبره ښکاري، چې دا تر ايمان وروسته لوی عمل دی او چې دا درته وړوکی ښکاري، نه يې رکوع او نه يې قرائت او نه يې د خشوع پروا کوې؛ نو په دې دين کې کومه خبره ده، چې تاته غټه ښکاره شي، چې لمونځ سړي ته سپک ښکاري د هغه به ټول اعمال خراب وي او په حديث کې راغلي دي

«إِنَّ أَهَمَّ أُمُورِكُمْ عِنْدِي الصَّلَاةَ، مَنْ حَفِظَهَا وَحَافَظَ عَلَيْهَا حَفِظَ دِينَهُ، وَمَنْ ضَيَّعَهَا فَهُوَ لِسِوَاهَا أَضْيَعُ»

مصنف عبد الرزاق الصنعاني (١ / ٥٣٦)

ژباړه:

چاچې د لمانځه حفاظت وکړه، ده د دين حفاظت وکړه او چا چې لمونځ خراب کړه ؛ نو د نورو اعمالو خرابوالی يې هم يقيني دی

عمربن الخطاب واليانوته ليکلي ول، چې ستاسې په ټولو عملونو کې لمونځ ما ته ډېرمهم دی، هسې نه، چې ووايئ موږ قاضيان او واليان يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



فيصلې به کوو لمونځ څه مهم عمل نه دی، بلکې خلافت هم د دې لپاره راځي، چې خلک لمونځ کوونکي شي

مَنْ حَفِظَهَا وَحَافَظَ عَلَيْهَا حَفِظَ دِينَهُ، وَمَنْ ضَيَّعَهَا فَهُوَ لِسِوَاهَا أَضْيَعُ

مصنف عبد الرزاق الصنعاني (١ / ٥٣٦)

ژباړه:

چا چې د لمانځه حفاظت وکړه؛ نو دا د نورو عملونو هم ډېر حفاظت کوونکی دی او که لمونځ چا خراب کړه؛ نو نور عملونه به يې هم ناسم وي

داسې کس ته بيا ښه سړی مه وايه، چې لمونځ يې خراب وي، هغه امام چې لمونځ يې غلط وي، ته پوه شه، چې داخيانتګر هم د ی، هغه به درته صحيح دين نه درښيي، په هغه کې به نور ناوړه عملونه او فسادونه هم وي، چې کله يې لمونځ خراب وي او دې آيتونوته تاسې اوګورئ چې موږ بيان کړل الله رب العزة يو اتياځله د مؤمنانو په صفت کې دا ذکرکړي دي چې دوی د لمانځه حفاظت کوي

الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ۝ وَهُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ۝ د ټولو لمونځونو حفاظت کوي، الَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ دَآئِمُوْنَ ۝ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ. يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ. دلمانځه پابندي کوي، اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ. د لمانځه پابندي کوئ څوک چې د لمانځه پابندي نه کوي وَوَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِيْنَ ۝ الَّذِيْنَ لَا يُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ د هغه مشرکانولپاره دې هلاکت وي چې زکوة نه ورکوي الله رب العزة دا د مشرکانو صفت بيان کړی دی، چې د لمانځه پابندي نه کوي لمونځ او په لمانځه کې خشوع پيداکول او په صحيح توګه يې اداکول يو ضروري عمل دی که چاته ضروري نه ښکاري؛ نو په غټ نقصان کې واقع دی او ډېر غټ تاوان يې وکړه او دا حديث يو



مسلمان پوره ويروي، چې رسول الله ارشادوفرمايه

أَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الصَّلَاةُ

مسند أبي داود الطيالسي (٤ / ٢١٣)

ژباړه:

د قيامت په ورځ به له بنده سره لومړی د لمانځه حساب کېږي

ياني د قيامت پر ورځ تر هر څه لومړی د لمانځه په اړه حساب کېږي ګوا کې که له ايمان نه هم مخکې د لمانځه حساب کېږي، لکه، چې له ((أَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ)) نه معلومېږي، چې کافر هسې هم هلاک دي؛ خو له هغه چا سره د لمانځه لومړی حساب کېږي، چې مسلمانان ځان ته وايي ياني الله ﷻ به له دې امت سره لومړی حساب د لمانځه په اړه کوي او، چې د بنده ګانو تر منځ لومړنی پرېکړه(فيصله) به د توی شويو وينو، په اړه کېږي، لکه چې فرمايي:

«إِنَّ أَوَّلَ مَا يُقْضَى بَيْنَ الْعِبَادِ فِي الدِّمَاءِ»

سنن الترمذي ت شاکر (٤ / ١٧)

ياني لومړی حساب به دلمانځه په اړه کېږي او لومړنی پرېکړه به د توی شوې وينې په اړه کېږي او په ميزان کې به لومړی د ښځې او مېړه حقونه تلل کېږي، چې تا د ښځې حق اداکړی دی اوکه نه اوښځې د مېړه حق اداکړی دی که نه؟ دا برخه به لومړی تلل کېږي او په ميزان کې به اچول کېږي ؛ خو دې دې خبرو ته له سره د چا فکر نشته او دا ورته وړې خبرې ښکاري، سره له دې، چې دا لويه خبره ده کومې مسئلې، چې موږ ته وړې ښکاري دا د الله ﷻ په اند لويې دي؛ نو اول به له بنده سره د لمانځه په اړه حساب کېږي، که د چا لمونځ روغ راوخوت : نو دا کامياب شو، لکه چې فرمايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



فَإِنْ صَلَحَتْ فَقَدْ أَفْلَحَ وَأَنْجَحَ

سنن الترمذي ت شاكر (٢ / ٢٧٠)

ژباړه:

که لمونځ يې روغ وه؛ نو دا کامياب دی.

ياني د لمانځه فرضونه يې سم اداکړي وي، سنن او اداب يې هم برابروي او د لمانځه د ظاهر اوباطن جوړولو کوښښ يې هم کړی وي؛ نو دا کامياب دی، يقيناً او نجاح دويمه د جنت کاميابي ده او د الله ﷻ په ملاقات بريالی شو.

((أَفْلَحَ وَأَنْجَحَ)) دوه ببلابېل لفظونه يې وويل، ياني نجاح جلا او فلاح جلا ده دا به ورته الله ﷻ ورکړي نورو ګناهونو ته ورلره الله ﷻ نه ګوري، تاسې په دې حديث کې سوچ وکړئ او که د چا لمونځ فاسد راوخوت، چې د هغې د فرضونو، الفاظو او د هغې د خشوع لحاظ يې نه وي کړی؛ نو دا تاواني دی، لکه چې فرمايي:

وَإِنْ فَسَدَتْ فَقَدْ خَابَ وَخَسِرَ

سنن الترمذي ت شاكر (٢ / ٢٧٠)

ژباړه

يقينا دا خپل مراد ته ونه رسېد او تاوان يې وکړه.

الله ﷻ به ورته اجرهم نه ورکوي او تاوان يې هم وکړه، چې اور ته به يې الله ﷻ ننباسي (خسر) همدغې ته وايي او د الله ﷻ فضل ته وګوره که په فرض لمانځه کې يې څه کمی وموندل شي ؛ نو الله ﷻ به ملائکو ته امر وکړي، تاسې وګورئ ! زما د دې بنده څه تطوعات، نوافل، سنت، شته اوکه نه؟ نو هغه به وکتل شي که سنت يا نفلونه يې کړي وي؛ نو هغه به الله ﷻ راوخلي او



له دې فرائضو سره به يې ورلره يوځای کړي، دې ته به پرې پتې، واچول شي دا هم د الله ﷻ رحم دی، چې د فرض عمل نيمګړتيا يې په نفلونو بشپړوي، بيا به هم دا انسان کامياب شي اوکه نوافل يې نه و؛ نو بيا هم تاواني دی، الله ﷻ به ورته سزا ورکوي، څومره چې د الله ﷻ خوښه وي : نو له دې امله لمونځ د ځينو خلکو لپاره د کاميابۍ لامل شي او ځينې هغه لمونځونه دي چې انسان پرهغې ماجور شي او دريم هغه لمونځونه دي، چې د اجراو عدم الاجر په منځ کې دائر وي، چې کله يکې توجه شته او کله نه؛ نو دا د الله ﷻ خوښه ده، چې تاته پرې اجر ورکوي او که د داسې د دواړو حالتونو تر منځ دې پرېږدي ؛ نو د الله ﷻ رحم دا دی، چې په کوم لمانځه کې دې توجه شته هغه دې قبلوي او په کوم کې، چې دې توجه نشته؛ نو هغه درلره نه قبلوي، ياني لمونځ دې پر برخو ويشي، لکه په صحيح حديث کې راغلي دي، نبي ﷺ فرمايي:

إِنَّ الْعَبْدَ لَيَنْصَرِفُ مِنْ صَلَاتِهِ , وَمَا كُتِبَ لَهُ مِنْهَا إِلَّا عُشْرُهَا أَوْ تُسْعُهَا أَوْ ثُمْنُهَا أَوْ سُبْعُهَا أَوْ سُدْسُهَا أَوْ خُمْسُهَا أَوْ رُبْعُهَا أَوْ ثُلُثُهَا أَوْ نِصْفُهَا "

شرح مشكل الآثار (٣ / ١٣٦)

ژباړه:

يوکس به له لمانځه څخه راستون شي او ده لره به لسمه، نهمه، اتمه، اومه، شپږمه، پنځمه، څلورمه، دريمه او يا نيمايي برخه ليکل شوې وي

له دې روايت څخه معلومېږي د ځينو خلکو په لمانځه کې به لسمه برخه ايله قبوله شوي وي؛ نو کوښښ پکار دی، چې صحيح لمونځ وشي، کله چې پر دې پوه شوې؛ نو خپله به بيا کوښښ کوې، دا فکر وکړه، چې که دې لمانځه کې خشوع، او عاجزي او الله ﷻ ته توجه ونکړم؛ نو الله ﷻ يې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبلوي او دا لمونځ به مالره وبال وي او که په ښې ښکلې طريقې سره يې وکړم؛ نو په دې کې زما د دنيا او اخرت کاميابي ده. بيا به دريکې دالله ﷻ په فضل سره خپله خشوع پيداشي او بيا بيا د خشوع په اړه بيانونه اورېدل پکاردي، خپله مطالعه کول پکاردي او يا د قرآن او حديث دا نصوص ځانته رايادول پکار دي، په دې آيتونو او حديثونو کې دا برکت دی، د الله ﷻ په فضل سره په سړي کې خشوع پيداکوي، دا خبرې چې تاسې اوس واورېدې؛ نو تر ډېرې مودې پورې به د دې اثر وي؛ نو د دې بيا بيا تازه کول پکاردي.

د دې ذريعه داښکاري، چې د الله ﷻ هيبت په زړه کې راغی او د هغه وېره پيداشوه او د دې لمانځه سره دې شوق پيداشه، په خپله به د الله په فضل دا خبرې درپکې پيداکېږي او د دې لپاره يوه ښه ذريعه دا هم ده، چې له الله ﷻ څخه دعا وغواړئ او د دې لپاره دعا غوښتل پکاردي، چې يا الله دا لمونځونه موبرابرکړې. جهاد مو ونه کړ او مال موهم ونه لګاوه؛ نو چې دا لمونځ هم راڅخه برباد شي؛ نو له موږ سره نور څه شی پاتې شو؛ نو دا دعا وغواړه او يوه ښه ذريعه يې داهم ده، چې لمانځه ته وختي راځه، کله چې سړی وختي راشي، په صف کې کېني، ذکر اذکار وکړي، تلاوت وکړي، دعاګاني وکړي؛ نو په لمانځه کې يې د الله ﷻ په فضل څه ناڅه خشوع پيداکېږي

په لمانځه کې د خشوع پيدا کېدو دا هم ذريعه ده، چې سړی وختي لمانځه ته راځي، له دې امله نبي ﷺ د هرلمانځه نه مخکې څه نوافل او سنت ښودلي، لکه د اذان او اقامت تر مينځ دوه رکعته کوئ، يا زيات کوئ، د دې لپاره چې دې فرض لمانځه ته تيار شئ

دلته مو له لنډيز څخه کار واخيست؛ خو مؤمن ته اشاره هم بس ده، الله



تعالی فرمايلي دي

قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝

[المومنون: ۱]

ژباړه

يقينا مؤمنان کامياب دي

الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ۝

[المومون: ۲]

هغه کسان چې په لمونځونوکې خشوع کوي

وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ۝

[المومون: ۹]

هغه کسان، چې د لمانځه حفا ظت کو ي، لحاظ يې ساتي او هغه ښايسته کوي.

که يو امام غلط لمونځ کوي: نو په هغه پسې لمونځ نه کېږي، ياني که رکوع يې غلطه وي او فاتحه ورپسې نه ويل کېږي، ځکه د جَمعې لمونځ؛ خو د دې لپاره وي، چې د سړي لمونځ دې صحيح شي او چې په جَمع کې د يوه سړي لمونځ خرابېږي؛ نو بيا په داسې جَمع څوک څه کوي، د جَمعې دا مقصد دی، چې په کورکې ته لمونځ کوې؛ نو ژر ژر به يې کوې؛ نو په جَمع کې به يې ته ښه کوې، چې کله په جومات کې لمونځ غلط کېږي؛ نو دې ته بياڅه ضرورت دی، رسول الله ﷺ فرمايي

داسې امامان به راشي چې لمونځونه به غلط کوي، بې وخته به يې کوي؛ نو صحابه وو ﷺ پوښتنه وکړه، چې ای د الله رسوله! ﷺ په داسې حال کې موږ څه وکړو؟ نو هغه ﷺ وفرمايل لمونځ کوئ او بيا که مو له وسه پوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه ؛ نو له هغوی سر ه يې هم کوئ اوکه نه وه؛ نو همدغه لمونځ دې پوره دی؛ نو هرکله، چې د وخت په اړه دومره ټينګار ر اغلی دی، چې ځانله لمونځ کوه؛ نو چې د يوه کس رکوع او سجده خرابه وي؛ نو دا خو په لمانځه کې ډېر ضروري رکن دی، چې دا يې سم نه وي؛ نو په ده پسې لمونځ نه کېږي، له دې امله د خپل لمانځه د حفاظت ډېر کوښښ پکار دی، دا عمل ضروري وګڼئ اوکوښښ ورپسې پيل کړئ؛ نو الله ﷻ به درته نور نېک عملونه اسان کړي

رب العلمين ته سړی په عاجزۍ او په ادب ودرېږي د خالق ادب. هغه ته عاجزي او هغه ته په عاجزۍ او وېرې سره ودرېدل د لمانځه روح دی او لمونځ، چې دې جوړشه بيا به هرڅه پرېږدې؛ خو لمونځ به نه پرېږدې. خپله به دې داسي مزاج جوړشي، چې هرڅه پرېښودل به درته ښه ښکاري؛ خو د لمانځه پرېښودل به درته بد ښکاري، په لمانځه کې ډېرزيات کمال او خونددی، علماوو ويلي دي، که لمانځه. ذ کر او قرآن درله خوند درکاوه او په قرآن کې دې توجه الله ﷻ ته پيداکېده؛ نو پوه شه، چې ستا زړه جوړدی او الله والايې ؛ خو که په لمانځه کې دې الله ﷻ ته توجه نه تله. دا الله ﷻ ذکر درله مزه نه درکوله، قران درلره نه درکوله؛ نو له الله ﷻ څخه بل زړه وغواړه، بيا ته بل څه شی يې. په ظاهره باندې انسان يې. نوم درباندې د مسلمان يادېږي او زړه دې د منافقانودی، دا ترماتېر او ميزانونه دي. پر دې ځان تلل پکاردي، لنډه دا چې د لمانځه روح او جسددواړه برابرول پکاردي

زه له الله ﷻ نه غواړم، چې زموږ دا عملونه سم کړي، څکه چې زموږ په دې ملګرو او دې جماعت کې هم الله ﷻ ته عاجزي نه و ي؛ نو بيا څه پاتې شو، له دې امله د دې لپاره دعا وغواړئ، کلکه اراده او کوښښ وکړئ

په پای کې له الله ﷻ نه غواړم، چې زموږ لمونځونه صحيح برابرکړي اوخشوع پکې پيداکړي



## د خشوع د پيدا کېدو اسباب

د خشوع د پيدا کېدو ډېراسباب دي، چې څينې له هغې نه دادي:

لومړی سبب: قوي باعث

دا د الله عز وجل خوف دی، څکه کله چې زړه په خوف سره ودان وي ؛ نو له دې سره خشوع پيدا کېږي او يواځې دا سبب هم بس دی، په سلفو کې به، چې څوک لمانځه ته ودرېدل ؛ نو ويرېدل به

دويم سبب: دَ مانع کمزورتيا

دا هغه شی دی، چې خشوع خرابوي، لکه لوږه، بول، براز او داسې نور نبې کريم ﷺ دې ته په خپلې دې وينا سره اشاره فرمايلې:

(( کله، چې د ماښامي خوراک حاضر شي او دَ لمانځه اقامت و شي ؛ نو تاسې لومړی خواړه وخورئ))

په بل ځای کې فرمايي:

«لَا صَلَاةَ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ، وَلَا هُوَ يُدَافِعُهُ الْأَخْبَثَانِ»

صحيح مسلم (۱ / ۳۹۳)

ژباړه:

په هغه وخت کې لمونځ نشته، چې خواړه تيار وي (په دسترخوان پراته وي) او په هغه وخت کې هم لمونځ نشته، چې دوه خبيث شيان - بول او براز - درله ديکې درکوي.

له دې امله مسلمان ته پکار دي، چې د زړه په اوزګارولو سره لمانځه ته اودرېږي.

دريېم سبب:

دا چې قرآن په لوړ غږ لولې،، چې لږ تر لږه خپله :خو يې واوري، څکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دا پر زړه ډېر اثر کوي او د هغه چا لمونځ هم نه کېږي، چې هغه خپلې شونډې پر قرات نه خوځوي (. لکه فتاوي الدين الخالص ۴/۴۸) وګوره

څلورم سبب

څه چې وايي، په هغې کې سوچ کوه او دې ته هم ځير شه، چې ته دا مهال په لمانځه کې کوم ځای ته ورسېدې، يانې لا په ثنا کې روان يې او که نه تر فاتحې رسېدلی يې

پنځم سبب:

د قراءت، ذکرونو او تسبيحاتو پر مانا پوهېدل

ابن عباس (رضي الله عنهما) فرمايي: ستا له لمانځه نه به يواځې هغه شی تاته ملاوېږي، چې ته پرې پوهېږې (بخاري)

او پوهه پر عربۍ ژبه باندې د پوهېدلو ځانګړې د لمانځه د الفاظو په پېژندنه باندې ده

شپږم سبب:

هغه آيتونه او حديثونه لوستل، چې په هغې کې د خشوع او خضوع کولو ترغيب او هڅونه وي، ځکه دا ډېر سودمن دي

اووم سبب

دا احساس کول، چې کوم لمونځ ما پيل کړی او د کوم لمانځه په اقامت کې، چې ما کوښښ کړی، ددې ثواب به ماته يواځې د خشوع کولو په صورت کې راکړ کېږي

اتم سبب: مجاهده کول

او دا تر ټولو قوي سبب دی، ځکه چې خشوع په پيل کې له مجاهدې پرته نه تر لاسه کېږي، بيا وروسته د الله ﷻ په توفيق سره د لمونځ کونکي هيئت وګرځي، مومن دې پرې تجربه وکړي، ځکه که لمونځ کوونکی دا



وغواړي، چې دده په لمانځه کې دې دنيوي فکرونه رانشي؛ نو دا ورته ډېر ګران کار دی او له دې دنيوي فکرونو څخه خلاصون بلا ډېرې مجاهدې ته اړتيا ده.

نهم سبب: هر لمونځ خپل وروستی لمونځ ګڼل

لکه په حديث کې دي (د رخصتېدونکي په څېر لمونځ کوه)

او الله تعالی فرمايي:

الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَاقُوا رَبِّهِمْ وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ رَاجِعُونَ

(البقره: ٤٦)

ژباړه:

چې پر دې يې باور دی، چې په پای کې له خپل رب سره يو ځای کېدونکي او د هماغه لوري ته ورګرځېدونکي دي.

او دَ خشوع په پيدا کولو کې د لمونځ کوونکي لپاره دا فکر ډېر زيات اثر لري

لسم سبب: د لمانځه په ارکانو کې بېلابېل ذکرونه او دعاګانې لوستل

يانې کله يکې يو ذکر او دعاء او کله بله دعاء لوستل، ځکه دا په خشوع پيدا کولو کې ډېر لاس لري ګڼې په يوه ذکر همېشوالی زړه سختوي او زړه ورسره آموخته کېږي؛ نو بيا پرې اثر نه کوي

يولسم سبب: د عبوديت آداب

او هغه آداب اختيارول، چې رسول الله ﷺ په خپل سپېڅلې سنت کې مشروع کړې، لکه د ارکانو تعديل، لمونځ اوږدول، سجده اوږدول او له حيواناتو سره ورته والی نه اختيارول

دولسم سبب: په لمانځه که اوږد قيام او قراءت کول خشوع پيدا کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خکه په لنډ لمانځه کې ډېره لږه خشوع کېدلای شي او پر دې باندې تجربه ګواه ده.

دیارلسم سبب: د وړې او تمې آیتونه، ذکرونه او دعاګاني بیا بیا لوستل.

لکه، چې رسول الله ﷺ به کله یو آیت په ټوله شپه کې لوستو او هغه دا آیت و:

﴿إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ﴾
(المائده ۱۱۸)

ژباړه

که چېرې دوی ته عذاب ورکوې: نو دوی ستا بندګان دي، اوکه بښنه ورته کوې: نو یقینا ته غالبه، حکمت والایې)

قدرمنو لوستونکیو داچې لمونځ یو ارزښتمن عبادت دی: نو څومره چې یو شي ارزښتمن وي، هومره یې له خلکو سره فکر وي، هسې نه چې خراب نشي :نو همداشان شیطان: خو لومړی په دې هڅه کې وي، چې له سره څوک ترې جومات ته رانشي او دا داسې دښمن دی، چې تر پایه خپل کوښښ نه پرېږدي، که یو څوک تر جوماته راشي؛نو بیا هم په دې هڅه کې وي، چې لمونځ یې خراب کړي، چې ستړی پرې شي: خو له ثواب نه یې بې برخې پاتې شي او خپل لمونځ پرې لعنت ووایي

دا چې له دې ځایه د لمانځه احکام شروع کېږي:نو په دې کې تر ټولو لومړی حکم د سترې دی، که یو څوک په امام پسې په جمعه ولاړ وي، بیا: خو څه ستونزه نشته، ځکه هماغه امام دده لپاره ستره ده؛ خو که یوازې لمونځ وي ؛نو په دې اړه احکام په لاندې ډول بیانېږي



## لومړی مسئله: ستره ودرول

سترې ته لمونځ کول لازم اوضروري دي. له سترې نه پرته لمونځ کول ګناه ده په دې اړه ډېرحدیثونه او اثار راغلي دي، چې ټول د سترې پر وجوب او فرضیت دلالت کوي

۱: عن ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- : « لاَ تُصَلُّوا إِلاَّ إِلَى سُتْرَةٍ، وَلاَ تَدَعْ أَحَدًا يَمُرُّ بَيْنَ يَدَيْكَ، فَإِنْ أَبَى فَقَاتِلْهُ، فَإِنَّ مَعَهُ الْقَرِينَ»

السنن الكبرى للبيهقي وفي ذيله الجوهر النقي - (۲ / ۲۶۸)

(ابن حبان: ٤٥\١٤، ابن خزيمة: ٢:٩، الحاكم: ٢١٥\١، البيهقى: ٢٦٨\٢، مسلم مختصرا و فى صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان: ١٢٦\٦، و اسناده صحيح)

ژباړه:

له ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی، چې نبي ﷺ فرمایلي دي. له سترې پرته لمونځ مه کوه او مه څوک دې ته پرېږده، چې مخې ته دې تېرشي. که یوکس تېرېده: نو جنګ ورسره وکړه. ځکه له ده سره شیطان ملګری دی.

۲: عَنْ سَبْرَةَ بْنِ مَعْبَدٍ الْجُهَنِيِّ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم: لِيَسْتَتِرْ أَحَدُكُمْ فِي صَلاَتِهِ وَلَوْ بِسَهْمٍ.

المعجم الكبير للطبراني - (۶ / ۲۳۰)

اخرجه احمد: ٤٠٤\٣، الحاكم: ٢٥٢\١، ابن خزيمة: ١٣\٢، البيهقى: ٢٧٠\٢، و صححه الالبانى فى الصحيحة.

ژباړه:

په لمانځه کې دې یوکس په تاسې کې ستره جوړوي، تر دې که غشی هم وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ بل حديث کې دي:

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ : إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ، فَلْيُصَلِّ إِلَى سُتْرَةٍ، وَلْيَدْنُ مِنْهَا، وَلاَ يَدَعْ أَحَدًا يَمُرُّ بَيْنَ يَدَيْهِ، فَإِنْ جَاءَ أَحَدٌ يَمُرُّ ، فَلْيُقَاتِلْهُ، فَإِنَّهُ شَيْطَانٌ وفى رواية فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَمُرُّ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا.

سنن ابن ماجة ـ محقق ومشكول - (۲ / ۱۰٤)

السنن الكبرى للبيهقي وفي ذيله الجوهر النقي - (۲ / ۲۷۲)

اخرجه ابن ابى شيبة: ۱\۲۷۹، وابوداود: ۱\۱۱۱، وابن ماجة وابن حبان: ٤\٤٨.

ژباړه

چې کله يوکس سترې ته لمونځ کوي: نونږدې دې ورته ودرېږي او څوک دې خپلې مخې ته تېرېدو ته نه پرېږدي، که څوک تېرېده؛ نوجنګ دې ورسره وکړي، په بل روايت کې دي، ځکه شيطان دده مخې ته تېرېږي

٤: عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: رَآنِي عُمَرُ وَأَنَا أُصَلِّي بَيْنَ أُسْطُوَانَتَيْنِ فَأَخَذَ بِقَفَائِي فَأَدْنَانِي إِلَى سُتْرَةٍ، فَقَالَ: «صَلِّ إِلَيْهَا»

مصنف ابن أبي شيبة (۲ / ۱٤٦)

(رواه البخارى: ۱\۷۲، و وصله ابن ابى شيبة : ۲\۳۷۰، وغيرهما)

ژباړه

له قرة ابن ابى اياس څخه روايت دی، چې زه عمر ﷺ د دوو ستنو په منځ کې په لمانځه وليدم : نو له څټه يې ونيولم او سترې ته يې نږدې کړم او راته يې و ويل دې ته لمونځ کوه.

٥: وَقَالَ عُمَرُ: «الْمُصَلُّونَ أَحَقُّ بِالسَّوَارِي مِنَ الْمُتَحَدِّثِينَ إِلَيْهَا» وَرَأَى عُمَرُ:



رَجُلًا يُصَلِّي بَيْنَ أُسْطُوَانَتَيْنِ، فَأَدْنَاهُ إِلَى سَارِيَةٍ، فَقَالَ: صَلِّ إِلَيْهَا"

صحيح البخاري (۱ / ۱۰٦)

ژباړه:

عمر ﷺ ويلي دي، چې لمونځ کوونکي ډېر حقدار دي، چې ستنو ته ودرېږي، له هغه چانه چې دي (ستنو) ته خبرې کوي(ياني چې ستنو ته يې تکيا وهلې وي او خبرې کوي) عمر ﷺ يو سړی وليد ، چې د دوو ستنو تر منځ يې لمونځ کاوه؛نو يوې ستنې ته يې نږدې کړ او ورته يې وفرمايل، چې دې ته لمونځ کوه؛

له پورتنيوصحيح حديثونو او اثرونو څخه څرګنده شوه، چې سترې ته لمونځ کول ضروري او لازم دي، ځکه رسول الله ﷺ پرستره نيولو امرکړی او له سترې پرته لمونځ کولو نه يې منع فرمايلې ده، دارنګه د عمرفاروق ﷺ له اثر نه هم څرګنده شوه، چې ستره نيول په لمانځه کې ضروري ده

د لا ډېر تفصيل لپاره (فتاوى الدين الخالص ۵۵۱۱۳، نيل الاوطار ۴۱۴، السيل الجرار ۱۷۲۱۱ ، احكام السترة ص ۹، للشيخ محمد بن زرق طرهوني)

### دويمه مسئله د سترې د لوړ والي اندازه

د سترې لوړوالى بايد لږ تر لږه د اوښ د پالان د وروستۍ برخې هومره وي او که له دې نه لوړه وي باک نه کوي، حافظ ابن حجر ﷺ په فتح البارى(۵۸۱۱)کې په دې اړه ليکي

اعتبرالفقهاء مثل مؤخرة الرحل فى مقدارسترة.

ژباړه:

دينپوهانو لږ تر لږه د اوښ د پالا ن د وروستۍ برخې په اندازه ستره

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړينه ګڼلې ده

هدایه (۱\۳۵۴) کې دي

ومقدارها ذراع فصاعداً.

دسترې اندازه د یوه شرعي ګز په اندازه یا له دې نه زیاته ده

دلیل: ۱: په صحیح مسلم (۱\۱۹۷) وغیره کې له طلحه ؓ نه روایت دی

عَنْ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا وَضَعَ أَحَدُكُمْ بَيْنَ يَدَيْهِ مِثْلَ مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ فَلْيُصَلِّ، وَلَا يُبَالِ مَنْ مَرَّ وَرَاءَ ذَلِكَ»

صحیح مسلم (۱ / ۳۵۸)

ژباړه:

کله، چې مخې ته د اوښ د پالان د وروستۍ برخې په اندازه څه شی کېږدي: نو بیا یې چې څوک مخې ته تېرېږي پروا نکوي

۲ په بل روایت کې دي

عَنْ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: كُنَّا نُصَلِّي وَالدَّوَابُّ تَمُرُّ بَيْنَ أَيْدِينَا فَذَكَرْنَا ذَلِكَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «مِثْلُ مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ تَكُونُ بَيْنَ يَدَيْ أَحَدِكُمْ، ثُمَّ لَا يَضُرُّهُ مَا مَرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ» وَقَالَ ابْنُ نُمَيْرٍ: فَلَا يَضُرُّهُ مَنْ مَرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ.

صحیح مسلم (۱ / ۳۵۸)

اخرجه مسلم: ۱\۱۹۷.

ژباړه:

موږ به لمونځ کاوه او څاروي به زموږ مخې ته اوړېدل راوړېدل: نو موږ



دا نبي ﷺ ته یاده کړه هغه ﷺ و فرمایل چې کله ستاسې مخې ته د اوښ د پالان د وروستۍ برخې په اندازه څه شی وي: نو ضرر نه کوي که یوشی مو مخې ته تېرشي

۳: عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ عَنْ سُتْرَةِ الْمُصَلِّي؟ فَقَالَ: «كَمُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ»

صحیح مسلم (۱ / ۳۵۹)

( رواه مسلم: ۱\۱۹۷)

ژباړه

له عائشې ؓ څخه روایت دی، چې نبی ﷺ د تبوک په غزاکې د سترې په اړه وپوښتل شو، هغه وفرمایل، چې ستره د اوښ د پالان د وروستۍ برخې په اندازه ده.

٤: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَقْطَعُ الصَّلَاةَ الْمَرْأَةُ وَالْحِمَارُ وَالْكَلْبُ، وَيَقِي ذَلِكَ مِثْلُ مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ»

صحیح مسلم (۱ / ۳۶۵)

(رواه مسلم: ۱\۱۹۷)

ژباړه

له ابوهریره ؓ څخه روایت دی، چې نبي ﷺ فرمایلي دي ښځه، خر او سپی، چې د لمونځ کوونکي مخې ته تېرشي لمونځ یې ماتېږي او له دې نقصان څخه یې ستره ژغوري

اوس به راشو دې خبرې ته، چې د « مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ» یاني د پالان دوروستۍ برخې څومره اندازه ده؛ نو په (مصنف د عبدالرزاق ۲ ۹۱۲، ابوداود ۱\۲۰۱. ابن خزیمة ۲\۱۱۱) کې له عطاء څخه په صحیح سند

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره نقل دي چې

عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ: قَالَ عَطَاءٌ: «كَانَ مَنْ مَضَى يَجْعَلُونَ مُؤَخَّرَةَ الرَّحْلِ إِذَا صَلُّوا»، قُلْتُ: وَكَمْ بَلَغَكَ؟ قَالَ: «قَدْرُ مُؤَخِّرَةِ الرَّحْلِ» قَالَ: «ذِرَاعٌ» قَالَ: وَسَمِعْتُ الثَّوْرِيَّ يُفْتِي بِقَوْلِ عَطَاءٍ.

مصنف عبد الرزاق الصنعاني (۲ / ۹)

ژباړه:

ابن جريج فرمايي عطاء ويلي دي صحابه وو به، چې كله لمونځ كاوه ؛نو خپلې مخې ته بې د اوښ د پالان د وروستنۍ برخې په اندازه ستره كېښودله ابن جريج وايي ما ورته و ويل (تاته څنګه رارسېدلې، چې؛ څومره اوچته وه؟هغه و ويل دپالان د وروستني لرګي په اندازه يوذراع(ګز)ابن جريج وايي: ماله سفيان ثوری ﷺ نه واورېدل، چې هغه هم دعطاء په قول فتوی وركوله

له ابن جريج ﷺ نه په يوه بل روايت كې نقل دي، چې

عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ: قُلْتُ لِعَطَاءٍ: أَرَأَيْتَ لَوْ كَانَ مَعِيَ عَصًا ذِرَاعٌ قَطُّ، مِنْهَا فِي الْأَرْضِ قَدْرُ أَرْبَعِ أَصَابِعَ، خَالِصُهَا عَلَى ظَهْرِ الْأَرْضِ أَدْنَى مِنْ ذِرَاعٍ قَالَ: «لَا، حَتَّى يَكُونَ خَالِصُهَا عَلَى ظَهْرِ الْأَرْضِ ذِرَاعٌ»

مصنف عبد الرزاق الصنعاني (۲ / ۱٤)

مصنف عبدالرزاق(۲|۱۵)

ژباړه:

ماته عطاء و ويل: كه له ماسره د يو ذراع په اندازه امسا وي او له هغې نه د څلورو ګوتو په اندازه په ځمكه كې ښخه كړی شي او پاتې د ذراع نه كمه اندزه په ځمكه ولاړه وي؛ نو ايادا بس كېږي؟



ويې ويل، چې نه دا كفايت نه كوي ترڅو د ځمكې پرمخ يوګز نه وي ولاړه.

له قتادة ﷺ نه هم د دې په شان قول نقل دی؛ نو د عطاء له وينا څخه څرګنده شوه، چې د پالان د وروستنۍ برخې لوړوالې د يو ذراع (ګز) هومره دی اود صحابه كرامو ﷺ ستري به ديوګزپه اندازه لوړې وې او صحابه كرام ﷺ پر دين ښه پوهېدل. قرآن او حديث به هغوی لوستل

فتاوی الدين الخالص (۵۲۱\۳)

د يو ذراع اندازه: خومعلومه شوه، چې دوه ولېشتې جوړېږي،

او په دې اړه، چې له ځيني سلفو نه كوم اثار په ابن ابي شيبه، مصنف د عبدالرزاق اوابوداود كې نقل دي، چې هغوی به خولۍ ستره جوړوله؛ نو په هغې كې خوځيني كمزوري دي او كوم، چې صحيح دي؛ نو هغه محمول دي په ضرورت باندې، ځكه داحكم دی، چې

فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ

[التغابن ۱۶]

ژباړه:

له الله نه دومره و وېرېږئ، چې څومرمو له وسه وي

د تفصيل لپاره فتاوی الدين الخالص ۵۵۹\۳. المحلی لابن حزم ۱۲\۴، الفقه على المذاهب الاربعة ۱۹۰\۱، سبل السلام ۲۹۴\۱، فتح الباري ۵۸۱\۱. شرح مسلم للنووی ۱۹۷\۱، احكام السترة للشيخ محمدبن طرهوني

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریيمه مسئله: د لمونځ کوونکي مخې ته د خارویو تېرېدو حکم

که دلمونځ کوونکي مخې ته کوم خاروی یا داسې نور څه تېرېږي؛ نوهغه به له تېرېدوڅخه منع کوي، لکه په حديث کې دي،

عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: هَبَطْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ ثَنِيَّةِ أَذَاخِرَ «فَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ - يَعْنِي فَصَلَّى إِلَى جِدَارٍ - فَاتَّخَذَهُ قِبْلَةً وَنَحْنُ خَلْفَهُ، فَجَاءَتْ بَهْمَةٌ تَمُرُّ بَيْنَ يَدَيْهِ فَمَا زَالَ يُدَارِئُهَا حَتَّى لَصَقَ بَطْنَهُ بِالْجِدَارِ، وَمَرَّتْ مِنْ وَرَائِهِ»

سنن أبي داود (۱ / ۱۸۸)

ژباړه

له عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی، چې موږ له رسول الله ﷺ سره له ثنية اذاخر څخه راښکته شو؛ نو د لمانځه وخت راغی، نبي ﷺ يوه دېوال ته لمونځ وکړ، قبله يې ترې جوړه کړه او موږ يې شا ته وو؛ نويو ورغمی راغی، چې د نبي ﷺ مخې ته تېرېده؛ نونبي ﷺ به دېکه کاوه، تردې، چې له دېواله سره پيوست شه او هغه يې شاته تېر شو

۲: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي فَمَرَّتْ شَاةٌ بَيْنَ يَدَيْهِ فَسَاعَاهَا إِلَى الْقِبْلَةِ حَتَّى أَلْزَقَ بَطْنَهُ بِالْقِبْلَةِ"

قال الأعظمي: إسناده صحيح

صحيح ابن خزيمة (۲ / ۲۰)

ژباړه

له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی، چې نبي ﷺ لمونځ کاوه؛ يوه ګډه يې مخې ته تېرېده؛ نو هغه يې تېل وهله تردې، چې خېټه يې له دېواله سره ولګېده.



رواه ابن حبان: ٤\٤٨»، والحاكم: ١\٢٥٤، وغيرهم.

له پورتنيو حديثونو څخه څرګنده شوه، چې دلمونځ کوونکي مخې ته که کوم څاروی تېرېږي؛ نو هغه به منع کوي او که له تېرېدو څخه نه منع کېده؛ نو زور هم ورسره کولای شي

(فتاوى الدين الخالص ۳\۵۸۰)

## څلورمه مسئله: ايا لمونځ کوونکی خپلې مخې ته تېرېدونکی په زور منع کولای شي؟

د لمونځ کوونکي مخې ته تېرېدل ګناه ده، هيڅوک دا حق نلري، چې د لمونځ کوونکي مخې ته تېرشي، که يو ناپوه انسان د لمونځ کوونکي مخې ته تېرېږي؛ نو لمونځ کوونکی ته پکار ده، چې هغه منع کړي او په دې اړه ډېرحديثونه راغلي، چې يو څو ترې موږ په لاندې ډول بيانوو

۱: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا كَانَ أَحَدُكُمْ يُصَلِّي فَلَا يَدَعْ أَحَدًا يَمُرُّ بَيْنَ يَدَيْهِ، فَإِنْ أَبَى فَلْيُقَاتِلْهُ، فَإِنَّ مَعَهُ الْقَرِينَ»

صحيح مسلم (۱ / ۳۶۳)

(رواه مسلم: ١\١٩٧)

ژباړه

له ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی، چې په تاسې کې څوک لمونځ کوي؛ نو هيڅوک دې نه پرېږدي، چې د ده مخې ته تېرشي، که چيرته (تېرېدونکی) نه بندېږي؛ نولمونځ کوونکی دې ورسره جنګ وکړي. ځکه له دې تېرېدونکي سره شيطان دی

۲: حَدَّثَنَا أَبُو صَالِحٍ السَّمَّانُ، قَالَ: رَأَيْتُ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ فِي يَوْمِ جُمُعَةٍ يُصَلِّي إِلَى شَيْءٍ يَسْتُرُهُ مِنَ النَّاسِ، فَأَرَادَ شَابٌّ مِنْ بَنِي أَبِي مُعَيْطٍ أَنْ يَجْتَازَ بَيْنَ يَدَيْهِ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



فَدَفَعَ أَبُو سَعِيدٍ فِي صَدْرِهِ، فَنَظَرَ الشَّابُّ فَلَمْ يَجِدْ مَسَاغًا إِلَّا بَيْنَ يَدَيْهِ، فَعَادَ لِيَجْتَازَ، فَدَفَعَهُ أَبُو سَعِيدٍ أَشَدَّ مِنَ الأُولَى، فَنَالَ مِنْ أَبِي سَعِيدٍ، ثُمَّ دَخَلَ عَلَى مَرْوَانَ، فَشَكَا إِلَيْهِ مَا لَقِيَ مِنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَدَخَلَ أَبُو سَعِيدٍ خَلْفَهُ عَلَى مَرْوَانَ، فَقَالَ: مَا لَكَ وَلِابْنِ أَخِيكَ يَا أَبَا سَعِيدٍ؟ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ إِلَى شَيْءٍ يَسْتُرُهُ مِنَ النَّاسِ فَأَرَادَ أَحَدٌ أَنْ يَجْتَازَ بَيْنَ يَدَيْهِ، فَلْيَدْفَعْهُ فَإِنْ أَبَى فَلْيُقَاتِلْهُ فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ»

صحيح البخاري (۱ / ۱۰۸)

اخرجه البخاري: ۱\۷۲، وفى رواية ابن خزيمة: فَلْيَمْنَعْهُ مَرَّتَيْنِ، فَإِنْ أَبَى فَلْيُقَاتِلْهُ، فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ»

صحيح ابن خزيمة (۲ / ۱۶)

«إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ إِلَى شَيْءٍ يَسْتُرُهُ فَذَهَبَ أَحَدٌ يَمُرُّ بَيْنَ يَدَيْهِ فَلْيَمْنَعْهُ، فَإِنْ أَبَى فَلْيُقَاتِلْهُ، فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ، فَإِنَّمَا ضَرَبْتَ الشَّيْطَانَ»

صحيح ابن خزيمة (۲ / ۱۵)

قال الأعظمي: إسناده صحيح

ژباړه:

ابو صالح وايي، چې ما ابوسعيدخدري د جمعې په ورځ وليده، چې سترې ته يې لمونځ کاوه؛ نو د ابو معيط د قبيلې يوه ځوان غوښتل چې د ده مخې ته تېرشي؛ نو ابوسعيد ورله په سينه کې ديکه ورکړه؛ نو هغه کس بله لارد تېرېدو مونده نه کړه؛ نو بيايې اراده وکړه، چې تېر شي نو ابو سعيد له مخکې نه سخته ديکه ورکړه؛ نو دا ځوان له ابوسعيدڅخه خفه شه نو مروان ته لاړ او د ابوسعيد شکايت يې ورته وکړ؛ نو ابو سعيد تر ده



وروسته مروان ته ورغی مروان ابو سعيد ته و ويل دا ځوان دې ولې وهلی دی؟ ابوسعيد و ويل: ماله رسول اللهﷺ څخه اورېدلي دي، چې کله يوکس سترې ته لمونځ کوي او څوک د ده او د سترې تر مينځ تېرېږي ؛ نو منع يې دې کړي، که انکار يې وکړ؛ نو جنګ دې ورسره وکړي، ځکه دا شيطان دی

دا روايت بخاري راوړی دی او د ابن خزيمه په روايت کې دي، چې دوه ځل دې يې بندکړي که بند نه شه؛ نو جنګ دې ورسره وکړي او په بل روايت کې دي، چې تاله شيطان سره جنګ کړی دی.

۳: عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، قَالَ: مَرَرْتُ بِعُمَرَ بعد أَنْ جَلَسَ فِي آخِرِ صَلَاتِهِ حتى انظر ما يصنع فارتفع فدفع فى صدرى (بخارى : ۱\۷۲، ابن ابي شيبة: ۱\۲۸٤)

ژباړه:

زه په عمر ورتېرېدم، چې کله د لمانځه په پای کې کېناسته، چې وګورم څه کوي؛ نو هغه راپورته شه او ما له يې په سينه کې ديکه راکړه.

د ابن ابي شيبة په روايت کې ورسره دا هم دي چې:

أردت أن أمر بين يدي ابن عمر وانا غلام وهو يصلي، فانتهرني بتسبيحه.

فتح الباري لابن رجب (٤ / ٧٥)

ما وغوښتل، چې د ابن عمرؓ مخې ته تېرشم او زه ماشوم وم؛ نو پر تسبيح يې ورتلم (چې مه تېرېږه)

په بل روايت کې دي:

«مَرَرْتُ إِلَى جَنْبِ ابْنِ عُمَرَ فَظَنَّ أَنِّي أَمُرُّ بَيْنَ يَدَيْهِ فَثَارَ ثَوْرَةً أَفْزَعَنِي، وَنَحَّانِي»

مصنف عبد الرزاق الصنعاني (۲ / ۲۳)

ژباړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ابن عمرﷺ تر څنګ تېرېدم، هغه داسې ګومان وکړ، چې ګونډې د هغه مخې ته تېرېږم؛ نو په ماپسې داسې راوپارېده، چې زه يې و وېرولم او لرې شوم

**پنځمه مسئله که ستره نه وي؛ نو د لمونځ کوونکي مخې ته په څومره فاصله کې تېرېدل صحيح دي؟**

له سترې پرته لمونځ کول ګناه ده او سترې ته لمونځ کول ضروري دي، ځکه رسول الله ﷺ فرمايي

لا يصل إلا إلى سترة ولا تدع أحد يمر بين يديك فإن أبي فلتقاتله فإن معه القرين

صحيح ابن خزيمة (۲ / ۹)

ژباړه:

له سترې پرته لمونځ مه کوه او مه څوک مخې ته پرېږده. چې تېرشي که تېرېده جنګ ورسره وکړه

(ابن خزيمة: ۲\۰، ابن حبان: ٤\٤٥، الحاکم: ۱\۲۵۱، البيهقى: ۲\۲٦۸، )

په دې اړه ډېرحديثونه راغلي دي، چې د سترې پر فرضيت دلالت کوي

وګوره فتاوى الدين الخالص ۳\۵۵

بله دا خبره په پام کې نيول پکار دي، چې کوم کس د بې علمۍ يا سستياله امله په دې ګناه کې اخته شي؛ نو بيا تېرېدونکي ته پکار دي، چې د لمونځ کوونکي مخې ته تېر نشي، ځکه په دې کې سخته ګناه ده او رسول الله ﷺ فرمايي:

لَوْ يَعْلَمُ الْمَارُّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّي مَاذَا عَلَيْهِ لَكَانَ أَنْ يَقِفَ أَرْبَعِينَ خَيْرًا لَهُ مِنْ



أَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ

صحيح البخاري ـ حسب ترقيم فتح الباري - (۱ / ۱۳٦).

ژباړه

که دلمونځ کوونکي مخې ته تېرېدونکي پردې پوهه وی. چې په دې کې څومره ګناه ده: نو چې څلويښت کلونه ولاړ وی دا ورلره له تېرېدو نه غوره وه.

د ابن ماجه په روايت کې دسل کلونو روايت راغلی دی له کعب الاحبار ﷺ څخه نقل دي که چېرته دلمونځ کوونکي مخې ته تېرېدونکي ددې له ګناه نه خبر شي ؛ نو پرځمکه ننوتل به ورته له دې نه غوره ښکاره شي

مشکوة: ۱\۷۰، مؤطا امام مالک: ۱\۱۲۱، مصنف عبدالرزاق: ۲\۲۰.

؛نوپه دې اړه حتى الوسع احتياط پکاردی هسې نه، چې انسان په دې ګناه کې پرېووځي

اوس که يوکس بې سترې لمونځ کوي اوکس د ده مخې ته دتېرېدوضرورت لري: نوپه څومره فاصله کې به له ده څخه اخوا تېرېږي؛نو په دې اړه خو يو ضعيف حديث په (ابوداود ۱\۱۰۹ ، طحاوی ۱\۴۸۵ او بيهقي ۲\۲۷۵) کې راغلي دي، چې

«إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ إِلَى غَيْرِ سُتْرَةٍ فَإِنَّهُ يَقْطَعُ صَلَاتَهُ الْكَلْبُ وَالْحِمَارُ وَالْخِنْزِيرُ وَالْيَهُودِيُّ وَالْمَجُوسِيُّ وَالْمَرْأَةُ، وَيُجْزِئُ عَنْهُ إِذَا مَرُّوا بَيْنَ يَدَيْهِ عَلَى قَذْفَةٍ بِحَجَرٍ»

سنن أبي داود (۱ / ۱۸۷)

ژباړه:

«که په تاسې کې يو څوک پرته له سترې لمونځ کوي:نو د ده لمونځ سپی، خر، خنځير، يهودي، مجوسي او ښځه ماتوي (ياني دغه شيان، چې

مخې ته تېر شي؛ نو دده لمونځ پرې ماتېږي، دومره لرې به ترې تېرېږي څومره فاصلې کې، چې کاڼی ويشتل کېږي (رمية بحجرقذفة بحجر)

لیکن داروایت کمزوری ؛ نو ځکه دلیل کېدای نشي.

دويم قول دادی چې: دلمونځ کوونکي له مخې نه درې ګزه وړاندې تېرېدل جائزدي داامام شافعی رحمه الله امام احمد رحمه الله اوابن حزم رحمه الله مذهب دی.

موږ ته هم دا قول راجح ښکاري داامام مالک رحمه الله نه نقل دي، چې ددې کس درکوع اوسجدې په ځای تېرېدل جائز نه دي. اوله دې نه اخوا تېرېدل جائزدي.

اواحناف دغټو او وړوکي جومات ترمينځ توپیر کوي په واړه جوماتونو کې د لمونځ کوونکي مخې ته تېرېدل مطلقاجائز نه ګڼي او په غټ جومات یا صحراء کې د لمونځ کوونکي د سجدې په ځای کې تېرېدل جائز نه ګڼي او خوا تېرېدل جائز ګڼي

(الفقه على المذاهب الاربعة: ۱\۱۹۲، المحلى لابن حزم)

په دې کې راجحه داده، چې د درې ګزو فاصله معتبره شي، ځکه په عرف کې د دې نه اخوا تېرېدل له ده څخه لرې شمېرلی شي. بله دا، چې لمونځ کوونکي ته حکم شوی، چې خپلې مخې ته تېرېدونکي منع کوي؛نو د دې نه دخپل توان مناسب مراد دی؛نوچې له ده نه درې ګزه اخواتېرېږي نودهغه پر لاس باندې منع کول دانسان له توان بهردي خصوصا کله، چې تشهدحالت کې وي یا درکوع او سجدې په حالت کې وي

بله دا، چې حدیثونو کې راغلي (بين يديه)؛ نو د انسان، چې د لاس نه اخوا تېرېږي ان شاء الله ګناه به نه وي اګرکه احتیاط دادی، چې له دې نه هم اخوا انسان تیرشي

ځیني خلک وايي: چې ستره په مسجدکې ضروري نه ده، بلکې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحراء کې ضروري ده، لیکن د طه ده، بلکې په صحراء مسجد او کور وغیره په هر ځای کې سترې ته لمونځ کول ضروري دي د رسول الله ﷺ دا فرمان چې:

لا يصل إلا إلى سترة

(ابن خزيمة: ۲\۱۷، ۱۰)

إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فَلْيَسْتَتِرْ، وَلْيَقْتَرِبْ مِنَ السُّتْرَةِ

شرح السنة للبغوي (۲ / ٤٤٧):

دا حدیثونه عام دي دجومات اوصحراء توپیر پکې نشته، بلکې له عمرفاروق رضي الله عنه څخه نقل دي:

وَرَأَى عُمَرُ: "رَجُلًا يُصَلِّي بَيْنَ أُسْطُوَانَتَيْنِ، فَأَدْنَاهُ إِلَى سَارِيَةٍ، فَقَالَ: صَلِّ إِلَيْهَا"

صحيح البخاري (۱ / ۱۰٦)

ژباړه:

عمربن الخطاب رضي الله عنه یوسړی ولیده چې دستنویه مینځ کې یې لمونځ کاوه؛ نويوې ستنې ته یې نږدې کړ او ورته یې و ويل دې ته لمونځ کوه

امام ابن حجر رحمه الله فرمايي:

وَأَرَادَ عُمَرُ بِذَلِكَ أَنْ تَكُونَ صَلَاتُهُ إِلَى سُتْرَةٍ.

فتح الباري لابن حجر (۱ / ٥٧٧):

ژباړه:

عمر رضي الله عنه په دې کار سره دا غوښتل، چې د دې کس لمونځ سترې ته وشي

له انس رضي الله عنه څخه روایت دی:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: «لَقَدْ رَأَيْتُ كِبَارَ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَسَلَّمَ يَبْتَدِرُونَ السَّوَارِيَ عِنْدَ المَغْرِبِ»

صحيح البخاري (١ / ١٠٧)

ژباړه

ما د نبی ﷺ لوی لوی ملګري ولیدل، چې د ماښام دوه رکعتونو پرمهال به یې ستنو ته توندي کوله

د دې روایت په نقلولوسره د امام بخاری ؒ موخه داده، چې صحابه کرامو ؓ به په جوماتو کې هم د سترې اهتمام کاوه

رشیداحمدګنګوهی ؒ په لامع الدراری: ۲۱۲، ۵۰، کې لیکي:

فالاوجه عندي ان الامام البخاری اشاربالترجمة الی عدم تخصیص السترة بالصحراء

ژباړه:

زما په اند غوره دا ده، چې امام بخاری په ترجمة الباب کې دې ته اشار کړې ده، چې ستره په صحراپورې خاص نه ده

یحیی بن ابی کثیر ؒ وایي:

«رَأَيْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ، قَدْ نَصَبَ عَصًا يُصَلِّي إِلَيْهَا»

مصنف ابن أبي شيبة (١ / ٢٤٨)

ژباړه

ما انس بن مالک ؓ ولیده، چې په مسجدحرام کې یې امسا ودرولې وه او لمونځ یې ورته کاوه.

(ابن ابی شیبة: ۱\۳۱۰، طبقات ابن سعد: ۷\۱۱، الاوسط لابن المنذر: ۵\۷۹)

نافع ؒ وایي:

كَانَ ابْنُ عُمَرَ، إِذَا لَمْ يَجِدْ سَبِيلًا إِلَى سَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ، قَالَ لِي:



«وَلِّنِي ظَهْرَكَ».

مصنف ابن أبي شيبة (١ / ٢٥٠)

ژباړه

ابن عمر ؓ به چې کله جوماتو کې ستن مونده نه کړه نوماته به یې وویل، چې ماته شاه راواړوه او کېنه، چې زه درڅخه ستره جوړه کړم

حَدَّثَنَا أَبُو صَالِحٍ السَّمَّانُ قَالَ رَأَيْتُ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ فِي يَوْمِ جُمُعَةٍ يُصَلِّي إِلَى شَيْءٍ يَسْتُرُهُ مِنَ النَّاسِ.

صحيح البخاري ـ حسب ترقيم فتح الباري - (١ / ١٣٥)

ژباړه:

ماابوسعیدولیده، چې د جمعې په ورځ یې سترې ته لمونځ کاوه

د لا ډېرتفصیل لپاره (فتاوی الدین الخالص: ۳\۵۶۳، آپکے مسائل اوران کاحل قرآن اورسنت کے روشنی میں. لمبشراحمدربانی: ۲\۱۶۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لمانځه طريقه

په خالص نيت يانې د اللهﷻ د راضي کولو په نيت د لمانځه اراده کول پکاردي او له اذانه نه مخکې له تاسره بايد دلمانځه فکر وي، چې اذان وشي او ته ورته مخکې له مخکې تيار يې، چې دا يې اعلی درجه، که داسې نه وي؛ نو تر اذانه وروسته: خو پکار ده. چې له واره ځان تيارکړې، ځکه اذان د دې مقصدلپاره دی، چې ځان تيارکړئ او د لمانځه لپاره له مخکې نه چمتووالی د مؤمنانوصفت دی.دا چې د لمانځه لپاره ځان تيار کړې او نيت دې هم صحيح وي ؛ نو بيا يو بل څه ته هم ضرورت دی، چې هغمه زموږ د پيغبر طريقه ده، ځکه که په يو نېک کار ته څومره هم چمتووالی ونيسې او نيت هم پکې ښه وي ؛ خو چې د رسول اللهﷺ په طريقه نه وي ؛ نو هغه عبادت د اللهﷻ په اند د منلو وړ نه دی، بلکې اللهﷻ پرې انسان رانيسي ؛ نو دا چې له دې ځايه د سنت طريقې مطابق د لمانځه ډانچه وړاندې کېږي يانې هغه لمونځ وړاندې کېږي، چې له رسول اللهﷺ نه ډېرو او صحيحو حديثونو کې ثابته ده ؛ نو پکار ده، چې موږ او تاسې ورته ښه ځير شو هسې نه، چې هغه د پښتو متل «هندو ستړی او الله ناراضه» نو پکار ده، چې نر، ښځې لويان او کوچينان په ټولو چارو کې ګډه د رسول اللهﷺ د تابعداری کوښښ وکړو او په ځانګړي ډول په لمانځه کې، ځکه دا ډېر ارزښتمن عبادت دی.

اوس دا چې لمونځ پر ښځو او نرو فرض دی ؛ نو ايا د ښځو او د سړيو په لمانځه کې به څه توپير وي او که نه ؟ راځئ، چې د دلايلو په رڼا کې دغه مسئله وڅېړو، چې ښه مو پرې سرونه خلاص شي.



## شپږمه مسئله: د ښځو او سړيو په لمانځه کې توپير؟

ځينې خلک د ښځو او سړيو په لمانځه کې دا توپيرونه راوباسي، چې سړي به لاسونه ترغوږونو اوچتوي او ښځې به يې تراوږو او پتون به سره جلاساتې او ښځې به د سړي په څېر سجده نه کوي، بلکې ښځې به په ځمکه جوختېږي او سړی به قعده کې کيڼه پښه څملوي او ښی پښه به ودروي او ښځه به تورک کوي! يانې پر کوناټو به کېني !او سړی به لاس تر نامه لاندې ږدي او ښځه به لاسونه پرسينه ږدي او داسې نور: نو دا به له حديثو نه ثابت وي او که نه ؟ نو لوستونکي بايد لومړی پر دې پوهېږي، چې د لمانځه احکام دوه ډوله دي، چې يو يې بهرني احکام او بل يې دا خلي احکام بهرني احکام، لکه جَمعه، اذان، عورت پټول، په صف کې يواځې ودرېدل، د لمانځه لپاره پرده کول او داسې نور.

نو په دې احکامو کې د سړيو او ښځو تر مينځ توپيرشته، ځکه په دې اړه صحيح حديث راغلی دي

دويم ډول د لمانځه دنني احکام دي: نو په دې اړه صحيح او غوره خبره دا ده، چې د سړيو او ښځو د لمانځه په کيفيت او هيئت کې هيڅ توپيرنشته، ځکه رسول الله ﷺ خپل ټول امت ته دا ويلي دي، چې:

صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّ.

صحيح البخاري (۱ / ۱۲۹)

داسې لمونځ کوئ ځنګه، چې زه لمونځ کوم دا خطاب سړيو او ښځو ټولو ته متوجه دی او د رسول اللهﷺ د لمانځه طريقه الحمد لله د حديثونو په کتابونو کې تفصيلاً ذکر ده، چې د هر رکن په اړه به حديثونه وروسته د هر رکن په بيان کې به ان شاء الله راشي، چې هغه به د لومړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تکبیر(تکبیرتحریمه) په وخت تر کوم ځای پورې لاسونه اوچتول؟ لاسونه به یې پرکوم ځای ترل؟ سجده به یې څنګه کوله؟ او قعده به یې څنګه کوله؟

رسول الله ﷺ، چې څنګه لمونځ کړی دی پر سړو او ښځو دواړو باندې دا لازمه ده، چې د رسول الله ﷺ د لمانځه په شان لمونځ وکړي

اوس که څوک وایي، چې سمه ده رسول الله ﷺ سجده اوږده کړې ده، خپلې څنګلې یې له تخرګونو او ځمکې نه اوچتې او جلاساتلې دي، خپله ګېډه مبارکه یې له پتون نه لرې ساتله؛ خو ښځه به داسې سجده نه کوي؛ نو دا کس د خپلې خبرې د پخلي لپاره اړ دی، چې صحیح حدیث په دلیل کې وړاندې کړي؟

یا که څوک دا وايي، چې ښځه به د سړي په شان د تکبیرتحریمه پروخت لاسونه ترغوږونو نه اوچتوي یا ښځه به د سړي په څېر لاسونه نه تړي یاښځه به د سړي په څېر په قعده کې نه کېني؛ نو دا کس به صحیح حدیثونه په دلیل کې وړاندې کوي اوکه وړاندې یې نه کړي؛ نو امت اړ نه دی، چې د صحیحوحدیثونو په مقابله کې پر ضعیفو او موضوعي روایتونو باندې عمل وکړي او یا یواځې د علماوو پر بې دلیله نظرونو او قیاسونو عمل وکړي، ځکه د عمل لپاره له صحیح حدیث نه دلیل پکار دی. دا چې د ښځو او سړیو د لمانځه د توپیر په اړه هیڅ صحیح حدیث نشته او دې بل لور ته خبره پر صحیحو حدیثو ثابته ده، چې د ښځو او سړو په لمانځه کې توپیر نشته؛ نو ولې له دې روښانه دلیلونو څخه مخ واړول شي؟

زه دلته په لنډو هغه دلیلونه وړاندې کوم، چې هغه د ښځې او سړي په لمانځه کې د توپیرنشت والي دلیل وي

د سړیو او ښځو په لمانځه کې توپیرنشته:



**لومړی دلیل:**

عَنْ أَبِي قِلاَبَةَ قَالَ: حَدَّثَنَا مَالِكٌ أَتَيْنَا إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم وَنَحْنُ شَبَبَةٌ مُتَقَارِبُونَ فَأَقَمْنَا عِنْدَهُ عِشْرِينَ يَوْمًا وَلَيْلَةً، وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم رَحِيمًا رَفِيقًا فَلَمَّا ظَنَّ أَنَّا قَدِ اشْتَهَيْنَا أَهْلَنَا، أَوْ قَدِ اشْتَقْنَا سَأَلَنَا عَمَّنْ تَرَكْنَا بَعْدَنَا فَأَخْبَرْنَاهُ قَالَ ارْجِعُوا إِلَى أَهْلِيكُمْ فَأَقِيمُوا فِيهِمْ وَعَلِّمُوهُمْ وَمُرُوهُمْ - وَذَكَرَ أَشْيَاءَ أَحْفَظُهَا، أَوْ لاَ أَحْفَظُهَا - وَصَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّي فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلاَةُ فَلْيُؤَذِّنْ لَكُمْ أَحَدُكُمْ وَلْيَؤُمَّكُمْ أَكْبَرُكُمْ صحيح البخاري - حسب ترقيم فتح الباري - (١ / ١٦٢)

صحيح مسلم - مشكول وموافق للمطبوع (٢ / ١٣٤)وفى الادب المفرد (ص ٩٧، والدارمى(١|٢٢٩) )

ژباړه:

له ابوقلابه څخه روایت دی، چې موږ ته مالک بن حویرث حدیث بیان کړی، چې موږ نبی کریم ﷺته راغلو او موږ ځوانان او همزولي و؛ نو شل ورځې مو ور سره تېرې کړې او نبی کریمﷺ شفقت کوونکی و، کله چې یې ګومان راغلی، چې زموږکور والاوو ته مینه پیداشوې ده؛ نو له موږ نه یې د هغه چا په اړه وپوښتل، چې موږ په کورونو کې پرېښې وو، موږ ورته خبر ورکړ؛ نو ویې ویل خپلوکورونو ته ستانه شئ هلته و وسېږئ او ښوونه ورته وکړئ او امر ورته وکړئ او داسې ډېر شیان یې ذکر کړه، چې ځینې راته یاد دي اوځینې راته یاد نه دي او داسې لمونځ کوئ، لکه چې زه یې کوم....ترپایه.

دا حدیث مبارک پر دې مسئله دلیل دی، چې د سړي او ښځې په لمانځه کې توپیر نشته، ځکه که چېرته د دوی په لمانځه کې توپیر وای؛ نو

رسول اللهﷺ به خامخا مالک بن حويرث او د هغه ملګرو ته بيان کړی وای او خصوصاً په داسې وخت کې، چې هغوی خپلو کورونو ته ستنېدل او خپل کور والاوو ته يې دين وربنووده.

البته د لمانځه، چې کوم بهرني احکام دي؛ نو په هغې کې د سړيو او ښځو ترمينځ توپير شته، ځکه هغه توپيرونه په صحيح حديثونو کې راغلي دي؛ خو په لمانځه کې دننه د سړيو او ښځو د لمانځه ترمينځ د توپير په اړه داسې صحيح حديث نه دي راغلي، چې په هغې کې د دې خبرې بيان وي، چې ښځه دې داسې لاسونه اوچتوي. داسې دې لاسونه تړي. داسې دې سجده کوي او دغه شان دې قعده کوي او سړی به يې د ښځې په څېر نکوي داسې څه حديث نشته دی.

**دويم دليل**:

رسول اللهﷺ خپل امت له دې نه منع کړی، چې په لمانځه کې له حيواناتو سره مشابهت وکړي. لکه موږ له دې څخه منع شوي يو، چې د سپي او د لېوه په څېر په سجده کې کېنو. لېچې پر زمکه وغوړوو. اوګوره بخاری مسلم ترمذی

دغه شان دنقرة الغراب (د کارغه په شان ټونګه وهلو) نه منع راغلي ده. لکه دا حديث او دا بحث وروسته تفصيلي راروان دی

اوګوره فتاوی الدين الخالص ۸۶\۴.

نو له دې حيواناتوسره له مشابهت کولو نه منع راغلې ده او دا سړيو او ښځو دواړو ته شامل دی. ياني څنګه، چې له دې حيواناتو سره ځان مشابه کول د سړی لپاره منع دي؛ نو د ښځې لپاره هم منع دي او ښکاره خبره ده، چې کله ښځه داسې سجده وکړي، چې جوخته وي؛ نو له دې حيواناتو_سپي او لېوانو_سره يې مشابهت راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دريم دليل**:

عدم نقل دی، ياني که چېرته د سړي او ښځې د لمانځه ترمينځ توپير وای؛ نو رسول الله ﷺ به ارومرو امت ته د دې بيان کړی وای، سره له دې، چې هيڅ صحيح حديث داسې نشته، چې پر دې دلالت وکړي، چې ګوندې د سړيو او ښځو په لمانځه کې توپيرشته رسول الله ﷺ؛ خو د دين ډېرې وړې او غټې مسئلې هم بيان کړي دي؛ نوکه چېرته د ښځې او سړي په لمانځه کې توپيروای؛ نوهغه به يې هم بيان کړی وای، سره له دې، چې له دې کار سره مسلمان د ورځې لږ تر لږه پنځه ځله مخ کېږي.

**څلورم دليل**

امام بخاری ﷺ په خپل صحيح کې (۱۱۴\۱) او تاريخ صغير ص (۹۰) او ابن ابی شيبة په خپل مصنف کې (۲۷۰\۱) روايت کوي

عن مکحول قال: وَكَانَتْ أُمُّ الدَّرْدَاءِ: «تَجْلِسُ فِي صَلَاتِهَا جِلْسَةَ الرَّجُلِ وَكَانَتْ فَقِيهَةً».

ژباړه:

له مکحول څخه روايت دی، چې ام درداء به په لمانځه کې د سړيو په څېر کېناسته او دا فقيهه ښځه وه

د امام ابوحنيفة له استاد ابراهيم نخعي ﷺ څخه نقل دي، هغه فرمايي

«تَقْعُدُ الْمَرْأَةُ فِي الصَّلَاةِ كَمَا يَقْعُدُ الرَّجُلُ»

مصنف ابن أبي شيبة (١ / ٢٤٢)

ژباړه:

ښځه به په لمانځه کې دسړيو په شان کېني

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د سړيو او ښځو د لمانځه ترمنځ د توپير د نشتوالي په اړه د علماوو ويناوې**

۱. د امام بخاری ﷫ ۲. او دغه شان د امام ابراهيم نخعي ﷫ قول مخکې ذکر شو، هغه فرمايي، ښځه او سړی به په لمانځه کې يوشان کېني

۳. حافظ ابن حجر عسقلانی﷫ په فتح الباری (۲۲۲\۲) کې ليکي

لَمْ يَرِدْ مَا يَدُلُّ عَلَى التَّفْرِقَةِ فِي الرَّفْعِ بَيْنَ الرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ وَعَنِ الْحَنَفِيَّةِ يَرْفَعُ الرَّجُلُ إِلَى الْأُذُنَيْنِ وَالْمَرْأَةُ إِلَى الْمَنْكِبَيْنِ لِأَنَّهُ أَسْتَرُ لَهَا

فتح الباري لابن حجر (٢ / ٢٢١):

ژباړه:

داسې حديث نشته، چې د ښځې او سړي د لمانځه تر منځ پر توپير دلالت وکړي، حنفيان وايي، چې سړی به لاسونه ترغوږونو او ښځه به يې تر اوږو او چتوي، ځکه دا د دې لپاره ډېر پټوونکي دي.

دا توپير يواځې له احنافو علماوو نه نقل دی، چې سړی به ترغوږونو او ښځه به يې تراوږو پورې لاسونه اوچتوي (په دې عقلي وجه باندې چې) ځکه دا د ښځې لپاره ډېر ستراو پرده ده.

**څلورم دليل:**

قاضی شوکاني ﷫ ليکي

وَاعْلَمْ أَنَّ هَذِهِ السُّنَّةَ تَشْتَرِكُ فِيهَا الرِّجَالُ وَالنِّسَاءُ وَلَمْ يَرِد مَا يَدُلُّ عَلَى الْفَرْقِ بَيْنَهُمَا فِيهَا، وَكَذَا لَمْ يَرِدْ مَا يَدُلُّ عَلَى الْفَرْقِ بَيْنَ الرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ فِي مِقْدَارِ الرَّفْعِ.

نيل الأوطار (٢ / ٢١٤)

ژباړه

پر دې پوه شه، چې په دې سنت کې ښځه اوسړی يوشان دي او پر توپير



دليل نشته او د لاسونو اوچتولو په اندازه کې هم په توپيرباندې دليل نشته. وروسته بيا ليکي

وَرُوِيَ عَنْ الْحَنَفِيَّةِ أَنَّ الرَّجُلَ يَرْفَعُ إِلَى الْأُذُنَيْنِ وَالْمَرْأَةَ إِلَى الْمَنْكِبَيْنِ لِأَنَّهُ أَسْتَرُ لَهَا وَلَا دَلِيلَ عَلَى ذَلِكَ.

نيل الأوطار (٢ / ٢١٤)

ژباړه

له حنفيانوڅخه نقل دي، چې سړی به لاسونه ترغوږونو او ښځه به يې تر اوږو پورته کوي : خو د دوی پر دې خبره څه دليل نشته

**پنځم دليل:**

علامه شمس الحق عظيم ابادي په عون المعبود شرح سنن ابی داود کې ليکي:

لَمْ يَرِدْ مَا يَدُلُّ عَلَى التَّفْرِقَةِ فِي الرَّفْعِ بَيْنَ الرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ وَعَنِ الْحَنَفِيَّةِ يَرْفَعُ الرَّجُلُ إِلَى الْأُذُنَيْنِ وَالْمَرْأَةُ إِلَى الْمَنْكِبَيْنِ لِأَنَّهُ أَسْتَرُ لَهَا

فتح الباري لابن حجر (٢ / ٢٢١)

ژباړه

په توپير د سړي او د ښځې په لمانځه کې د لاسونو په پورته کولو کې دليل نشته او له حنفيانو نه نقل دي، چې سړی به لاسونه تر غوږونو او ښځه به يې تر اوږو پورته کوي ځکه په دې کې ستر ډېر دی

**شپږم دليل:**

شيخ ابوالحسن عبدالله مبارکفوري صاحب په مرعاة شرح مشکوة کې ليکي:

واعلم أنه لم يرد ما يدل على الفرق بين الرجل والمرأة في محل الوضع،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومذهب الحنفية أن الرجل يضع اليدين تحت السرة والمرأة تضعهما على الصدر؛ لأنه أستر لها. ولا دليل على هذا الفرق من السنة ولا من قول الصحابي.

مرعاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح (٣ / ٦٣)

ژباړه

پوه شه؛ چې د ښځو او سړيو په لمانځه کې د لاسونو کېښودو د توپير په اړه کوم دليل نشته، د سړيو او د ښځو د لاسونو کېښودو د ځای په اړه د حنفيانو مذهب دادی، چې سړی به لاسونه ترنامه لاندې ږدي او ښځه به يې پرسينه ږدي، ځکه په دې کې ستر ډېر دی او پر دې خبره نه له حديث نه دليل شته او نه له کوم صحابي نه څه دليل نشته

اووم دليل

محدث العصر امام الالبانی ليکي:

كل ما تقدم من صفة صلاته صلى الله عليه وسلم يستوي فيه الرجال والنساء ولم يرد في السنة ما يقتض استثناء النساء من بعض ذلك بل إن عموم قوله صلى الله عليه وسلم: (صلوا كما رأيتموني أصلي) يشملهن وهو قول إبراهيم النخعي قال:

(تفعل المرأة في الصلاة كما يفعل الرجل)

أخرجه ابن أبي شيبة (١ / ٧٥ / ٢) بسند صحيح عنه ژباړه

مخکې، چې کوم د نبي کريمﷺ د لمانځه کيفيت بيان شه په دې کې سړي اوښځې يوشان دي او په سنت کې داسې څه نشته، چې له دغه عام نه د ښځې پر استثنا دلالت وکړي، بلکې د نبي ﷺ د دې وينا عموم، چې (صلوا كما رأيتموني أصلي) زمايه شان لمونځ کوئ دواړو ته شامل دی او دا د ابراهيم نخعی وينا هم ده، چې ويلي يې دي: ښځه به داسې لمونځ کوي،



لکه چې سړی يې کوي

صفة صلاة النبي صلى الله عليه وسلم - الألباني (١ / ١٨٩)

صفة صلاة النبى للالبانى (ص: ٢٠٧)

**اتم دليل:**

امام ابن حزم رحمه الله ليکي

وَأَمَّا الْمَرْأَةُ - فَلَوْ كَانَ لَهَا حُكْمٌ بِخِلَافِ ذَلِكَ لَمَا أَغْفَلَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَيَانَ ذَلِكَ

المحلى بالآثار (٣ / ٣٩)

ژباړه:

که د ښځې لپاره جلا حکم وای؛ نو نبي کريمﷺ به د هغې له بيانه نه وای غافله شوی

المحلى: ٣٩\٣) صفة الركوع والسجودالمطلوبة شرعا.

٩- د امام ابوحنيفة او امام مالک مذهب

علامه عينی حنفي په عمدة القاری شرح صحيح البخاری کې د دې روايت لاندې، چې (ام درداء به په لمانځه کې د سړو په شان کېناسته) ليکي

فَدلَّ هَذَا على أَن الْمُسْتَحبّ للْمَرْأَة أَن تجْلِس فِي التَّشَهُّد كَمَا يجلس الرجل، وَهُوَ أَن ينصب الْيُمْنَى ويفترش الْيُسْرَى، وَبِه قَالَ النَّخعِيّ وَأَبُو حنيفَة وَمَالك.

عمدة القاري شرح صحيح البخاري (٦ / ١٠١)

ژباړه:

دا حديث پر دې دليل شو، چې د ښځې لپاره ښه داده، چې په تشهد کې به د سړي په څېر کېني او هغه دا، چې ښي پښه به ودروي او چپه پښه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



وغوړوي او پردې نخعي، ابوحنيفة اوامام مالک قول کړی دی.

(عمدة القاری شرح صحيح البخاری للعينی: ۶\۱۰۱، وحاشية علی البخاری: ۱\۱۴۴، للشيخ احمدعلی السهارنفوری)

۱۰_دغه شان په فتاوی الدين الخالص ۴\۸۷. ۸۴. کې

۱۱ شيخ ابوالحسن مبشراحمدربانی په خپل کتاب (آپ کے مسائل اوران کاحل ۱\۱۹۵، ۱۸۸) کې

۱۲ حافظ محمدابراهيم سلفی﷬ په خپله رساله کې، چې پر دې موضوع باندې يې ليکې ده، چې د سړي او د ښځې په لمانځه کې هيڅ توپيرنشته. هم دا خبره واضحه کړې ده.

د حنفيانو د مذهب تجزيه

حنفيان علماء، چې په سجده، قعده، تکبير تحريمه کې د په لاس اوچتولوکې او پر سينه باندې لاس تړلو کې د سړيو او ښځو ترمينځ توپير کوي؛ نو دوی په دليل کې قياس پيش کوي، چې دا د ښځې لپاره ډېره د پردې خبره ده.

د دې ځواب دادی، چې که چېرته د رسول الله ﷺ لمونځ د ښځو د ستر او پردې خلاف وي؛ نو بيا نبي ﷺ ولې ښځو ته دا نه ويل، چې تاسې زما په څېر لمونځ مه کوئ؟ ځکه زما په لمانځه کې د ښځولپاره ډېره پرده نشته والعياذبالله؛ خو که دوی ووايي، چې رسول الله ﷺ؛ خو ښځوته ويلي دي، چې تاسې سجده جوخته کوئ او لاسونه تر اوږو پورې پورته کوئ، لکه دا روايت بيهقی ۲\۲۲۲، مجمع الزوائد ۲\۱۰۳، مصنف عبدالرزاق ۳\۱۳۸، ۱۳۷، ابن ابی شيبة ۱\۲۷۰. کې ذکردي همدغه راز ځينی نورو روايتونه، چې حنفيانوپه دې اړه وړاندې کړي دي د دې ټولو ځواب دادی، چې حنفيانو کوم روايتونه وړاندې کړي دي هغه ټول کمزوري دي په



هغې کې يو هم صحيح حديث نشته او که چېرته په دې اړه صحيح حديث او اثرونه راغلي وای؛ نو اهل الحديث والسنة؛ خو بيا له هرچاڅخه پردې د عمل کولو ډېر حقداروو. چې لومړی دوی پر دې عمل کړی وای

که څوک د حنفيانو د دليلونو د ضعف وجه معلومول غواړي: نو هغه دې فتاوی الدين الخالص (۴\۸۵. ۸۴)ته مراجعه وکړي

**فائده:**

تاسې وکتل د امام ابوحنيفه مذهب هم دا دی، چې ښځه به د سړي په څېر قعده کوي؛ خو خان ته د ابوحنيفة مقلدين ويونکي دا نه مني (فالی الله المشتکی هذا وبالله التوفيق).

**اوومه مسئله: ښځوته د ښځې د امامت کولو حکم**

بله مسئله دا ده چې ايا ښځې په ښځو ته امامتي کولای شي او که نه ؟هو! کولای يې شي او دا يو مستحب عمل دی، که څه هم د حنفي د فقهي په ځينې کتابونوکې دي، چې ښځې به يواځې خپل مينځ کې د جمعې لمونځ نه کوي او دا کار د دوی لپاره مکروه دی؛ خو دغه خبره ناسمه ده او بې دليله ده او د ښځو لپاره په خپل مينځ کې په جمع سره لمونځ کول. چې يوه ښځه امامه شي او نورې ښځې د هغې مقتديانې شي، په دې طريقه ښځولپاره جمع کول مستحب دي اوڅوک، چې خپل مينځ کې د ښځو جمع کول مکروه ګڼي: نو دا خبره يې خطاده په دې اړه له هغوی سره هيڅ صريح دليل نشته، چې پردې دلالت وکړي. ښځې په خپلو منځو کې جمع يانې د جمعې لمونځ نشي کولای. بلکې هغوی د صريح او صحيح روايتونو په مقابله کې پر متشابهاتو باندې استدلال کوي، لکه دا خبره علامه ابن قيم ﷫په اعلام الموقعين_(۲\۲۷۳)کې هم بيان کړې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



پردې خبره، چې د ښځولپاره په جمعې سره لمونځ کول په غیر له کراهت ښخه جائزدی، بلکې مستحب دي، چې په دې اړه دلائل دا دي:

اول دلیل: سنن ابی داود (۸۷\۱۱) رقم ۵۹۱، کې دي:

بَابُ إِمَامَةِ النِّسَاءِ

عَنْ أُمِّ وَرَقَةَ بِنْتِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ نَوْفَلٍ الْأَنْصَارِيَّةِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا غَزَا بَدْرًا، قَالَتْ: قُلْتُ لَهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، ائْذَنْ لِي فِي الْغَزْوِ مَعَكَ أُمَرِّضُ مَرْضَاكُمْ، لَعَلَّ اللَّهَ أَنْ يَرْزُقَنِي شَهَادَةً، قَالَ: «قَرِّي فِي بَيْتِكِ فَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يَرْزُقُكِ الشَّهَادَةَ»، قَالَ: فَكَانَتْ تُسَمَّى الشَّهِيدَةُ، قَالَ: وَكَانَتْ قَدْ قَرَأَتِ الْقُرْآنَ فَاسْتَأْذَنَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَتَّخِذَ فِي دَارِهَا مُؤَذِّنًا، فَأَذِنَ لَهَا . سنن أبي داود (١ / ١٦١)

[حكم الألباني] : حسن

ژباړه:

د ورقه له مورڅخه، چې د نوفل لورده روایت دی، چې نبي کریم ﷺ کله د بدر غزا وکړه. دا وايي: ما ورته وويل: ای د الله رسوله!ﷺ ماته د جهادکولو اجازه راکړه، چې ستاسې د ناروغانوخدمت به کوم، کېدای شي الله ﷻ ما ته شهادت را په برخه کړي، نبي کریمﷺ ورته وفرمایل: په کورکې کېنه الله ﷻ به تا ته شهادت درکړي، راوی وايي؛ نو دا شهیده وه راوی وايي دې قرآن لوستلی وه؛ نو له نبي ﷺ څخه يې په کورکې د یوه مؤذن نیولو اجازه وغوښته: نو اجازه يې ورته وکړه... حدیث تر پایه ولوله.

او د دې حدیث سند حسن دی (انظرصحیح ابی داود: ۱۱۸\۱۱، رقم ۵۹۱)

د ابوداود په بل روایت کې داهم دي، چې:



وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَزُورُهَا فِي بَيْتِهَا وَجَعَلَ لَهَا مُؤَذِّنًا يُؤَذِّنُ لَهَا، وَأَمَرَهَا أَنْ تَؤُمَّ أَهْلَ دَارِهَا، قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ: فَأَنَا رَأَيْتُ مُؤَذِّنَهَا شَيْخًا كَبِيرًا.

سنن أبي داود (١ / ١٦٢)

[حكم الألباني] : حسن

و سنده حسن کماقی صحیح ابی داود: ۵۹۲\۱، و ارواء الغلیل: ۳۱\۲، للالبانی

ژباړه:

نبي کریم ﷺ به د دې زنانه ملاقات لپاره کورته ورته او دې لره يې مؤذن هم مقررکړ، چې دې ته به يې اذان کاوه او دايې ور ته حکم وکړ، چې خپل کور والاته امامت کوه او عبدالرحمن بن خلاد وايي: ما د هغې مؤذن ولیده، چې ډېر بوډاوه.

دا حدیث په نوروکتابونو د حدیث کې هم شته اوګوره:

المنتقی لابن الجارود ص: ۱۲۲، رقم: ۳۳۳، دارقطنی مع التعلیق المغنی: ۴۰۳\۱، السنن الکبری للبیهقی: ۱۳۰\۳، والحاکم: ۲۰۳\۱، واحمد: ۴۰۵\۶، وابوعلی الصواف فی حدیثه : ۸۹، و محمد بن نصرالمروزی فی قیام اللیل ص: ۱۶۲، و نصب الرایه: ۳۲\۲، ۳۱، و غیرهم)

علامه شمس الحق عظیم ابادی ؒ د دې حدیث په شرح کې لیکي له دې حدیث څخه دامسئله معلومه شوه، چې ښځو ته د ښځوامامتي کول او د دوی جمع کول صحیح او ثابت دي په امر د رسول الله ﷺ باندې اوګوره عون المعبو، شرح سنن ابی داود

۲: عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا كَانَتْ «تُؤَذِّنُ، وَتُقِيمُ، وَتَؤُمُّ النِّسَاءَ، وَتَقُومُ وَسْطَهُنَّ»

المستدرك على الصحيحين للحاكم (١ / ٣٢٠)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(اخرجه الحاكم: ١\٢٠٣، وله طريق اخرروا عبدالرزاق فى مصنفه: ٣\١٤١، وفى المحلى: ٣\١٣٦، والبيهقى: ٣\١٣١)

ژباړه

عطاء له عائشي رضي الله عنها څخه روايت کوي، چي دې به اذان کاوه او ښځو ته به يې امامتې کوله؛ نو په مينځ کې به يې ودرېده.

عن ريطة الحنفية أن عائشة أمتهن وقامت بينهن في صلاة مكتوبة

مصنف عبد الرزاق - (٣ / ١٤١)

(قال النووى فى الخلاصة وسنده صحيح التعليق المغنى: ١\٤٠٤)

ژباړه

له ريطه څخه روايت دی، چي عائشي رضي الله عنها به دوی ته به يې د فرضي لمانځه امامتې کوله او په مينځ کې به يې ودرېدله (ياني د سړيو په څېر به له نورو ښځو نه مخکي نه ودرېدله، بلکي د لومړي صف په منځ کې به ودرېده).

او په همدې روايت کې دا هم راغلي دي، چي امامتي به يې کوله؛ نو د دوی سره به ودرېدله.

وله طريق اخر رواه ابن حزم في المحلى: ١٣٦\٣

عَنْ تَمِيمَةَ بِنْتِ سَلَمَةَ عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ: أَنَّهَا أَمَّتْ النِّسَاءَ فِي صَلَاةِ الْمَغْرِبِ فَقَامَتْ وَسَطَهُنَّ وَجَهَرَتْ بِالْقِرَاءَةِ

قَالَ عَلِيٌّ: هِيَ خِيرَةُ ثِقَةِ الثِّقَاتِ، وَهَذَا إِسْنَادٌ كَالذَّهَبِ.

المحلى بالآثار (٣ / ١٣٦)

ژباړه

له تميمه څخه روايت دی، چي عائشي رضي الله عنها به دوی ته د ماښام د لمانځه



امامتې کوله؛ نو په مينځ کې به يې ودرېدله اوپه زوره به يې قرائت کاوه

په بل هغه روايت کې دي، چي امام محمد په کتاب الآثار کې نقل کړی دی، چي له ابراهيم نخعي څخه روايت دی. عائشي رضي الله عنها به ښځو ته امامتي کوله، د رمضان مياشتې په مينځ کې

**فائده:**

د ام المؤمنين عايشي رضي الله عنها په دې حديث کې دا خبره په ډاګه شوه، چي ښځه د نورو ښځولپاره امامتي کولای شي او د فرض لمانځه امامتي هم کولای شي

### اتمه مسئله د لمانځه نيت

پرلمانځه تر ودرېدو له مخه په ژبه کوم اذکار يا دعاګانې ويل نشته، دا به نه کوې، چي نيت مې کړی زړه د اخلاصه... يا نو يت... او يا ځينې خلک د نيت په موخه دا آيت لولي:

إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ

[الانعام: ٧٩]

او دا بدعتونه دي، چي دې خلکو له ځانه جوړ کړي دي، په دين کې يې له سره هيڅ نښه او څرک نشي تر سترګو کېدای؛ نو له دې کارونو نه ځان ساتل پکار دي. بس يواځې د الله جل جلاله د رضا کولو نيت پکار دی ياني په دې فکر لمانځه ته ودرېدل پکار دي

البته په صف کې د ودرېدو پر مهال دا دعا راغلې:

اللَّهُمَّ آتِنِي أَفْضَلَ مَا تُؤْتِي عِبَادَكَ الصَّالِحِينَ

تخريج الأحاديث المرفوعة المسندة في كتاب التاريخ الكبير للبخاري (١ / ٥٣٠)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه:

اى الله ﷻ ما ته هغه غوره څه راکړه، چې ته یې خپلو نېکانو بنده ګانو ته ورکوې

که څه هم ددې روایت په سند کې لږ غوندې خبرې شته ؛خو سرې یې د فضائلو په درجه کې ویلای شي ؛ خو له لمانځه نه مخکې څه اذکار یا څه دعاګانې نه دي راغلې

د لمانځه لپاره نیت کول فرض دي (یاني لمونځ کونکی به ارومرو له خپل ځان سره د لمانځه د کولو اراده کوي)

پر دې خبره دا حدیث دلیل دی

إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ

صحيح البخاري ـ حسب ترقيم فتح الباري - (١ / ٢)

ژباړه:

اعمال په نیتونو پورې اړه لري

د لمانځه لپاره په ژبه دا ویل، چې نیت مې کړی او نیت کوم، چې دومره رکعته لمونځ کوم په دې ډول لمونځ کول بدعت دي، دلیل پرې دا دی، چې د الله له رسول څخه نه دي ثابت، ځکه رسول الله ډېر زیات لمونځونه کړي دي او د هیڅ لمونځ لپاره یې په ژبه هیڅ ډول الفاظ نه دي ویلي، بلکې په زړه کې به یې د لمانځه لپاره نیت کاوه.

دغه راز له صحابه کرامو څخه هم په ژبه د نیت ویل نه دي نقل او نه د دې امت له سلفو علماوو څخه چېرته نقل دي، چې هغوی په ژبه د لمانځه لپاره نیت ویلی وي

که چیري په ژبه نیت کول مستحب یاغوره عمل وای؛ نورسو ل الله صلى الله عليه وسلم، صحابه کرامو او د دین مشرانو، نورو سلفو علماوو



ولې په دې مستحب باندې عمل نه کاوه؟

لکه فتح القدير شرح الهدايه (١/٢٣٢)، مرقات د ملا علي قاري (١/٩٥) کې دي

قَالَ بَعْضُ الْحُفَّاظِ : لَمْ يَثْبُتْ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِطَرِيقٍ صَحِيحٍ وَلَا ضَعِيفٍ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ عِنْدَ الِافْتِتَاحِ أُصَلِّي كَذَا، وَلَا عَنْ أَحَدٍ مِنْ الصَّحَابَةِ وَالتَّابِعِينَ، بَلْ الْمَنْقُولُ أَنَّهُ كَانَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إذَا قَامَ إلَى الصَّلَاةِ كَبَّرَ وَهَذِهِ بِدْعَةٌ

فتح القدير لكمال بن الهمام - (٢ / ٧)

ژباړه

ځینو حدیثپوهانو ویلي دي، چې له نبي ﷺ څخه نه په صحیح او نه په ضعیف سند سره داسې نقل دي، چې هغه دې د لمانځه په پیل کې په ژبه داسې ویلي وي، چې دومره رکعتونه لمونځ کوم او همداشان نه له صحابه وو او تابعینو څخه په دې اړه څه نقل شته، چې ګوندې هغوی دې داسې کار کړی وي، بلکې داسې ترې نقل دي، چې کله به لمانځه ته پاڅېدل؛ نوالله اکبر به یې وایه او دا نور لفظونه ویل بدعت دي

دا چې په ژبه د نیت ویل نشته، ځکه له رسول الله ﷺ څخه نه دي ثابت او نه یې پرې حکم کړی دی دغه شان له صحابه کرامو او تابعینو څخه هم نه دي ثابت ؛ نو بیا څوک څه حق لري، چې دې ته مستحب، یاغوره عمل وایي.

پر دې خبره د ټولوعلماوو اتفاق دی، لکه څنګه چې پرموږ باندې د رسول الله ﷺ په فعل کې تابعداري فرض ده؛ نو دغه راز پر موږ باندې د یوه کار په نه کولو کې هم د رسول الله ﷺ فرض ده

ددې لپاره، چې داخبره ښه روښانه شي په دې اړه د علماوو عبارتونو نه خير شي:

امام ابن قيم رحمه الله په اعلام الموقعين ۳۹۰ کې ليکلي دي

والثاني عدم نقلهم لما لو فعله لتوفرت هممهم ودواعيهم أو أكثرهم أو واحد منهم على نقله فحيث لم ينقله واحد منهم البتة ولا حدث به في مجمع أبدا علم أنه لم يكن وهذا كتركه التلفظ بالنية عند دخوله في الصلاة

إعلام الموقعين - (٢ / ٣٩٠)

مطلب دا، چې عدم نقل دليل دی خکه که داکار رسول الله عليه السلام کړی وی نوموړته به دهغه نه نقل شوی وی سره له دې نه چې صحابه کرامو هرفعل اوقول ته ښه متوجه وواودسنتوبه يې زيات اهتمام کوه

ملاعلي قاري په مرقات (۱/ ۹۵) کې فرمايلي دي

وَقِيلَ: لَا يَجُوزُ التَّلَفُّظُ بِالنِّيَّةِ فَإِنَّهُ بِدْعَةٌ، وَالْمُتَابَعَةُ كَمَا تَكُونُ فِي الْفِعْلِ تَكُونُ فِي التَّرْكِ أَيْضًا.

مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح (١ / ٤٢)

ژباړه

پر ژبه د نيت ويل روا نه دي، خکه دا بدعت دی او لکه چې د رسول الله ﷺ تابعداري په کولوکې وي: نو په نه کولوکې يې هم وي

شيخ عبدالحق دهلوي فرمايي

والاتباع کمايکون فى الفعل وجب کذافى الترک

د رسول الله ﷺ خبره منل، لکه چې په کولوکې وي؛ نو په نه کولوکې هم وي

مطلب داچې د يوکار(تعبدا)ياني د عبادت لپاره نه وي کړی پر موږ هم



دا فرض نه ده، چې هغه کار به نه کوو وگوره اللمعات (۱/ ۳۲) الردالمختار ۱/ ۲۷۹] کې هم دي

محدثين وايي په ژبه د نيت ويل له رسول الله ﷺ څخه نه په صحيح سند او نه په ضعيف سند سره ثابت دي

سوچ او فکر کول پکار دي، چې کله د يوه شي نقل له رسول الله ﷺ څخه نه په صحيح سند سره او نه په ضعيف سند سره ثابت وي، همدا شان نه له صحابه کرامو او نه له تابعينو څخه ثابت وي؛ نو داسې کار کله مستحب کېدای شي؟

بلکې حقيقت دادی، چې د لمانځه لپاره په ژبه د نيت ويل يقيني بدعت دي د لا ډېر تفصيل لپاره د لاندينو کتابونو مطالعه کول پکار دي

الدرالسنية ۴/ ۲۷۵] کې دی، چې څوک تلفظ په نيت باندې مستحب ګڼي د دوی قول خطا او د ناپوهی پر بنسټ دی

دغه راز اغاثة اللهفان للامام ابن القيم (١٦٣/١) زادالمعاد (١٩٤/١) يا (٦٩/١) اعلام الموقعين (٣٩٠/٢)(٣٧٠/٢) فتاوى ثنائيه لمولانا ابوالوفا ثناء الله امرتسري (١٧٨/١) تلبيس ابليس ص (٢٥٣، ١٣٨) السنن والمبتدعات ص (٥٣) للشقيري فتح القدير شرح الهدايه (٢٣٢/١) مرقات (شرح مشكوة (٩٦/١، ٩٤) الامربالاتباع والنهى عن الابتداع ص (٢٩٥) للسيوطي فتاوى الدين الخالص (٤٥٩/١) تفصيلا مجوعة الفتاوى لشيخ الاسلام (٢٦٢/١٨)(٧٦٣/٢٢، ٢٣٧) عمدة الر عايه حاشيه شرح الوقايه (١٥٩/١) معجم البدع ص (٣١٣) للشيخ رائدصبري بن ابي علفه.

په دغو ټولو کتابونوکې دي، چې پر خوله باندې د لمانځه لپاره نيت ويل نشته او دا له رسول الله ﷺ، صحابه کرامو او تابعينو څخه ثابت نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه رازمولوي محمدحسن صديقي نانتوي حنفي د كنز په حاشيه كې(۲۱/۱) ليكلي دي، چې ))بل هى بدعة(( يانې دابدعت دى او ښوک. چې په ژبه د نيت ويل لازم ګڼي؛ نو دهغوى دا خبره د منلو وړ نه ده

همداشان مجدد الف ثاني صاحب هم ويلي دي، چې په ژبه نيت ويل نه له رسول اللهﷺ نه ثابت دي، نه له صحابه كراموؓ او نه له تابعينوڅخه نقل دي، بلكې دا كار بدعت دى

مكتوبات ص ۷۳، مكتوب نمبر ۱۸۲، دريېمه برخه

دغه شان علامه ابوالحسن مبشراحمدرباني حفظه الله هم دې ته بدعت وايي

په دې اړه وګوره اپكے مسائل اور ...... (ستاسې مسائل او د هغې حل د قرآن اوسنت په رڼا كې) ص (۱۱۲) (۲۹ رجب ۱۴۲۴هـ

**نهمه مسئله: لمانځه ته ودرېدل**

لمانځه ته د ودرېدو طريقه داده، چې ټول بدن به قبلې ته مخامخ كړي. لكه چې د مسيئ الصلاة په حديث كې راځي

فَاسْتَقْبِلِ القِبْلَةَ

قبلې ته ځان مخامخ كړه، يا ټول په ټوله متوجه شه

چې سينه او پښې دې دواړه متوجه وي، ځكه كه پښې لرې كړې وي؛ نو صف هم نه سمېږي او د دې حكم خلاف هم راځي چې:

فَاسْتَقْبِلِ القِبْلَةَ

نبيﷺ فرمايي، قبلې ته مخ واړوه، يا ټول بدن واړوه

فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ

ټول مخونه د كعبې لور ته واړوئ



**لسمه مسئله په صف كې جوخت ودرېدل**

په لمانځه كې به كوږ نه ودرېږې او چې پښې دې سمې كړې: نو ټول صف به سم شي كه په جمع كې وې ؛ نو جوخت جوخت ودرېږې. ځكه چې دا د نبيﷺ امر او د علماوو تر منځ اتفاقي مسئله ده، چې داسې جوخت به ودرېږې

(كَأَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوصٌ) (رُصُّوا صُفُوفَكُمْ)

ژباړه:

صفونه داسې جوخت كړئ، لكه چې قلعه يې پرې لګول شوي وي

په منځ كې فرجه نه وي، لكه چې نبيﷺ فرمايي

وَلَا تَذَرُوا فُرُجَاتٍ لِلشَّيْطَانِ

سنن أبي داود (۱ / ۱۷۹)

ژباړه:

يانې د شيطان لپاره پكې تش ځايونه مه پرېږدئ

دا اتفاقي مسئله وه؛ خو زموږ دې متاخرينو دا حسدونه د دين په جامه كې رانونيستل او دا يې داهلحديثو مسئله كړه، چې اهلحديث جوخت جوخت ودرېږي؛ نو موږ به وړاندې وړاندې ودرېږو او په دې مناظرې كول دا د ځينو خلكو عادت جوړشوى دى، سره له دې چې دا اتفاقي مسئله ده، فقه حنفي، شافعي، مالكي، په ټولوكې شته، دبېلګې په ډول د حنفي فقهې په نوموتي كتاب شامي كې يې ليكلي دي، چې په صف كې جلاجلا ودرېدل مكروه تحريمي دي، ځكه د الله نبيﷺ فرمايي

وَمَنْ قَطَعَ صَفًّا قَطَعَهُ اللَّهُ

سنن أبي داود (۱ / ۱۷۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه

اوچاچې صف پرې کړه؛ نوالله به ده لره پرې کړي [یانې الله ﷻ به يې له خپل رحمت څخه جلاکړي]

وايې

داسې وعیدونه یواځې د واجبو د پرېښودو په اړه وي. له دې وجې نه جوخت ودرېدل واجب دي او((رُصُّوا صُفُوفَكُمْ، لَا تَذَرُوا فُرُجَاتٍ لِلشَّيْطَانِ)) دا ټول احادیث ددې پر وجوب ګواه دي

انس بن مالک په خپل دور کې خپکان کړی دی، په هغه دورکې وايي ګوره د نبي ﷺ په زمانه کې به موږ سره جوخت جوخت ودرېدو(کنانلزق الْكَعْبَ بِالْكَعْبِ وَالقَدَمِ بِالقَدَمِ ) د ابوداوود په روایت کې دي ( والركبة بالركبة) او د غه مخکنی د بخاری روایت دی قدم له قدم سره یوځای کول. پړکی له پړکي سره یوځای کول او زنګون له زنګانه سره یوځای کول؛ نو هغه وايې اوس د نبي ﷺ تر وفات وروسته خلکو په صفونو کې نقصان پیداکړه (ولومددت الى احدهم رجلک لنفرکما ینفرالبغل الشموس) که ته داپښه یوکس ته ورنږدې کړې؛ نو داسې به در څخه وتښتي. لکه چې متکبر پښې (لتي) وهونکی قچر تښتي

چې ته وروړاندې شې، هغه به لته ووهي، چې وړاندې شه هلکه ګرمي ده.

داروايت يې په التعليق المغني کې (چې د دارقطني حاشيه ده) نقل کړی دی او ابن حجر په فتح الباری کې هم راوړی دی او عظیم ابادي ورسره لیکلي دي دا خو د هغه زمانې خبره وه، زموږ زمانې ته راشه، چې پښه دې وروړاندې کړه لنفرکماینفرالحمرالوحشية (د وحشي خره په څېر به درنه



منډه کړي) هغه پکې دا ویلي دي؛ نو له ځان نه وحشي خره جوړول نه دي پکار. دامسلمانان زموږ ورونه دي، که زموږ په تخرګ کې ودرېږي هم خیر دی؛ خو د دې مطلب دا نه دی، چې سړی له ډېر تکلف څخه کار واخلي، ځکه ځینې ملګري په دې مسئله کې غلو فی الدین والاشي، بیا د سړي د پښې د پاسه پښه ږدي، یا په صف کې دومره تنګ ودرېږي، چې په ټول صف کې، بیا پرېشان ولاړ وي او خشوع يې نه را جوړېږي، داسې هم مه کوئ. بلکې په صف کې داسې جوخت ؛ خو خپلې اندازې سره ودرېږه، ان شاءالله نه به په تکلیف کېږي او فائده به هم درسېږي او دا څه اختلافي مسئله نه ده. بلکې اختلاف یواځې په دې کې دی، چې نږدې او جوخت ودرېدل په صف کې واجب دي او که سنت؟ نو د ځینو علماوو نظر دادی، چې په صف کې جوخت ودرېدل سنت دي او د محققینو علماوو قول دادی، چې نه په صف کې جوخت ودرېدل (یانې پښه له پښې او اوږه له اوږې سره لګول) واجب دي او دا قول راجح دی او په دې مسئله دلائل دادي

اول دلیل امیرالمؤمنین في الحدیث رئیس المحدثین امام بخاري په خپل صحیح کې باب راوړی دی (باب إِلْزَاقِ الْمَنْكِبِ بِالْمَنْكِبِ وَالْقَدَمِ بِالْقَدَمِ فِي الصَّفِّ.) یو له بل سره د اوږو او پړکو پیوسته کولو باب

بیايې وروسته د انس حدیث راوړی دی، چې فرمایي

عن النبي صلى الله عليه وسلم قَالَ : « أَقِيمُوا صُفُوفَكُمْ وَتَرَاصُّوا، فَإِنِّي أَرَاكُمْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِي ». قَالَ فَلَقَدْ رَأَيْتُ الرَّجُلَ يُلْزِقُ مَنْكِبَهُ بِمَنْكِبِ أَخِيهِ إِذَا قَامَ فِي الصَّلَاةِ ».

ژباړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له نبي ﷺ څخه روایت دی، چې نبي علیه السلام فرمایلي دي:
خپل صفونه سم جوړ کړئ او جوخت جوخت ودرېږئ. خکه زه مو له شاڅخه وینم. انس بن مالک ﷺ فرمایي، چې موږ به اوږې له اوږو سره او پښې به مو له پښو سره لګولې،

السنن الكبرى للبيهقي وفي ذيله الجوهر النقي - (٢ / ٢١)

امام ابن حزم په المحلى[٣٧٥/٢] کې فرمایي:
پر دې خبره د صحابه کرامو اجماع ده.

دویم دلیل

وَقَالَ النُّعْمَانُ بْنُ بَشِيرٍ رَأَيْتُ الرَّجُلَ مِنَّا يُلْزِقُ كَعْبَهُ بِكَعْبِ صَاحِبِهِ.

ژباړه:

نعمان بن بشیروایي: مابه خپل تول ملګري لیدل، چې خپل پړکي به یې د ملګرو له پړکو سره لګول.

صحيح البخاري ـ حسب ترقيم فتح الباري - (١ / ١٨٥)

داحدیث امام ابوداود په صحیح سند سره داسې نقل کړی دی:

قَالَ سَمِعْتُ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ يَقُولُ أَقْبَلَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَلَى النَّاسِ بِوَجْهِهِ فَقَالَ « أَقِيمُوا صُفُوفَكُمْ ». ثَلاَثًا « وَاللَّهِ لَتُقِيمُنَّ صُفُوفَكُمْ أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللَّهُ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ ». قَالَ فَرَأَيْتُ الرَّجُلَ يُلْزِقُ مَنْكِبَهُ بِمَنْكِبِ صَاحِبِهِ وَرُكْبَتَهُ بِرُكْبَةِ صَاحِبِهِ وَكَعْبَهُ بِكَعْبِهِ

ژباړه:

له نعمان بن بشیرڅخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ صحابه کرامو طرفته مخ راوګرځولو او ارشاد یې وفرمایه: خپل صفونه برابروئ او یا به الله تعالی ستاسې د زړونو ترمینځه اختلاف (اوپرېشاني) روالي.نعمان بن



بشیرفرمایي: ما به صحابه کرام لیدل، چې خپله اوږه به یې دبل ملګري داوګې سره اوخپله ګوډه به یې دملګري له زنګون سره اوخپل پړکی به یې دملګري دپړکي سره پیوسته کاوه.

سنن أبي داود ـ محقق وبتعليق الألباني - (١ / ٢٤٩)

داحدیث د دې عمل پر وجوب دلیل دی، خکه چې د نبي ﷺ په امر سره شوی دی او د هغه په مخکې تولو صحابه وو په سخته پابندۍ سره تر سره کړی دی. حدیث الفاظوته په پوره پاملرنې انصاف اواخلاص سره سوچ وکړی.

بله دا، چې صحابه وو دغه عمل دنبي ﷺ له امر (أَقِيمُوا صُفُوفَكُمْ) څخه معلوم کړی اوعملي کړی دی او نبي ﷺ پرې تقریر کړی (یاني غلی پر ی پاتې شوی دی)

٣ _دریم دلیل:

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « أَلاَ تَصُفُّونَ كَمَا تَصُفُّ الْمَلاَئِكَةُ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَلَّ وَعَزَّ ». قُلْنَا وَكَيْفَ تَصُفُّ الْمَلاَئِكَةُ عِنْدَ رَبِّهِمْ قَالَ « يُتِمُّونَ الصُّفُوفَ الْمُقَدَّمَةَ وَيَتَرَاصُّونَ فِى الصَّفِّ »

.سنن أبي داود ـ محقق وبتعليق الألباني - (١ / ٢٤٩)

ژباړه:

جابر بن سمره وایي، چې نبي علیه السلام فرمایلي دي: تاسې ولې داسې صفونه نه جوړوئ، لکه چې ملائک یې دالله پرورګاندي جوړوي موږوویل، چې ملائک څنګه صفونه جوړوي؛نووه یې ویل چې لومړی صف پوره کوي اوپه صف کې سره جوخت ودرېږي

دتراصي ماناده تلاصق له یوبل سره داسې جوخت ودرېدل، لکه چې

دېوال باندې قلايي لګېدلي وي

اوګوره النهايه في غريب الاثرلابن الاثير: ۲۲۷/۲]

خلورم دليل

عن عبدالله بن عمر_رضى الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ:

« أَقِيمُوا الصُّفُوفَ، وَحَاذُوا بَيْنَ الْمَنَاكِبِ، وَسُدُّوا الْخَلَلَ، وَلِينُوا بِأَيْدِى إِخْوَانِكُمْ، وَلاَ تَذَرُوا فُرُجَاتٍ لِلشَّيْطَانِ. وَمَنْ وَصَلَ صَفًّا وَصَلَهُ اللَّهُ، وَمَنْ قَطَعَ صَفًّا قَطَعَهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ ».

رواه ابوداوود بسندصحيح: ۹۷/۱، رقم: ٦٦٦]

ژباړه:

له عبدالله بن عمررض څخه روايت دی چې نبي عليه السلام فرمايلي دي خپل صفونه برابر کړئ اواوداوګوترمينځ برابر والی راولئ اوخالي ځايونه بند کړئ اودخپلو ورونو لاسونوته نرم شئ اوشيطان لره خالي ځايونه مه پرېږدئ، اوچې چاصف پيوسته کړ الله به يې دخپل رحمت سره پيوسته کړي اوچې چاصف پرېکړه نوالله به يې دخپل رحمت نه پرېکړي

دې حديث ته ځيرکېدل پکاردي، چې دوصل صفااوقطع صفاڅه حقيقت دی؟اوبيادرسول الله عليه السلام ښېروته هم ځير کېدل پکاردي، چې الله تعالی به ده لره(پرېکړي) نو تاته به پته و لګي، چې په صف کې جوخت ودرېدل واجب دي ځکه دا قسم وعيدونه دېرد واجب په پرېښودل باندې وي،

دا ټول حديثونه پر دې مسئله باندې دليل دی، چې په لمانځه کې صف په داسې طريقه جوړول واجب دي، چې د مقتديانوبه ديوبل سره اوږې



اوپښې لګېدلي وي، څوک، چې په لمانځه کې اوږې اوخپې نه لګوي دهغوی نه واجب پاتي دي او د دې خلاف هيڅ يو داسې صحيح حديث يا د يوه صحابي عمل نه دی راغلی، چې مقتديان به پښې او اوږې نه لګوي، بلکې امام ابن حزم خو په صف کې د جوخت ودرېدو په اړه د صحابه کرامواجماع نقل کړې ده

ددې مسئلې تفصيل په المحلی ۳۷۹/۱]مصنف عبدالرزاق ۵۷/۲]عون المعبود: ۲۵۰/۱]سلسلة الاحاديث الصحيحة: ۳۸/۱، رقم ۳۲]فتح الباري ۱۲۷/۲] فتاوی الدين الخالص ۲۴۹/۵] المجموع شرح المهذب ۲۲۲/۴، ۲۲۵] الدرالمختار: ۳۸۲/۱]کې اوګوره،

علامه ابن حجرمکي په کتاب الزاجر: ۱۴۲/۱]کې ليکي چې صف نه برابرول اوجوخت نزدي نه اودرېدل ګناه کبيره ده، ځکه دېرزيات وعيدونه په کې راغلي دي نوله دي امله ټولومسلمانانوله پکاردي، چې په دې باندې د عمل کولوکوښښ وکړي

**يولسمه مسئله: د لومړي تکبير پر مهال د لاسونو اوچتول**

په صف کې تر ودرېدو وروسته د لاسونو اوچتولو مسئله ده، د لاسونو اوچتول په ډېرو صحيحو احاديثوکې تراوږو پورې هم راغلي دي او تر غوږونو پورې هم راغلي دي؛نو کله يې تر اوږو پورې اوچتوه اوکله يې تر غوږو پورې، چې دې ته تنوع فی العبادت وايي

په تکبيرتحريمه کې د لاسونو په پورته کولو د علماوو اجماع ده. په دې کې څوک هم اختلاف نلري، لکه ددې تفصيل په المجموع للنووی(۳۰۵\۳)کتاب الاجماع لابن المنذرص(۲۹)فتاوی الدين الخالص(۲۹\۴)کې ذکردی

کومو علماوو، چې په دې کې مذهبونه جوړکړي دي، چې زموږ په

مذهب کې تر غوږونو پورې د لاسونو اوچتول دي او د بل په مذهب کې تر اوږو پورې موږ به پر هغې عمل نه کوو او هغوی دې پردې عمل نه کوي: نو دا په دين کې تفريقې او ډله ډلبازي جوړول دي، بلکې موږ به دې ته ګورو که چېرته په سنت کې راغلي وي: نو پر دواړو طريقو به عمل ولې نه کوو؟دا تفرقه پکې ولې پيداکړو، چې دا زموږ مذهب او دا ستا مذهب دی، بلکې چې په سنت کې ثابت شو :نو دغه ټولې طريقې بيا زموږ مذهب دی، کله به پر يوه طريقه عمل کوو او کله به پربله، ځکه چې دا دالله د نبي طريقه ده او د اسلام په مذهب کې بيا دغه ټولې طريقې خپلول پکار دي : خو هله چې له محمدرسول الله ﷺ نه په صحيح سند سره ثابت شي او کله چې په صحيح سند سره ثابت شي :نو بيا پکې نورو مذهبونو جوړولو ته اړتيا نشته يواځې همدغه د اسلام مذهب بس دی کنه، چې امام يې پخپله محمدرسول الله ﷺ دی

په بخاري او مسلم کې پر دې اړه بنه قوي حديثونه راغلي دي، چې لاس تر غوږونو پورې اوچتول نبی ﷺ (( إِلَى فُرُوعِ أُذُنَيْهِ)) ګوتې اوچتې کړې

همداشان اکثراحاديث په دې اړه دي، چې (( بَابٌ: إِلَى أَيْنَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ؟)) کوم ځای پورې يې راوړي دي، چې رسول الله ﷺ ګوتې اولاسونه اوچت کړه الی منکبيه تر اوږو پورې يې لاس اوچت کړه

په دې کې دريمه طريقه هم روا ده، هغه دا چې د يخنۍ په وخت کې، چې څادر سرې پر ځان غوړولی وي:نو په داسې وخت کې ترسينې پورې د لاس اوچتول هم شته، د ابوداوود روايت دی، چې وائل بن حجر د يخنۍ په وخت کې لاس تر دغه ځايه اوچت کړ ی دی او د رفع اليدين دا طريقه غلطه ده، چې ځينې خلک لاس تر سينې هم لاندې پورې اوچتوي. دا غلطه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکې ساز په ادب سره لاس اوچت کړه، ځکه دا: خو [illegible] الله ﷺ [illegible] کوو د لمانځه دې هرحرکت اوسکنت کې بلا ډېرحکمتونه دي، که دا حکمتونه بيانول پيل کړو :نو ټول کال پرې لږېږي، دومره تفصيلي او ضروري احکام يې دي؛ خوهغه اوس نه بيانوو ؛ نو له دې امله د دې لاس اوچتولو ډېرحکمتونه دي لنډ حکمت يې دادی، چې دا دالله ﷺ د نبي طريقه ده، د الله بندګي ده، هغه ته عاجزي ده؛ نو دا عاجزي په عاجزۍ طريقې سره کول پکاردي، په ادب سره لاس اوچت کړه د دنيا شاته غورځول الله ﷺ ته توجه پيداکول دا پکې ستر حکمتونه دي؛ خو دغه خبرې پرېږده ؛نو لاس به تر دغه ځايه اوچتوې کله تر اوږو اوکله تر غوږونو پورې، لاس به هم قبلې ته مخامخ کوې، لکه په يوه کمزوري روايت کې راغلي دي او دغه صحيح حديث پکې دی

## دولسمه مسئله: لاس پر نامه که پر سينه کېښودل پکار دي؟

لاس، چې دې اوچت کړ: نو تر اوچتولو وروسته به يې همداسې سينې ته راکوزوې اوکه سرې يې يو ځل زوړند کړي، بيا يې را اوچت کړي دا دواړه طريقې روا دي؛ خو ځينې خلک تر زوړندولو وروسته لاس بيا راپورته کول سنت ګڼي ؛ خو دا سنت نه ده، همداسې له غوږ نه سينې ته لاس رانښکته کړه دا بالکل صحيح دی، لکه چې له سنت نه معلومېږي دغه طريقه به وکړې لاس به کېږدې صحيح حديثو ته چې سړی رجوع وکړي، عناد اوتعصب له ځانه لرې کړي، ځکه له عناد او تعصب سره زموږ څه کاردی ؟

که دالله نبي راته وايې چې پر زنګنونو يې کېږده: نو هلته به يې ږدو اوکه راته وايې، چې پر نامه يې کېږده: نو هلته به يې ږدو زموږ له تعصب سره کار نشته، بلکې زموږ له حق سره کار دی، چې په حقيقت کې څنګه وي هسې به يې کوو او چې کله په هغې کې موږ و پلټل: نو تر نامه لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس ايښودل په احاديثوکې نه دي راغلي دوه حديثونه پکې راغلي دي، چې هغه هم کمزوري روايتونه دي، يو د علي ؓ اثر دی ابوداود راوړی دی په نسخه د ابن الاعرابي کې دي، سره له دې چې په هره نسخه کې هم نشته هغه وايي:

«مِنَ السُّنَّةِ وَضْعُ الْكَفِّ عَلَى الْكَفِّ فِي الصَّلَاةِ تَحْتَ السُّرَّةِ»

سنن أبي داود (۱ / ۲۰۱)

[حكم الألباني] : ضعيف

ژباړه:

په لمانځه کې سنت داده، چې لاس پرلاس کېښودل شي تر نامه لاندې

دا حديث که ثابت وای؛ نو په سر، سترګو به موږ او تاسې منلی، ځکه چې د الله د نبي طريقه به وای ؛خو دا حديث له ډېرو وجهو له امله ثابت نه دی او منکر روايت دی، ځکه په سند کې يې زياد بن زائد مجهول راوي دی او عبدالرحمن بن اسحق الواسطي راوي پکې دی، چې دا متروک الحديث دی؛ نو دا حديث غورځېدلی دی او له علي ؓ نه نقل نه دی که له هغه نه نقل وای ؛نو موږ ته په سر، سترګوقبول و، دويم روايت چې هغه ځينې خلک د دې لپاره وړاندې کوي، چې تر نامه لاندې د لاسونوکېښودل ترې ثابت کړي، هغه په ابن ابی شيبة کې راغلی د وائل بن حجر روايت دی، هغه وايي چې ما نبي ﷺ وليده چې ښی لاس يې پر چپ لاس تر نامه لاندې کېښود، دکومو علماوو، چې تحقيق لږ کم دی، هغوی پر دې نه دي پوه شوي، چې دا روايت صحيح دی ؛ خو دا ((تَحْتَ السُّرَّةِ)) ټکی پکې ثابت نه دی، ځکه چې دابن ابي شيبة صحيح نسخې، چې په بېروت او مدينه کې چاپ شوي دي، ما خپله وکتلې، په هغې کې دا د ((تَحْتَ السُّرَّةِ)) ټکی



نشته، بلکې دا ټکی د کراچۍ په هغه چاپ کې دی، چې دائرة المعارف چاپ کړی دی، يانې دا کراچيوال حديث دی، نبوی حديث نه دی، له دې امله د اثارالسنن ليکوال ويلي دي، سره له دې، چې هغه ښه متعصب سړی دی؛ خو بيا هم وايي صحيح خبره داده، چې دا((تَحْتَ السُّرَّةِ)) ټکی من بعض النسايخ يامن بعض المطابع تېروتنه شوې ده، دا له نبي ﷺ څخه نقل نه دی، ځکه دا حديث کټ مټ په مسلم کې راغلی دی او دار قطني هم راخيستی دی تاسې ورته لږ ځير شئ؛

«وَضْعُ الْكَفِّ عَلَى الْكَفِّ فِي الصَّلَاةِ مِنَ السُّنَّةِ»

سنن الدارقطني (۲ / ۳۲)

ژباړه:

په لمانځه کې سنت داده چې لاس پرلاس کېښودل شي

دا هم کټ مټ هماغه روايت دی خو دغه ټکی ورسره نشته؛ نو دا دليل دی د دې روايت پرخرابوالي؛ نو دا حديث صحيح دی خو داجمله پکې ناسمه ده. له دې امله تر نامه لاندې د لاس کېښودو په اړه صحيح حديث نشته يانې په لمانځه کې تر نامه لاندې لاس کېښودل په احاديثو کې نه دي نقل، بلکې پر دوو ځايونو به په لمانځه کې لاسونه کېښودل کېږي، ځکه په صحيحو احاديثو کې دوه ځايونه راغلي دي، يو دا دی چې تر سينې نه لږ لاندې او له نامه نه لږ بره پر دغه ځای يې کېږده.

ځينې خلک وايي پر دغه ځای د لاس کېښودو په اړه هيڅ صحيح حديث نشته، د دوی دا خبره غلطه ده، ځکه په دې اړه تاسې صحيحو حديثونو ته ځير شئ، بخاري حديث نقل کړی دی په[۱۰۲]مخ کې، امام مالک ؒ په مؤطا کې نقل کړی دی له سهل بن سعد الساعدی حديث دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وايي:

«كَانَ النَّاسُ يُؤْمَرُونَ أَنْ يَضَعَ الرَّجُلُ اليَدَ اليُمْنَى عَلَى ذِرَاعِهِ اليُسْرَى فِي الصَّلَاةِ»

صحيح البخاري (١ / ١٤٩)

ژباړه:

صحابه وو ته به حكم كېده، چې په لمانځه كې دې سړى ښى لاس پر لېچي باندې كېږدي.

دا امر به چا كاوه؟نبي ﷺ؛ خلك څوك ول؟صحابه؛ ياني صحابه وو ته داحكم شوى دى، له دې امله لاس كېښودل له واجباتو څخه دي، كه چا لاسونه زوړند كړه دا بدعت دى، دا په سنت كې چېرته نه دي راغلي، څوك چې يې سنت ګڼي هغوى تېروتي دي، ځكه دا چېرته سنت كې نشته، لاس كېښودل ضروري دي، دا د بخاري روايت دى، ښه صحيح دى، د دې حديث مانا په نسايي كې راغلې ده، دوائل بن حجرحديث دى هغه داسې وايي، چې ما نبي ﷺ وليده، ښى لاس يې پر چپ باندې كېښود.

عَلَى الْكَفِّ وَالرُّسْغِ، وَالسَّاعِدِ

ژباړه:

پر ورغوي مړوند او مټ باندې يې لاس كېښوده.

ياني درېواړه په يوه ځل مراد دي دا حديث او د بخاري حديث دواړه يوه مانا لري: خو الفاظ يې بېلا بېل دي اوس، چې ته لاس پر دغه طريقه كېږدې او بې تكلفه ودرېږې؛ نو لاسونه تر نامه نه ښكته كېږي؛ نو صحيح حديث هم په لاس راغى او د لاس اېښودو ځاى هم معلوم شه

(دويم نمبر)حسن حديث درې ځلورروايته دي، چې په مجموعي طريقو



سره حسن ته رسېږي، چې دغه بحث به د حديثو د اصولو په لړ كې سړى كوي، دلته يې اوس نه شو كولاى؛ خو ان شاءالله حسن حديث دى همداشان د قبيصة بن هلب روايت. چې مسند احمد راوړى دى:

عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ هُلْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: " رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْصَرِفُ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ يَسَارِهِ، وَرَأَيْتُهُ، قَالَ، يَضَعُ هَذِهِ عَلَى صَدْرِهِ " وَصَفَّ يَحْيَى: الْيُمْنَى عَلَى الْيُسْرَى فَوْقَ الْمِفْصَلِ.

مسند أحمد ط الرسالة (٣٦ / ٢٩٩)

ژباړه:

((له قبيصه بن هلب.له خپل پلار نه روايت كوي، هغه وايي. ما نبي ﷺ وليد، چې له ښي او كيڼ لوري به راګرځېده، همداشان وايي، چې ما نبي ﷺ وليد، چې لاسونه به يې پر سينه كېښودل او يحى.ښى لاس پر كيڼ لاس د مړوند د پاسه كېښوده.))

په دې كې دادي، چې نبي ﷺ به ښى لاس پر چپ لاس باندې كېښوده ((الْيُمْنَى عَلَى الْيُسْرَى فَوْقَ الْمِفْصَلِ)) د جوړ د پاسه ((عَلَى صَدْرِهِ)) دا روايت مسند احمد راوړى دى او رجال يې ټول ثقات او باوري دي، امام احمد پكې دى خپله راغلى دى، يحيى بن سعيد القطان پكې دى، سفيان پكې دى سماك بن حرب پكې دى، چې دا ټول ثقات خلك دي بل دا چې سماك بن حرب استاد قبيصة بن هلب صحابي دى هغه پكې دى قبيصة پكې دى دا تابعي دى د صحابي زوى دى اويا يې شاګرد دى او دوه علماءكرامو د هغه توثيق كړى دى او د دې حديث نور شواهد هم شته؛ نو دا حسن حديث دى او له دې امله كه پر مړوند باندې چېرته لاس كېږدې؛ نو ((عَلَى صَدْرِهِ)) هم راغلى دى بالكل په مرى كې يې كېښودل هم غلوفى الدين ده ((لَا تَغْلُوْا

(c) ketabton.com: The Digital Library



فِيْ دِيْنِكُمْ)) ياني اى مومنانو په دين کې غلومه کوئ

او دا دلايل ناسم دي، چې وايي:

فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ

راغلی دی: نو د ((وَانْحَرْ)) مانا دانه ده (ضع يدک علی النحر (پرمری لاس کېږده)) دا د قرآن کريم د آيت تفسيرنه دی، عبدالله بن عباس ته د دې تفسير اسناد شوی دی؛خو سند يې ضعيف جداً دی کمزوری روايت دی.

دا هغه نه دي ويلي، بلکې د ((وَانْحَرْ)) مانا ذبح کول دي او د قرآن ناسم تفسير کول نه دي پکار، الله رب العزة پر دې امر نه دی کړی، چې لاسونه پر مری کېږدئ دا د قرآن مطلب نه دی ؛ نو دا په مری د لاسونو کېښودل تکلف دی او ظاهره دا ده، چې دا د خشوع خلاف هم ده، پکارداده چې سرې پرسينه لاس کېږدي، په دې کې لږ ډېر ادب هم راځي او يا لږ بره د سينې پر ابتدا باندې کېږدي بلاتکلفه، ياني مه يې ډېر لاندې ږده او مه يې ډېر بره، پدغه ځای کې

**پر سينه د لاسونو کېښودو په اړه حديثونه:**

لومړی حديث:

عن وائل بن حجر قال: صليت مع رسول الله صلى الله عليه و سلم ووضع يده اليمنى على يده اليسرى على صدره

صحيح ابن خزيمة -موافق للمطبوع - (١ / ٢٤٣)

ژباړه:

له وائل بن حجرڅخه روايت دی، چې له نبي عليه السلام سره مې لمونځ وکړه؛ نوښی لاس يې پر چپ د پاسه پرسېنه کېښود

والزيلعي في نصب الرايه: ٣١٤/١)والبيهقي في سننه: ٣٠/٢)من طريقين عنه



يقوى احدهماالآخركماقال الالباني في كتاب الجنائزص: ١١٨)

دې حديث شريف کې دا مسئله معلومه شوه، چې په لمانځه کې لاسونه پر سينه باندې تړل سنت طريقه ده او دا صحيح حديث دی، امام الباني په صفة صلاة النبي صلى الله عليه وسلم ص ٨٨) کې دا حديث صحيح کړی دی، دغه شان په کتاب الجنائزص ١١٨)کې د دې حديث لپاره نور شواهد هم ذکر کړي، چې يو شاهد يې بيهقي (٣٠/٢)کې په دوو طريقو سره راغلی الباني صاحب فرمايي يو د بل تقويه کوي، دويم شاهد امام احمد په خپل مسند کې مرفوع حديث روا ړی دی، چې په هغې کې هم دا ذکر دي، راويان يې ټول ثقه دي، يواځې په قبيصه راوي کې يې اختلاف دی، چې ابن حبان اوعجلي اونسائي ورته مجهول ويلي دي، امام الباني فرمايي:

فمثله حديثه حسن في الشواهد داسې حديث په شواهدو کې حسن وي کتاب الجنائز ١٨٨)دغه شان له وائل بن حجر نه په بل سندسره هم نقل دي، لکه دا حديث طبراني (٢٢ / ٥٠) ابن عدي (٢١٢٢/٢) بزازرقم (٢٢٨) راوړي دي؛ نو دا حديث د وائل بن حجر د دې شواهدو په بنا باندې صحيح دی،

او د وائل بن حجر روايت ته نورو محدثينو هم صحيح ويلي دي، لکه هغه حوالې په لاندې ډول دي

١: امام الباني، لکه دده عبارت مخکې ذکرشو

٢: القول المقبول في شرح و تعليق صلاة الرسول ص (٣٣٩) کې شيخ ابو عبدالسلام عبدالرؤوف ليکلي دي، چې دا د وائل بن حجر حديث صحيح دی،

٣: په تسهيل الوصول الى تخريج صلوة الرسول ص (٢٠٠) کې شيخ ابو طاهر حافظ زبير علي زى حفظه الله، چې دا په جرح او تعديل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهارت لري، ليکلي دي، چې د وائل بن حجر حديث صحيح دی
دغه راز حافظ زبير علي زی ليکي:
د هلب روايت هم صحيح دی هغه روايت دا دی:

عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ هُلْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ : رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْصَرِفُ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ يَسَارِهِ، وَرَأَيْتُهُ، قَالَ، يَضَعُ هَذِهِ عَلَى صَدْرِهِ

مسند أحمد موافقا لثلاث طبعات - (٥ / ٢٢٦)

ژباړه:

قبيصه له خپل پلار هلب نه روايت کوي، چې ما نبي وليده، چې له ښي او کيڼ لوري به راګرځېده او هلب وايي، چې (نبي) مې وليده، چې پر سينه يې لاسونه کېښودل.

دغه شان وائل بن حجر رض حديث، چې طبراني روايت کړی دی، هغه هم صحيح دی. دهلب روايت دآثار السنن مصنف هم حسن کړی دی سره له دې نه، چې هغه متعصب حنفي دی.

۴ نيل المرام حديث کې شيخ ابوعمر نورستاني ليکي
داحديث (حديث د وائل بن حجر) صحيح لغيره دی، د شواهد له امله.
نيل المرام شرح بلوغ المرام (۱/۲۱۷).

۵ په توضيح الاحکام من بلوغ المرام (۲/۳۰) کې عبدالله بن عبدالرحمن البسام ليکلي دي، چې د وائل بن حجر حديث صحيح دی او ليکي، چې دا حديث:

۶ ابن خزيمة هم صحيح کړی دی.

۷ امام ابن حبان هم صحيح کړی دی

۸ امام نووی هم په المجموع کې صحيح کړی دی.



۹ ابن القيم رحمه الله په زادالمعاد کې صحيح کړی دی

۱۰_شيخ مبارکفوري په تحفة الاحوذي (۱/۲۱۵) کې فرمايي دا حديث صحيح دی.

۱۱ ابن حجرهم صحيح کړی دی اوګوره تحفة الاحوذي (۱/۲۱۲)

۱۲ شيخ محمدحيات سندي حنفي هم ورته صحيح ويلي دي وګوره الدرة في اظهارغش نقدالصرةص (۲۷) دغه شان ابن اميرالحاج، چې احنافو ورته ابن الهمام ثاني وايي او صاحب د بحرالرائق له خبرو نه معلومېږي، چې هغوی هم دې ته صحيح ويلي دي. وګوره
تحفة الاحوذي (۱/۲۱۵) ابکارالمنن ص (۱۰۷)

۱۳ مولاناابوالوفاء ثناء الله امرتسري ليکلي دي، چې په سينه باندې د لاس تړلو حديث ابن خزيمة په خپل صحيح کې راوړي دي او هغه ورته صحيح ويلي دي دغه شان مسنداحمد کې دقبيصة بن هلب روايت هم شته، چې هغه حسن حديث دی فتاوی ثنائيه (۱/۴۵۷)

۱۴ په عين الهدايه شرح هدايه کې دي (۱/۴۵۰)، چې په سينه باندې د لاس تړلوحديث قوي دی،

دويم حديث

أَنَّ وَائِلَ بْنَ حُجْرٍ أَخْبَرَهُ قَالَ: " قُلْتُ لَأَنْظُرَنَّ إِلَى صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ يُصَلِّي، فَنَظَرْتُ إِلَيْهِ فَقَامَ فَكَبَّرَ، وَرَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى حَاذَتَا بِأُذُنَيْهِ، ثُمَّ وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى كَفِّهِ الْيُسْرَى وَالرُّسْغِ وَالسَّاعِدِ.الحديث------

سنن النسائي (٢ / ١٢٦)

[حكم الألباني] صحيح

رواه ابوداوود، والنسائي، و سنده صحيح انظر صحيح ابي داوود: ١/١٤٠،

(c) ketabton.com: The Digital Library



والنسائي: ١/١٩٤)

ژباړه:

له وائل بن حجر څخه روايت دی، هغه وايي، ماوغوښتل چې د نبي ﷺ لمونځ وګارم، چې څنګه لمونځ کوي؛ نو ما ورته کتل، چې پاڅېده، الله اکبر يې وکړه، لاسونه يې اوچت کړه تردې چې له غوږونوسره يې برابرکړه بيايې ښی لاس پر کيڼ ورغوي، مړوند او مټ باندې کېښوده..... ترپايه.

له دې حديث نه ښکاره معلومېږي، چې لاسونه پرسينه باندې کېښودل سنت طريقه ده، څکه هرکس دې بغير له تعصب او ضد کولو نه تجربه وکړي، چې يوکس ښی لاس دکيڼ لاس پر مړونډباندې کېږدي نو وبه ګوري، چې لاسونه يې پر کوم ځای راځي!

ددې حديث په شان حديث په صحيح بخاري (١/١٠٢) او موطا (١/١٤٣) کې (هم راغلي دي د ابوداوود، نسائي، بخاري او د مؤطا په احاديثوکې ولوکه د سينې لفظ نشته ليکن دا؛ خو ضرور شته، چې د کيڼ لاس پر ورغوي مړونداو مټ باندې لاس کېږدې؛ نو لاس خپله پر سينه باندې راځي او مخکېنې حديث کې هم دا ذکر شوه، چې رسول الله ﷺ به پر سينه باندې لاسونه کېښودل

٣: دريم حديث: په ابوداوودکې له طاووس نه په صحيح سندسره نقل دي، چې:

عَنْ طَاوُسٍ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «يَضَعُ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى يَدِهِ الْيُسْرَى، ثُمَّ يَشُدُّ بَيْنَهُمَا عَلَى صَدْرِهِ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ»

سنن أبي داود (١ / ٢٠١)

[حكم الألباني] : صحيح



ژباړه:

له طاوس نه نقل دي، چې نبي ﷺ به ښی لاس پرکيڼ لاس باندې کېښوده او بيابه يې پرسينه باندې کېښودل او دا به په لمانځه کې و.

دا حديث ابوداود رقم (٧٥٩)، صحيح ابي داود للالباني کې، دغه شان ابوداود نسخه الاعرابي کې دي، چې دغه شان امام بيهقي په کتاب المعرفة والآثارکې هم دی. داحديث ولوکه مرسل دی ليکن دلته دټولوعلماووپه نزد دليل اوحجت دی، څکه داحديث په بل سندسره متصل هم راغلی دی، لکه ارواء الغليل(٢/ ٧٠)کې ذکردي---اود احنافو په مذهب کې؛ خو مرسل حديث دليل ګڼل کېږي

فلامفرلهم عن هذاالحديث، نو له دې حديث نه يې تېښته نشته

وګوره تحفة الاحوذي (٢/ ٢١٢)، فتاوى الدين الخالص (٤/ ١٠١، ٩٤)، تفصيلا.

د مسئلې لنډيز دا دی، چې په لمانځه کې په سينه باندې لاسونه تړل په صحيح حديثونوکې ثابت دي، لکه ددې تفصيل ذکرشو.

**پرسينه باندې دلاس کېښودو په اړه د علماوو ويناوې**

١: د پيران پيرشيخ عبدالقادر جيلاني قول ((وضعوا اليمين على الشمال فوق السرة))

ای زمامريدانو! ښی لاس په کيڼ لاس باندې دنامه دپاسه په سينه کېږدئ غنية الطالبين (١/ ٤)،

٢: علامه صنعاني په سبل السلام(١/ ٢٥٩)کې فرمايي:

والحديث (حديث وائل بن حجر) دَلِيلٌ عَلَى مَشْرُوعِيَّةِ الْوَضْعِ الْمَذْكُورِ فِي الصَّلَاةِ، وَمَحَلُّهُ عَلَى الصَّدْرِ كَمَا أَفَادَ هَذَا الْحَدِيثُ

سبل السلام (۱ / ۲۵۲)

ژباړه:

د وائل بن حجر حديث په لمانځه کې د لاس پر کېښودلو باندې دليل دی او ځای يې سينه ده، چې له دې حديث نه څرګندېږي،

۳: مولانا ګوهررحمن په تفهيم المسائل (۲۹۷/۴) کې ليکي

پر سينه باندې لاس تړل، تر سينې لاندې لاس تړل او د نامه لاندې لاس تړل درې واړه په روايتونو کې موجود دي؛ خو بهتر دا ده، چې په لمانځه کې تر نامه بره او له سينې نه لږ لاندې وتړل شي؛ خو په سينه باندې لاس تړل يا تر نامه لاندې لاس تړل هم ګناه نه ده.

۴: مولانا ابوالحسن مبشراحمد رباني ليکي:

په لمانځه کې لاسونه د سينې له پاسه کېښودل پکار دي، چې له صحيح حديثونونه (دا طريقه) ثابته ده او تر سينې نه لاندې لاس تړلو والا حديثونه نهايي کمزوري دي. اوګوره آپ کے مسائل اوران کاحل قران وسنت کی روشني ميں: ۱/۱۲۷، ۱۲۶)

۵: علامه ابوالوفاء ثناء الله امرتسري په فتاوی ثنائيه (۱/۴۵۷، ۴۴۳) کې ليکي:

چې په سينه باندې د لاس تړلو حديثونه په صحيح ابن خزيمة کې هم شته، چې هغې کې هم داشته، چې نبي کريم ﷺ په لمانځه کې پر سينه باندې لاسونه تړل او د مسنداحمد روايت هم حسن دی.

**يادونه:**

که څوک ووايي، چې په بخاري او مسلم کې؛ خو د سينې لفظ نشته دی؛ نوځنګه مولانا ابوالوفاء صاحب وايي، چې دا په بخاري او مسلم کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي.

ځواب:

دا دی، چې په بخاري او مسلم کې اګر که د سينې لفظ نشته؛ خو په هغې کې دا دی، چې په څنګل باندې لاس تړل سنت دي؛ خو چې په دې طريقه باندې ياني لاس پر څنګل کېږدې؛ نو خپله لاس پر سينه راځي، کنه نو تاسې خپله پرې تجربه کولای شئ، فلا اشکال.

۶: مشهورصوفي ميرزا مظهرجان جانان شهيدحنفي په معمولاتو کې دي، چې

*ودست رابرسینه می بستند وفرمودندکه روایت راجح است ازروایت زیرناف.*

ياني هغه به په لمانځه کې لاسونه د سينې په برابر تړل او هغه به فرمايل، چې پر سينه باندې د تړلو باره کې، چې کوم روايتونه راغلي دي دا رجح دي له هغه روايتونو نه، چې تر نامه لاندې تړلو باندې دي

بحواله فتاوی رشيديه ص (۳۰۹) د

۷: دغه شان په دستور المفتي ص (۹۷) للشيخ يونس دهلوي ﷫

۸: شيخ خالد ګرجاګهي په صلوة النبي کې ص (۱۵۷)

۹: علامه الباني ﷫ په ارواء الغليل کې (۲) کې هم ويلي دي، چې پرسينه باندې لاس تړل پکار دي

**د احنافو دلائل او د هغې تجزيه**

احناف يو استدلال په حديث د وائل بن حجر کوي، چې مصنف ابن ابي شيبة (۱/ ۳۹۰) کې دي

«رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَضَعَ يَمِينَهُ عَلَى شِمَالِهِ فِي الصَّلَاةِ تَحْتَ السُّرَّةِ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصنف ابن أبي شيبة (١ / ٣٤٣)

ژباړه:

ما نبي ﷺ ولیده چې ښی لاس یې پر کیڼ باندې د نامه دلاندې کېښوده

ددې حدیث درجة (١) د مولانا تقي عثماني نه واوره.

هغه په درس ترمذي (٢/٢٣) کې وايي:

چې د احنافو تولو نه وړومبی دلیل د وائل بن حجر دا روایت دی، چې ابن ابي شیبة راوړی دی، هغه وايي: لیکن د احقر (تقي عثماني) په نظر له دې روایت نه استدلال کمزوری دی، ځکه اول: خو د تحت السرة لفظ د ابن ابي په مطبوعه نسخوکې نشته دی او که څېرته څوک د ځینو نسخوحواله ورکوي، چې د ابن ابي شیبة په ځینو نسخوکې دا لفظ شته؛ نو بیا هم، چې دغه زیادت په ځینو نشته؛ نو دا لفظ ((تَحْتَ السُّرَّةِ)) ضرورمشکوک جوړوي، دغه شان له وائل بن حجر نه روایت دی مضطرب المتن دی، ځکه ځینو نسخوکې (علی صدره)، په ځینو کې ((عند صدره)) په ځینو کې ((تَحْتَ السُّرَّةِ)) الفاظ روایت دي؛ نو د دغه سخت اضطراب په وخت کې د هیڅا لپاره هم له دې حدیث نه استدلال کول مناسب نه دي

٢: دغه شان ددې حدیث درجة شیخ محمدحیات سندي حنفي داسې لیکي:

چې زموږ احناف په دې حدیث د وائل بن حجرباندې استدلال کوي ؛ خو دې حدیث کې ډېر کلام دی او بیا یې د دې ډېرلاملونه بیان کړي، چې د هغې حاصل دا دی، چې په دې کې د ((تَحْتَ السُّرَّةِ)) یانې لاسونه تر نامه لاندې کېښودلو لفظ نشته دی، ځکه که څېرته دا لفظ په دې حدیث کې موجود وای؛ نو بیا پخوانیو احنافو ددې حدیث نه ولې استدلال نه کاوه؟.



دغه شان حدیث د وائل بن حجر ډېرو کتابونوکې ذکرشوی دی او په یوه کې هم د ((تَحْتَ السُّرَّةِ)) لفظ نشته

اوګوره: الدرة في اظهار غش نقد الصرة (ص: ٩٩، ٢٧) د محمد حیات سندي حنفي.

**لنډیز:**

دا چې د وائل بن حجر په حدیث کې د (تحت السرة) لفظ نه دی ثابت او په دې باندې خپله احناف علماء هم اقرارکوي، چې د دې روایت نور تفصیل کتلای شئ په ابكارالمنن للمباركفوري ص (١١٧) کې دغه شان تعليق اثارالسنن ص (٩٠) کې وغیره کې کتلای شئ

٢ د احنافو دویم دلیل:

«مِنَ السُّنَّةِ وَضْعُ الْكَفِّ عَلَى الْكَفِّ فِي الصَّلَاةِ تَحْتَ السُّرَّةِ»

سنن أبي داود (١ / ٢٠١)

[حكم الألباني] : ضعيف

اخرجه ابوداوود: ١/١١٧، والبيهقي: ٢/٣١، وابن ابي شيبة: ١/٣٩١، والدارقطني: ١/٢٨٦

**درجة الحديث:**

دا حدیث ضعیف جدا (سخت ضعیف دی) او ددې حدیث ضعیف کېدو څلور لاملونه دي

١: لومړی لامل:

په دې کې عبدالرحمن بن اسحق الواسطي راوي دی او دا په اتفاق محدثینو سره ضعیف دی

امام احمد او امام ابوحاتم فرمايي: دا منكر الحديث دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام ابن معین فرمایي: لیس بشیئ (هیڅ شی نه دی)

امام بخاري فرمایي: فیه نظر (په ده کې خبرې شته)

امام بیهقي فرمایي: هو متروک (داپرېښودل شوی دی)

۲: دویمه وجهه د ضعف دا ده: چې ددې حدیث په سند کې زیادبن زید السوائی دی او د ده باره کې راځي

هو لایعرف یاني دا معلوم نه دی. وګوره التعلیق المغني علی سنن الدارقطني (۲۸۲/۱) الدرایه علی هامش الهدایة (۱۰۱/۱) الارواء (۹۲/۲) رقم (۳۵۳)

۳ دریمه وجهه د ضعف دا ده، چې ددې حدیث په سند کې اضطراب دی (پریشاني) ده او کله د نعمان بن سعد نه او هغه د علي رض نه روایت کوي او کله د سیار ابي الحکم نه او هغه د ابووائل نه روایت کوي

وګوره: ابوداود (۱۱۷/۱) ارواء الغلیل تفصیلا (۷۰/۲، ۲۹) للشیخ الالباني

۴ څلورمه وجهه د ضعف داده، چې د علي ؓ نه ددې روایت په خلاف بل روایت هم راغلی دی او هغه داسې، چې د علي ؓ نه روایت دی، چې هغه به د نامه نه پورته لاسونه نه تړل

لکه، دا حدیث امام بیهقي (۳۲/۱)کې راوړی دی او حسن کړی یې دی امام بخاري (۱۵۹/۱) معلق راوړی دغه شان امام ابوداود (۱۱۷/۱) نسخة الاعرابي، امام نووي دمسلم په شرح (۱۷۳/۱) کې ددې حدیث په اړه فرمایي:

وهو حدیث متفق علی تضعیفه

ژباړه:

د دې حدیث په کمزوري کېدو اتفاق دی.



او دا خبره یې په المجموع (۳۱۳/۳) کې هم لیکلې ده.

همداشان امام بیهقي وایي:

قَالَ الْبَيْهَقِيُّ فِي الْمَعْرِفَةِ: لَا يَثْبُتُ إِسْنَادُهُ، تَفَرَّدَ بِهِ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ إِسْحَاقَ الْوَاسِطِيُّ، وَهُوَ مَتْرُوكٌ.

نصب الراية (١ / ٣١٤)

ژباړه:

امام بیهقي په معرفة کې وایي، چې ددې حدیث سند ثابت نه دی او دا یواځې عبدالرحمن بن اسحق روایت کړی دی او دا متروک راوي دی، په دې اړه نصب الرایه للزیلعي (۳۱۴/۱) وګوره!

حافظ ابن حجر په فتح الباري (۱۸۲/۲) کې په دې اړه فرمایي:

وهو حدیث ضعیف

ژباړه

د علي ؓ دا حدیث ضعیف دی.

په دې اړه امام الباني لیکي:

د علي ؓ دغه روایت ضعیف دی

(ارواء العليل (٦٩/٢)

## د احنافو دریم دلیل

د ابو مجلز او ابراهیم نخعي اثر ذکر کوي، چې هغوی به تر نامه لاندې لاسونه کېښودل، لکه په ابن ابي شیبه (۳۹۱/۱) کې دا روایتونه دي

ددې استدلال درجه او ځواب:

لومړی:

دا د علماوو عمل دی او د علماوو عمل څوک په دلیل کې نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې کولای او نه د هغوی عمل دلیل کېدای شي

دویم

له ابو مجلز نه خو پر سینه باندې هم د لاسونو کېښودل ثابت دي او دا چې د هغه له عمل نه تر نامه لاندې د لاسونو په کېښود استدلال کوي ؛ نو پر سینه باندې دلاسونو کېښودو استدلال هم ترې وکړه. ځکه دواړه له هغه نه ثابت دي، داچې له هغه نه دواړه ثابت دي له دې امله د احنافو دا استدلال هم ناسم دی، په دې اړه (ابکار المنن ص ۱۲۳) وګوره.

همداشان له ابراهیم نخعي نه. چې په کوم سند سره دا عمل نقل دی په هغې کې ربیع بن صبیح او هغه سئ الحفظ راوي یاني حافظه یې بې کاره ده او ضعیف دی. په دې اړه (التقریب لابن حجر، وابکار المنن ص ۱۲۳)

امام ابن حبان فرمایي: ..........

كان ربيع بن صبيح من عباد أهل الْبَصْرَة وزهادهم، وَكَانَ يشبه بَيته بالليل ببيت النحل بكثرة التهجد الا ان الحديث لم يكن من صناعته، فكان يهم فيما يروى كثيراً حتى وقع في حديثه منا كير من حيث لايشعر، لايعجبني الاحتجاج به إذا انفرد.

ژباړه:

ربیع بن صبیح د بصرې په عابدانو او زاهدانو کې شمارو. د ده کور په د شپې د تهجدو د ډېروالي له امله به شاتو د مچیو په څېر و؛ خو حدیث یې مسلک نه و یانې په حدیثو کې یې مهارت نه درلود؛ نو له دې امله به ده په خپلو ډېرو روایتونو کې وهم پېښېده یانې ډېر به پکې تېروته، ان تر دې. چې په ناشعوري توګه به منکر روایتو نه ترې رامنځته کېدل او کله، چې دا یواځې روایت وکړي ؛نو زه له هغې نه دلیل نیول نه خوښوم. په دې اړه



وګورئ

(الثقات لابن حبان: (۲۹۹/۶)

همداشان امام یحی بن معین ﷫ او امام نسایي دا ضعیف بللی دی

(المغني في الضفاء(۳٤۷/۱، شمېره ۲۰۹٦)

له دې نه ثابتېږي، چې د ابراهیم نخعي تابعي له اثر نه هم د احنافو استدلال ضعیف دی. احناف پر دې سربېره په دې اړه ځیني نور اثار وړاندې کوي؛خو هغه هم ضعیف دي او ځیني خو یې لا له سره بې بنسټه دي، چې ددې خبرې تفصیل د امام الباني له خولې واورئ هغه فرمایي

تنبیه:

وضعهما على الصدر هوالذي ثبت في السنة.

ژباړه:

په لمانځه کې دواړه لاسونه پر سینه کېښودل په سنتو کې ثابت دي

بیا لیکي:

و خلافه اما ضعیف او لا اصل له.

ژباړه:

او ددې طریقې خلاف یا کمزوري او یا بې بنسټه دي

(صفة الصلاة النبي ص: ۸۸)

علامه بدر الدين عيني حنفي ﷫ د صحيح البخاري شارح ليکي:

و يستدل علماءنا الحنفيه بدلائل غير وثيقه.

ژباړه:

زمونږ احناف علماء تر نامه لاندې د لاسونو کېښودو په اړه له بې باورو روایتونو څخه استدلال کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ابکار المنن: ص: ۱۱۸)

همداشان ابن امير الحاج د منية المصلى شارح او ابن نجيم د بحر الرايق ليکوال فرمايي:

أَنَّ الثَّابِتَ مِنْ السُّنَّةِ وَضْعُ الْيَمِينِ عَلَى الشِّمَالِ وَلَمْ يَثْبُتْ حَدِيثٌ يُوجِبُ تَعْيِينَ الْمَحَلِّ الَّذِي يَكُونُ فِيهِ الْوَضْعُ مِنْ الْبَدَنِ إِلَّا حَدِيثَ وَائِلٍ الْمَذْكُورَ

البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (۱ / ۳۲۰)

ژباړ:

په سنتو کې ښى لاس پر کيڼ لاس کېښودل ثابت دي او د ځاى ټاکلو په اړه (چې لاس به پر کوم ځاى ږدي) د وائل بن حجر له دغه ذکر شوي روايت پرته بل کوم روايت ثابت نه دى.

البحرالرائق: ۳۰۳/۱، ابکارالمنن ص(۱۱۹) د پيغمبر لمونځ (۱۹۵)

دې باره کې نور تفصيل په فتاوى الدين الخالص (۱۰۱/۴، ۹۴) کې کتل پکار دي

دغه شان ابکارالمنن للمبارکفوري تفصيلا ارواءالغليل (۲۹/۲) احکام الجنائز للشيخ الالباني ص (۱۱۷) و صفة صلاة النبي ص (۸۸) آپ کى مسائل اور ان کا حل قران اورسنت کى روشني مين (۱۲۵/۱) لمولاناابوالحسن مبشراحمدرباني حفظه الله: ۱۱۰، شعبان ۱۴۲۴هــ

**ديارلسمه مسئله: په لمانځه کې کوم ځاى ته کتل روا او پکار دي.**

بيا چې دې لاس کېښود؛ نو ستا لپاره دوو ځايونو ته کتل روا دي يو خپلې مخې ته کتل، يانې امام کتل، چې هغه ته ګورې او دا په ډېرو حديثونوکې راغلي دي، چې امام ته کتل يانې خپلې مخې ته کتل روا دي ؛ خو غوره او افضله طريقه داده چې د سجدې ځاى ته ګورې، لکه پر دې



اړه لاندينى حديث ګواه دى، چې نبي ﷺ انس ﷺ ته فرمايي:

"يَا أَنَسُ اجْعَلْ بَصَرَكَ حَيْثُ تَسْجُدُ"

السنن الكبرى للبيهقي (۲ / ۴۰۳)

ژباړه:

اى انسه !د سجدې ځاى ته ګوره .

يانې د سجدې ځاى ته ښکته ګوره، په دې کې خشوع هم ډېره ده او د سړي ادب هم پدې سره ډېر برابرېږي ((فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ)) کې علماوو يوه مانا دا کړې ده، چې اخوادېخوا نه ګوري، ښکته ځمکې ته ګوري؛ نو په دې طريقه به ستا لمونځ پيل شي.

دا خبره له ياده مه باسئ، چې په لمانځه کې يو افعال دي او بل اقوال، چې په لمانځه ودرېدې؛ نو بيا به کارونه کوې اواذکار به وايې، ذکر او فعل باندې به ستا لمونځ روان وي.

**څوارلسمه مسئله: له فاتحې نه مخکې بېلابېل ذکرونه او دعاګانې.**

په دې ځاى کې شپږ اوه ذکرونه راغلي دي د دې جمع کول روا نه دي، ځکه د الله نبي په دې ځاى کې دغه ذکرونه نه دي راجمع کړي؛ نو کله يو وايه او کله بل، په ډېرو اذکارو يادولوکې دا فائده وي، چې د سړي توجه ښه جوړېږي، چې يواځې يو ذکر دې راټينګ کړى وي او هماغه د تل لپاره وايي؛ نو ورسره به عادت شي او د عادت له امله توجه دړې وړې کېږي.

**لومړى ذکر:**

«سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالَى جَدُّكَ، وَلَا إِلَهَ غَيْرَكَ»

هم نبى ﷺ ويلى ده، په صحيح حديث کې راغلي دي، همداشان عمربن الخطاب ﷺ په فرض لمانځه کې په جهر سره دا دعا لوستې ده، لکه

دې روايت ته خير شئ

حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الْأَسْوَدِ، قَالَ: كَانَ عُمَرُ، إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ رَفَعَ صَوْتَهُ يُسْمِعُنَا «سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالَى جَدُّكَ، وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ»

مصنف ابن أبي شيبة (١ / ٢١٠)

ژباړه

ابوبکر موږ ته حديث بيان کړی دی. هغه وايي، چې معاويه موږ ته له اعمش نه. هغه يې له ابراهيم نه او هغه يې له اسود نه. اسود وايي: چې عمر ﷺ به کله لمونځ پيلاوه، نو په لوړ غږ به يې موږ ته «سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالَى جَدُّكَ، وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ» را اوروله

پر دې سربېره په مسلم کې روايت دی، چې عمر بن الخطاب په فرض لمانځه کې په جهر دا ذکر وکړه ياني خلکو ته يې تعليم ورکاوه چې ګوري په لمانځه کې ((سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ...)) شته. کوم خلک چې وايي ((سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ)) په ضعيف حديث کې دي او يا وايي، چې دا ذکر ثابت نه دی: نو د هغوی دا خبره غلطه ده او د پوهې د نشتوالي پر بنسټ يې کوي

ياني دا دعا شته او په فرضو کې. چې يې وايي: نو داسې به وايي
«سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالَى جَدُّكَ، وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ»
او په تهجدو کې همدغه ذکر په لږ تغير سره په لاندې ډول دی

**دويم ذکر**

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالَى جَدُّكَ، وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ، اللهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

ځکه چې په تهجدو کې به نبي ﷺ ورسره دا الفاظ زياتول

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ذکر امام ابوحنيفة ﷺ امام احمد ﷺ غوره کړی هم دی او وايي، چې دا په لمانځه کې ډېر ويل پکار دي. ولې؟ ځکه په دې کې د الله ﷻ صفات ډېر دي. موږ وايو غوره کول يې هم صحيح دي. ځکه چې په سنت کې نقل دي. ويل يې پکار دي: خو د غوره کولو مانا دانه ده. چې همدا يو ذکر به وايي او نور به شاته غورځوي، دا زموږ د عوامو مسلمانانو نقصان دی، چې نور ذکرونه ورته نه دي زده او همدا يو ذکر يې راکلک کړی وي. سره له دې. چې دلته نور اذکار هم شته. هغه هم ويل پکار دي، چې هغه تر دې ډېر غوره دي

درېيم ډول

د صحيحين په قوي حديث کې دي هغه دادی. ابوهريرة ﷺ وايي

يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِسْكَاتُكَ بَيْنَ التَّكْبِيرِ وَالقِرَاءَةِ مَا تَقُولُ؟

صحيح البخاري (١ / ١٤٩)

ژباړه

ای د الله ﷻ رسوله! ته چې الله اکبر وکړې او الحمد دې نه وي پيل کړې او په دې وخت کې ته غلی کېږې (په دې غلي کېدو کې) ته څه وايې؟ هغه ﷺ وفرمايل زه يکې داوايم

اللَّهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ، كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ المَشْرِقِ وَالمَغْرِبِ، اللَّهُمَّ نَقِّنِي مِنَ الخَطَايَا كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ، اللَّهُمَّ اغْسِلْ خَطَايَايَ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالبَرَدِ».

دا ډېره بهترينه او خوږه دعا ده او د الله نبي څه ګنهګار نه وه: خو موږ ته يې تعليم راکړی دی او ډېره ګټوره دعا يې راښوولې ده او که د دې دعا د ګټو بيانول پيل کړو: نو درې ورځې به هغه ونيسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خلورم ذکر:**

تر دې بله لنډه دعا هم راغلې ده، که له سړي سره وخت لږ وي؛ نو کولای شي، چې دا لنډه ((الْحَمْدُ لِلَّهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ )) دعا ووايي او دا دعا په دريو ځايو کې ويل کېدای شي.

**لومړی مقام: تر فاتحې له مخه يانې د سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ... پرځای.**

لکه انس ؓ وايي، چې يو صحابي راغی او نبي ﷺ په جمع ولاړ و، دغه صحابي په چټکۍ سره راغی او سا لنډۍ پرې لګېدلې وه څوک چې په چټکۍ راشي؛ نو ساه يې بنده بنده کېږي؛ نو له خولې څخه يې دا ذکر په زوره غېراختياري راووت، هغه الله اکبر وکړ او داسې يې وويل:

(الْحَمْدُ لِلَّهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ، أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ.....

تر پايه پر جهرباندې؛ نو نبي ﷺ واورېده، چې کله يې سلام وګرځاوه ؛نو ويې پوښتل، چې:

أَيُّكُمُ الْمُتَكَلِّمُ بِالْكَلِمَاتِ، ؟

دا خبرې چا کولې؟ خلک ټول چپ شول، ووېرېدل بيا يې وفرمايل داخبرې چاکولې؟درې ځله يې داخبره وکړه؛ نو هغه صحابی وويل، چې يارسول الله ما کولې ((جِئْتُ وَقَدْ حَفَزَنِيَ النَّفَسُ)) ساه لنډۍ راباندې لګېدلې وه، تادې مې وه؛ نو دا زماله خولې څخه ووتل، نبي ﷺ ورته وفرمايل:

« لَقَدْ رَأَيْتُ اثْنَيْ عَشَرَ مَلَكًا يَبْتَدِرُونَهَا أَيُّهُمْ يَرْفَعُهَا»

صحيح مسلم (۱ / ٤۱۹)

ژباړه:

مادولس ملائک وليدل چې وه يې ليکي او بره يې وخېژوي يوه ويل،



چې زه دا کلمات خېژوم او بل ويل زه يې خېژوم

د دې حکمت د حديثو په کتابونوکې موږ وايو، چې داملائک ولې پسې را منډه وهي او ليکي يې، د دې مطلب دادی، چې دا ملائک هم الله ﷻ خوشحالوي، ملائک هم د الله ﷻ مخلوق دی، د الله ﷻ دخوشحالولوکوښښ کوي او دا کلمات د الله ﷻ ډېرخوښ دي: نو دوی دا کلمات وړي، چې يا الله ستا فلاني بنده دغسې کلمات ويلي دي؛ نو الله ﷻ له دغه ملائک څخه خوشحالېږي، چې تا داسې خوږې کلمې ماته راوړې؛ نوځکه په هغې پسې منډه وهي، داملائک په منځ کې واسطه ده، چې له هغه نه الله ﷻ دومره خوشحالېږي؛ نو له تا نه به څومره خوشحالېږي؟،

**دويم مقام: تر رَبَّنَا وَلَكَ الحَمْدُ وروسته حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ ويل.**

په دې ځای کې ددې کلماتو د ويلو د مخکې په پرتله ډېر فضيلت دی، لکه يوه صحابي تر سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ وروسته رَبَّنَا وَلَكَ الحَمْدُ وويل او تر دې وروسته يې دا وويله:

حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ

نبیﷺ تر سلام ستنولو وروسته وپوښتل، چې «مَنِ الْمُتَكَلِّمُ» داخبرې چاکولې؟خلک چپ شول؛نو بيا يې وپوښتل، چې دا خبرې چا کولې، بيا يې وويله چاکولې دوه درې ځله يې پوښتنه وکړه، هغه صحابي وويل، چې ای د الله ﷻ رسوله! دغه خبرې ما کولې؛ نو نبيﷺ وفرمايل

«رَأَيْتُ بِضْعَةً وَثَلَاثِينَ مَلَكًا يَبْتَدِرُونَهَا أَيُّهُمْ يَكْتُبُهَا أَوَّلُ»

صحيح البخاري (۱ / ۱۵۹)

ژباړه:

ما څه دپاسه دېرشت ملائک وليدل، چې په دې هڅه کې ول، چې څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



به دا کلمات لومړی لیکي

نو پدغه مقام کي دومره راغلي دي یانې څه د پاسه دېرشتو ملائکو کوښښ کاوه، چې کوم یو به لومړی دغه کلمات لیکي. اوس زمونږ لمونځونو ته ګوره، بس د ((سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ)) له ویلو سره سم له واره ((الله اکبر)) کوو، داڅه لمونځ دی؟ نه یکي ((رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ)) وي او ((حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ)) خو له سره پېژني نه؛ نو له څومره کتې نه سرې بې برخې کېږي، نه یې امامان وایي او نه یې مقتدیان. اکثر امامان هم په دې ځای کي دامام ابوحنیفة﷫ پر یوه مرجوح قول باندې عمل کوي، چې ((رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ)) د امام لپاره نشته بس یواځې ((سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ)) ووایي، بیا غلی ولاړ وي؛ نو درز الله اکبر کوي، دا څومره لوی تاوان دی، چې زمونږ دغه ورونه یکې ښکېل دي

**دریم مقام: په لمانځه کې د پرنجي پرمهال هم دا دعا لوستل کېږي**

د رفاعة بن رافع حدیث دی

صَلَّيْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَطَسْتُ، فَقُلْتُ: الْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ، مُبَارَكًا عَلَيْهِ، كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَيَرْضَى، فَلَمَّا صَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْصَرَفَ، فَقَالَ: «مَنِ الْمُتَكَلِّمُ فِي الصَّلَاةِ؟»، فَلَمْ يَتَكَلَّمْ أَحَدٌ، ثُمَّ قَالَهَا الثَّانِيَةَ: «مَنِ الْمُتَكَلِّمُ فِي الصَّلَاةِ؟»، فَلَمْ يَتَكَلَّمْ أَحَدٌ، ثُمَّ قَالَهَا الثَّالِثَةَ: «مَنِ الْمُتَكَلِّمُ فِي الصَّلَاةِ؟» فَقَالَ رِفَاعَةُ بْنُ رَافِعٍ ابْنُ عَفْرَاءَ: أَنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ، قَالَ: «كَيْفَ قُلْتَ؟»، قَالَ: قُلْتُ: الْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ، كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَيَرْضَى، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَقَدِ ابْتَدَرَهَا بِضْعَةٌ وَثَلَاثُونَ مَلَكًا، أَيُّهُمْ يَصْعَدُ بِهَا»



سنن الترمذي ت شاكر (۲ / ۲۵۵)

ژباړه

«په رسول اللهﷺ پسې مې لمونځ کاوه، پرنجی مې وکړ؛ نو دغه پورتني الفاظ مې وویل، نبيﷺ چې له لمانځه اوزګار شو، مخ یې راواړاوه او ویې فرمایل، په لمانځه کې دا خبرې چاکولې. خلک غلي شول، تر دې چې دا خبره یې درې ځلې تکرار کړه؛ نو رفاعه بن رافع ابن عفرا وویل. چې ای د الله رسوله! دا خبرې ما کولې. نبي ﷺ وپوښته، چې څنګه دې ویل. ماورته دغه کلمات وویل؛ نو رسول اللهﷺ وفرمایل، چې په هغه ذات مې دې قسم وي، چې ساه د هغه په لاس کې ده، په دغو کلماتو پسې څه دپاسه دېرشت ملائک په منډه راغلل، چې کوم یو به یې بره وړي»

په دې کې دا الفاظ زیات دي، ځینې علماء هغه حدیث او دا یوکوي؛ خوظاهر دا ده، لکه چې له احادیثو نه معلومېږي، چې دا جلاجلا پېښې دي، رسول اللهﷺ چې سلام واړوه وه یې ویل داخبرې چاکولې؟ ټول چپ شول چاشیطانه هم نه کوله دوه درې ځله یې بیا هغه صحابي خپله وویل. چې ماکولې، نبي ﷺ وویل چې څه د پاسه دېرشت ملائک ماولیدل چې دا ذکر یې بره اوچتاوه. له دې حدیث نه دامعلومېږي، چې د پرنجي پرمهال هم د دې دعا لوستل راغلي دي اوپه فرض لمانځه کې هم ((اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ)) ویل کېږي؛ خو بل څوک به ځواب نه ورکوي. په لمانځه کې به چاته ځواب نه ورکوي، چې ((یرحمک الله)) او له لمانځه نه بهر دا ځواب له واجباتوڅخه دی؛ نو په دې دریو مقاماتوکې دا ذکر راغلی دی. چې یو د((سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ)) پرځای لنډ ذکر((اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ)) چې دا په تراویحوکې ډېر په کار راځي بل د تادې پر مهال، د سهر په سنتو کې هم پکارراځي، کله چې وخت لږ وي؛ نو لنډ ذکر وکړي اوفائده یکې ډېره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلورم ذکر: د سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ پر ځای**

اللهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيرًا، وَسُبْحَانَ اللهِ بُكْرَةً وَأَصِيلًا

ژباړه:

الله ﷻ ډېرلوی دی او ډېر د کمال صفتونه لري او الله ﷻ لره پاکي ده سبا او بېګا.

دااکثر په تهجدو او نوافلوکې راغلی دی؛ خو فرائضوکې، چې کوم ذکر دی هغه په لاندې ډول دي:

**پنځم ذکر:**

جابر بن عبدالله وايي نبيﷺ به چې کله لمونځ پيلاوه؛نو تر الله اکبر وروسته به يې لاندېني کلمات ويل:

«إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ. اللَّهُمَّ اهْدِنِي لِأَحْسَنِ الْأَعْمَالِ وَأَحْسَنِ الْأَخْلَاقِ لَا يَهْدِي لِأَحْسَنِهَا إِلَّا أَنْتَ، وَقِنِي سَيِّئَ الْأَعْمَالِ وَسَيِّئَ الْأَخْلَاقِ لَا يَقِي سَيِّئَهَا إِلَّا أَنْتَ»

سنن النسائي (٢ / ١٢٩)

**شپږم ذکر:**

«وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ، إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، لَا شَرِيكَ لَهُ، وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ، اللَّهُمَّ أَنْتَ الْمَلِكُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، أَنْتَ رَبِّي وَأَنَا عَبْدُكَ، ظَلَمْتُ نَفْسِي وَاعْتَرَفْتُ بِذَنْبِي، فَاغْفِرْ لِي ذُنُوبِي جَمِيعًا، إِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ، وَاهْدِنِي لِأَحْسَنِ الْأَخْلَاقِ، لَا يَهْدِي لِأَحْسَنِهَا إِلَّا أَنْتَ، وَاصْرِفْ عَنِّي سَيِّئَهَا، لَا



يَصْرِفُ عَنِّي سَيِّئَهَا إِلَّا أَنْتَ، آمَنْتُ بِكَ، تَبَارَكْتَ وَتَعَالَيْتَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ»

سنن الترمذي ت شاكر (٥ / ٤٨٥)

دا ډېره اوږده دعا ده دا په مشکوة کې راغلې ده په صحيح حديث کې او د فرض لمانځه په اړه ده که چېرته درته زده وي ؛نو دا پکې وايه ؛ نو دې مقام کې تقريباً شپږ اوه ذکره راغلي دي او په نوافلوکې؛ خو ډېر زيات دي، په ځانګړي ډول په تهجدوکې.

ابن عباس رضی الله عنهما وايي، نبي ﷺ، چې به کله د شپې پر تهجدو ودرېده؛نو لاندېني کلمات به يې پکې ويل:

" اللَّهُمَّ لَكَ الحَمْدُ أَنْتَ قَيِّمُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ، وَلَكَ الحَمْدُ لَكَ مُلْكُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ، وَلَكَ الحَمْدُ أَنْتَ نُورُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ، وَلَكَ الحَمْدُ أَنْتَ مَلِكُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ، وَلَكَ الحَمْدُ أَنْتَ الحَقُّ وَوَعْدُكَ الحَقُّ، وَلِقَاؤُكَ حَقٌّ، وَقَوْلُكَ حَقٌّ، وَالجَنَّةُ حَقٌّ، وَالنَّارُ حَقٌّ، وَالنَّبِيُّونَ حَقٌّ، وَمُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَقٌّ، وَالسَّاعَةُ حَقٌّ، اللَّهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ، وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ، وَبِكَ خَاصَمْتُ، وَإِلَيْكَ حَاكَمْتُ، فَاغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ، أَنْتَ المُقَدِّمُ، وَأَنْتَ المُؤَخِّرُ، لاَ إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ - أَوْ: لاَ إِلَهَ غَيْرُكَ - "

صحيح البخاري (٢ / ٤٨)

دا دومره خوږه دعا ده، چې سړی په لمانځه ودرېږي، دا شروع کړي او په توجه سره يې وايي؛ نو لمونځ به ډېره خوند درکوي، دا بيا په تهجدوکې ويل شوې ده، ځينې اذکار په تهجدو کې راغلي دي او ځينې په فرض لمونځونو کې لنډه دا، چې په دې ځايونو کې ډېر ذکرونه راغلي دي، هغه وايه، له هغې نه، چې اوزګار شوې، بيا به اعوذ بالله ووايې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځلسمه مسئله د تعوذ يانې ((أَعُوذُ بِاللَّهِ)) بېلابېلې کلمې**

د ((أَعُوذُ بِاللَّهِ)) درې څلور کلمې دي:خو غوره يې دا ده «أَعُوذُ بِاللَّهِ السَّمِيعِ الْعَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ، مِنْ هَمْزِهِ وَنَفْخِهِ وَنَفْثِهِ» دا يکې کامله کلمه ده او پر دې سربېره نورې کلمې جائز دي. لکه يواځې «أَعُوذُ بِاللَّهِ السَّمِيعِ الْعَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ » يا «أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ، وَنَفْخِهِ وَنَفْثِهِ وَهَمْزِهِ» چې ((السَّمِيعِ الْعَلِيمِ)) ترې لرې کړې. يا دواړه جمع کړه ورسره. يا دواړه ترې لرې کړه او يا دا يو ترې لرې کړه يا دا بل اولنۍ داهم راغلي دي. چې « أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ» ځکه دا هم په يوه مرسل روايت کې راغلي دي او په مصنف د عبدالرزاق کې په دې اړه مرفوع حديث هم راغلى دى: نوله دې امله دا هم ويلاى شي : خو هغه د لومړني ذکر په اړه راغلى حديث ډېر قوي دى او الفاظ يې هم جامع دي

**شپاړلسمه مسئله په هر رکعت کې تعوذ لوستل څنګه دي ؟**

د اعوذبالله په اړه دوه نظرونه دي. ځينې وايي. چې دا په هر رکعت کې تر فاتحې له مخه يې لوستل اړين دي او نور وايي. چې دا په هر رکعت کې لوستل اړين نه دي. بلکې يواځې په لومړي رکعت کې يې لوستل اړين دي

د لومړي نظر پلويان امام شافعي ؒ او بيهقي له ابن سيرين ؒ څخه هم نقل کړي. چې ده به په هر رکعت کې تر فاتحې له مخه اعوذبالله لوسته

(سنن کبرى: ۲|۳۶)

همداشان شيخ الباني، امام ابن حزم او امام نووي هم همدغه نظر غوره بللى

(المجموع: ۳|۳۲۶)

خو امام عطا ؒ، ثوري ؒ، او امام ابوحنيفه ؒ بيا داسې نظر لري، چې



نه يواځې په لومړي رکعت کې به تعوذ وايي او په هر رکعت کې يې لوستل نشته. او دوى دا دليل وړاندې کوي. چې په حديث کې راځي

وَإِذَا نَهَضَ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ لَمْ يَسْكُتْ، وَقَالَ: {الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ}

يانې نبي ﷺ به په دويم رکعت کې نه غلى کېده، بلکې له واره به يې فاتحه شروع کوله

خو شيخ الباني په تمام المنه (۱۷۲) کې له دې حديث نه داسې ځواب کړى دى، چې په دې کې تاويل دى او هغه داچې له سکتې نه موخه د لومړي رکعت معلومه سکته ده، يانې د لومړي رکعت په څېر اوږده سکته به يې نه کوله او ددې دا مانا نه ده، چې ګوندې تعوذ به يې نه لوسته

خو دغه تاويل د حديث د ظاهر خلاف دى، ځکه که له سکتې نه موخه هغه معهوده يانې معلومه سکته واخيستل شي: نو بيا په دې حديث کې څه ستره فائده نه راوځي، ځکه بيا : خو پکار وه، چې داسې يې ويلي واى (لم يدع بدعاء الاستفتاح) بلکې دلته راوي عموم بيانوي، چې له سره به نه غلى کېده پرته له بسم الله نه.

او شيخ الباني دا دليل ويلى دى، چې د الله ﷻ دا عامه وينا

فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ۝

پر دې دليل دى، چې په هر رکعت کې د اعوذبالله لوستل پکار دي :

خو دا استدلال بعيد دى، ځکه دا په عموم سره د ځانګړي عبادت ثابتول دي او له عموم نه ځانګړى عبادت نه ثابتېږي او دا ډول استدلال ناسم وي، ځکه له دې نه ډېر بدعتونه رامنځته کېږي. بل دا چې نبي ﷺ پر قرآن ښه پوهېده او له هغه نه په هر رکعت کې تعوذ نه دى ثابت : نو د دې خبرې اړتيا نشته، چې موږ له عمومياتو نه په زوره په دغه ځاى کې تعوذ ثابت کړو، بل دا چې مثلاً د څلور رکعتيز لمانځه څلور واړه رکعتونه د يو قرءت

(c) ketabton.com: The Digital Library



په منزله دي، چې په یو رکعت کې تعوذ وویل شو: نو دا کافي دی او پر قرآن عمل وشو.

همداشان که موږ دغه عموم وا خلو ؛ نو بیا که څوک قرانی دعاګانې لولي ؛ نو بیا خو هغه هم دا حکم متوجه دی، چې تعوذ ووایه؛ نو هلته به هم تعوذ وایي؟ که دغه خبره ومنو ؛ نو بیا خو له هرې قرآني دعا نه مخکې باید اعوذبالله ولوستل شي، سره له دې چې د قرآني دعاګانو نه مخکې له رسول الله ﷺ نه تعوذ نه دی ثابت

د سنت تابعداري دا ده، چې تعوذ یواځې په لومړي رکعت پورې خاص شي، له همدې امله علامه شوکاني رحمه الله د دې مانا داسې کوي:

لم یسکت ای للثناء و دعاء الاستفتاح والتعوذ(نقله في المرعاة (۳\۱۰۱) او همدغه شان تحقیق حافظ ابن القیم رحمه الله په زادالمعاد(۱\۲۳۴)، کې ذکر کړی دی، هغه فرمایي:

په دویم رکعت کې د تعوذ ویلو په اړه دوه قوله دي او دا دوه روایته له امام احمد رحمه الله نه هم او حنابله وو دا دواړه پر دې بناء کړي دي، چې د لمانځه قراءت یو قراءت کې، چې یوه استعاذه پکې بسیا شي او که نه د هر رکعت بېل قراءت دی ؟؛ نو پر دې خبره خو اتفاق دی، چې استفتاح ؛ خو د ټول لمانځه لپاره ده ؛ نو همدغه شان دې تعوذ هم د ټول لمانځه لپاره شي او دا ظاهره ده او بیا یې دغه حدیث د ابو هریرة رضي الله عنه ((لم یسکت)) د دلیل په توګه وړاندې کړی او ویلي یې دي، چې یوه استعاذه ځکه بس ده، ځکه چې د دواړو قراء تونو تر منځ سکوت یانې چوپتیا نه ده راغلې، بلکې ذکر پکې راغلی دی ؛ نو دا په منزله د یوه قراءت شو، چې د هغې په منځ کې تسبیح، تحمید، تهلیل او پر نبي ﷺ درود راغلی دی، بیا فرمایي:



والاکتفاء باستعاذة واحدة اظهر او همدغه ډول خبره په فقه السنة (۱\۱۳۳)کې سید سابق هم ذکر کړې ده، والله اعلم، په دې اړه وګورئ فتوی الدین الخالص(۴\۱۱۲)

**اوولسمه مسئله: په امام پسې د فاتحې لوستل**

تر تعوذ ((أَعُوذُ بِاللَّهِ ...)) وروسته ((بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ)) او تر بِسْمِ اللَّهِ بیا فاتحه ویل کېږي.

دا((أَعُوذُ بِاللَّهِ او بِسْمِ اللَّهِ )) به امام او مقتدي دواړه فاتحه وایي او په ځانله لمانځه کې به یې هم وایي، ځکه چې د فاتحې ویل پر ټولو ضروري دي؛ نو ټول به یې وایي او ((أَعُوذُ بِاللَّهِ)) له فاتحې سره تړاو لري.

فاتحه د عامو علماوو په اند فرض او د احنافو په اند واجب ده او واجب هم فرضو ته نږدې شی دی؛ نو له دې امله فاتحه به هرومرو وایي [یانې]باتفاق العلماء فاتحه شته. اختلاف یواځې په دې کې د ی، چې په امام پسې یې به وایي که نه؟په لنډون سره به یې ووایم، چې په دې اړه د علماوو درې نظرونه دي.

**لومړی نظر په امام پسې د فاتحې د نه لوستو په اړه**

ددې نظر پلویان وایي، چې په امام پسې ولاړ یې ؛نو له سره فاتحه مه وایه، ځکه الله ﷻ په قرآن کریم کې فرمایلي دي چې:

وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا

ژباړه:

کله چې قرآن لوستل کېږي، غوږ ورته کېږدئ.

همداشان د جابر رضي الله عنه حسن روایت دی، چې رسول الله ﷺ فرمایي:

«مَنْ كَانَ لَهُ إِمَامٌ، فَقِرَاءَةُ الْإِمَامِ لَهُ قِرَاءَةٌ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سنن ابن ماجه (١ / ٢٧٧)

ژباړه:

د چا چې امام وي (یانې په امام پسې ولاړ وي)؛نو د ده لپاره د امام قرءت بس دی.

او عبدالله بن عمر، زيدبن ثابت (رضي الله عنهما) او ځينو نورو صحابه وو ويلي دي، چې:

«لَا قِرَاءَةَ مَعَ الْإِمَامِ فِي شَيْءٍ»

سنن النسائي (٢ / ١٦٠)

ژباړه:

له امام سره يوځای قراءت نشته.

نو د دې علماءكرامو ذهن دغې لور ته تللی دی، چې فاتحه هم نشته نه به يې وايي؛ نو دغه علماء په دغه درجه کې معذور دي. لکه وروسته داخبره لږ تفصيلي وړاندې کوو، چې فائده وشي.

**دويم نظر**

بل نظر دا دی، چې په جهري لمونځونوکې به يې نه وايي او په سري لمونځونو کې به يې وايي او په جهر کې به امام ته غوږ ږدي او په پټ لمانځه کې يې خپله وايه. لکه دا امام مالک ته منسوب نظر دی او هم امام احمد ته يې نسبت دی، شيخ الاسلام ابن تيمية﵀ په خپله فتاوی کې دا نظر غوره کړی دی او همداشان الباني په خپل کتاب (صفة الصلاة) کې همدا غوره ګڼلی دی او دا لاندينی حديث يې د دليل په توګه وړاندې کړی دی، چې ګوره صحابه وو په جهري لمونځونوکې قراءت پرېښی دی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْصَرَفَ مِنْ صَلَاةٍ جَهَرَ



فِيهَا بِالْقِرَاءَةِ فَقَالَ: «هَلْ قَرَأَ مَعِي أَحَدٌ مِنْكُمْ آنِفًا؟» قَالَ رَجُلٌ: نَعَمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ: «إِنِّي أَقُولُ مَا لِي أُنَازَعُ الْقُرْآنَ» قَالَ: فَانْتَهَى النَّاسُ عَنِ الْقِرَاءَةِ فِيمَا جَهَرَ فِيهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْقِرَاءَةِ مِنَ الصَّلَاةِ حِينَ سَمِعُوا ذَلِكَ.

سنن النسائي (٢ / ١٤٠)

ژباړه:

((له ابو هريرة ﵁ نه روايت دی، چې نبي ﷺ له يوه جهري لمانځه نه راوګرځېده او فرمايل، چې ايا په تاسې کې چا له ماسره اوس قرائت وکړه، يوه كس وويل، چې هو! ای د الله ﷺ رسوله! نو نبي ﷺ وويل، چې زه وايم كنه، چې له ماسره ولې په قرآن کې جګړه کېږي، راوي وايي، چې تر دې خبرې اورېدو وروسته خلک په جهري لمانځه کې خلک له قرائت نه منع شول.))

**درېيم نظر**

درېيم او حق نظر دا دی، چې جهري او سري دواړو لمونځونو کې به په امام پسې فاتحه لولې او پر دې باندې عمل پكاردی، ځکه چې په دې کې احتياط هم دی او هيڅ صحيح حديث يې په خلاف کې نه دی راغلی او د دنيا پر مخ هيڅ صحيح مرفوع حديث د دې خلاف نشته.

پر دې اړه دليل او بيا د هغې ملاتړ واوره، دليل دا دی، چې رسول الله ﷺ يو جهري لمونځ وکړه، چې د سهر، ماښام او يا د ماسختن لمونځ و، کله چې له لمانځه ځخه راوګرځېده ؛ نو ويې فرمايل: «لَعَلَّكُمْ تَقْرَءُونَ خَلْفَ إِمَامِكُمْ؟» شايد تاسې په امام پسې وروسته قراءت کوئ (قُلْنَا: نَعَمْ) په بل روايت کې داسې الفاظ دي (قُلْنَا: أَجَلْ يَا رَسُولَ اللَّهِ) مونږه قراءت کوو، رسول الله وفرمايل زه وايم چې: « مَالِي أُنَازَعُ الْقُرْآنَ؟» له ماسره د قرآن

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لوستلوکې ولې جګړه کېږي، چې زه قران وايم او پکې خطا کېږم دا ولې؟ نو دا ستاسې د شور له امله.

د أُنَازَعُ الْقُرْآنَ مقصد دا دی، چې تاسې شور کوئ؛ نو قرآن زما ذهن ته نه راځي (فلا تقرؤو بشيئ) تاسو قرائت مه کوئ هيڅ شی مه وايئ (الا بام القران) يواځې فاتحه لولئ؛ نودا به مستحبه وي؟ نه

« فَإِنَّهُ لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِهَا»

دهغه چالمونځ نه کېږي، چې فاتحه ونه لولي.

دا بالکل صريح نص دی، بل لفظ داسې دی.

فَلَا تَقْرَءُوا بِشَيْءٍ مِنَ الْقُرْآنِ إِذَا جَهَرْتُ إِلَّا بِأُمِّ الْقُرْآنِ.

سنن أبي داود (١ / ٢١٨)

ژباړه:

په ما پسې له فاتحې پرته نور قرائت مه کوئ، چې کله زه جهر کوم.

د((فَلَا تَقْرَءُوا، إِذَا جَهَرْتُ)) مقصد دا دی، چې په جهري لمونځ کې به يواځې فاتحه وايې او سورت به ورسره نه لولې او په سري لمونځ کې سورت هم ورسره لوستلی شی، ځکه په دې اړه درې حديث راغلي دي، چې په سري لمانځه کې به سورت هم ورسره لولې او په جهري لمانځه کې به په امام پسې يواځې فاتحه لولې، دا حديث بالکل صحيح دی، درې ځلورسنده لري اوروغ دي دا چې چاضعيف کړی دی؛ نو هغوی هسې د تعصب له امله دې ته ضعيف ويی دی او تعصبونه نه دي پکار او په دې مانا نږدې (١٢) حديث راغلي دي او دا قول غوره دی ولې؟ ځکه چې:

١: يو خو په دې کې احتياط دی، بل صحيح صريح حديث پکې دی او د دې په مقابل کې صريح مرفوع حديث نشته.



٢: علامه عبدالحی په التعليق الممجدکې ليکلي دي، چې فاتحه ځکه ويل پکار دي که چا فاتحه په امام پسې ولوسته ؛نو ټول علماء وايي، چې لمونځ يې صحيح دی يانې باجماع المسلمين د ده لمونځ وشه او هيڅ يو عالم هم داسې نه وايي چې دداسې کس لمونځ فاسد شه او که په امام پسې دې فاتحه ونه لوسته؛ نو ډېر علماء داسې وايي، چې لمونځ دې ونه شه، لکه امام شافعیؒ وايي، چې په امام پسې بې فاتحې لمونځ فاسد شه، امام بخاریؒ يې هم فاسد بولي او امام احمدؒ وايي دا لمونځ نه کېږي، ډېر حديثپوهان وايي، چې دا لمونځ نه کېږي؛ نو له دې امله پر هغه قول عمل وکړه، چې ټول امت پرې فتوی درکوي، چې لمونځ دې وشه او په هغه قول عمل مه کوه، چې ډېر امت درته وايي، چې لمونځ دې ونه شه دا ډېره سود منه خبره ده.

٣: د دې په مقابل کې هيڅ داسې قوي روايت نشته او دا روايت، چې:

«مَنْ كَانَ لَهُ إِمَامٌ، فَقِرَاءَةُ الْإِمَامِ لَهُ قِرَاءَةٌ»

دی نو لومړی ؛ خو دا حديث کمزوری دی او که ثابت شي؛ نو د قرائت په اړه دی، چې په اما م پسې به قرائت نه کوې؛ نو په دې روايت کې د فاتحې له لوستو نه ؛خو څه منع نه ده راغلې او فاتحه رسول الله ﷺ له قرائت نه ويستلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اتلسمه مسئله: په اما م پسې د سورت فاتحې لوستو حکم**

په امام پسې د مقتدي لپاره په سرې اوجهري لمونځونوکې فاتحه لوستل فرض دي په دې خبره دلائل دادي:

۱: عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ : لاَ صَلاَةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ..وفي رواية « لاَ صَلاَةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِأُمِّ الْقُرْآنِ »

صحيح البخاري ـ حسب ترقيم فتح الباري - (۱ / ۱۹۲)

صحيح مسلم ـ مشكول وموافق للمطبوع - (۲ / ۹)

اخرجه البخاري: ۱/۱۰٤)ومع

الفتح: ۲/۲۳٦، و مسلم: ۱/۳۹٤، ۱٦۹، و ابوداوود رقم: ۸۲۲، والنسائي: ۲/۱۳۸، ۱۳ ۷، و ابن خزيمة: ٤۸۸، والترمذي: ۲٤۷، وابن ماجة: ۸۳۷، واحمد: ٥/۳۱٤، والحميدي: ۳۸٦، والبيهقي: ۲/۱٦٤، ۳۸، و ابن ابي شيبة: ۱/۳٦۰، والشافعي في المسند: ۱/٥۷، والبغوي في شرح السنة: ۲/۴۰۰.

ژباړه:

له عبادة بن صامت څخه روايت دی، چې نبي ﷺ فرمايلي دي:

د هغه چا لمونځ نه کېږي، چې سورة فاتحه پکې ونه وايي، په: بل روايت کې راغلي دي د هغه چالمونځ نه کېږي، چې ام القران په کې ونه وايي، دا حديث عام دی په دې کې دهيڅادلمانځه تخصيص نشته دی، امام وي که مقتدي وي اوکه يواځي لمونځ کونکی وي دا ټول په دې حديث کې داخل دي، البتة که چېرته صحيح او صريح حديث راشي، چې مقتدي به فاتحه خلف الامام نه وايي؛ نوبيا به مقتدي له دې څخه مستثنی وي؛ خو داسې هيڅ صحيح او صريح حديث نشته دی، چې هغې کې دا وي، چې مقتدي به سورت فاتحه نه لولي امام پسې.



له دې امله داحديث عام دی په دې کې امام او مقتدي دواړه داخل دي ګڼوعلماوودا حديث ددې لپاره ذکرکړی، چې مقتدي به هم قرائت خلف الامام کوي، لکه ددې تفصيل دادی چې:

۱: امام الفقهاء والمحدثين اميرالمؤمنين في الحديث امام بخاري په خپل الجامع الصحيح کې(۱۰۴/۱)په دې حديث باندې داسې باب لګولی دی:

باب وجوب القراءة للإمام والمأموم في الصلوات كلها في الحضر والسفر وما يجهر فيها وما يخافت.

ياني په دې باب کې دا بيان دی، چې فاتحه لوستل په امام او مقتدي دواړو باندې په ټولو لمونځونو کې سفر وي، که حضر، جهري وي که خفيه په ټولوکې فرض ده ـ تر دې باب وروسته امام بخاري دا حديث ذکرکړی دی، چې

لاَ صَلاَةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ

د هغه چالمونځ نه کېږي، چې په لمانځه کې سورت فاتحه ونه لولي.

صحيح البخاري ـ حسب ترقيم فتح الباري - (۱ / ۱۹۲)

۲: امام ترمذي پردې حديث داسې باب لګولی دی:

باب [ما جاء] في القراءة خلف الإمام

په دې باب کې هغه حديثونه بيانېږي، چې په امام پسې دمقتدي دقرائت باره کې راغلي دي.

۳: ابن ماجه: (۱/ ۱۴۰)کې هم داباب تړلی دی: باب القرائة خلف الامام ددې باب تړلونه وروسته يې داحديث ذکرکړی دی، چې

لاَ صَلاَةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه شان نورو محدثينو هم دا حديث د دې لپاره ذکر کړی، چې مقتدي به په امام پسې سورت فاتحه ضرور لولي:

دغه شان علامه قسطلاني د مذکوره حديث په شرح کې ليکي:

اى في کل رکعة منفردا او إماما أو مأموما سواءا اسر الامام او جهر.

ژباړه:

ياني په هر رکعت کې به يې لولي ځانله وي که امام وي که مقتدي وي اوامام په جهر قرائت کوي اوکه په پټه

قسطلاني شرح البخاري (۴۳۹/۲)

دغه شان علامه کرماني دبخاري په شرح(۴۳۹/۵)کې ليکي:

وفي الحديث دليل على ان قرائة الفاتحة واجب على الامام والماموم فى الصلوات کلها

ژباړه:

حديث په دې مسئله باندې دليل دی، چې فاتحه لوستل پرامام اومقتدي باندې په ټولولمونځونو کې فرض ده،

دمحدثينواودهغوی دشارحينودويناوونه جوته شوه، چې دا حديث لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ

امام اومقتدي دواړوته شامل دی،

نو يوکس دې دانه وايي، چې دې حديث کې خو د مقتدي ذکرنشته نو تاسې دا حديث څنګه ددې لپاره دليل کې پيش کوي، چې امام پسې به مقتدي هم قرات لولي، ځکه بل روايت کې تصريح راغلي ده په دې باندې.

عن عبادة بن الصامت قال: قال رسول الله ﷺ لاَ صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ خلف الامام(اخرجه البيهقي في کتاب القرائة خلف الامام ص: ۵۶،



رقم: ۱۳۴)و اسناده صحيح کما قاله انور شاه کشميري في فص الختام ص: ۱۴۷)

ژباړه:

له عبادة بن صامت څخه روايت دی، چې نبي ﷺ فرمايلي دي:

د هغه چا لمونځ نه کېږي، چې په امام پسې فاتحه ونه لولي.

نو دې حديث نه دامسئله ښکاره معلومه شوه، چې مقتدي به امام پسې سورت فاتحه ضرور لولي، که يې ونه لولي؛ نو لمونځ يې نه کېږي.

**۲ دويم دليل:**

عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى بِأَصْحَابِهِ، فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ أَقْبَلَ عَلَيْهِمْ بِوَجْهِهِ فَقَالَ: «أَتَقْرَءُونَ فِي صَلَاتِكُمْ خَلْفَ الْإِمَامِ وَالْإِمَامُ يَقْرَأُ؟» فَسَكَتُوا، فَقَالَهَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَقَالَ قَائِلٌ - أَوْ قَالَ قَائِلُونَ - إِنَّا لَنَفْعَلُ، قَالَ: «فَلَا تَفْعَلُوا لِيَقْرَأْ أَحَدُكُمْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فِي نَفْسِهِ»

[حکم حسين سليم أسد] : إسناده جيد

اخرجه البخاري في جزء القرائة ص (۵۵) والبيهقي فى کتاب القرائة ص (۵۸) وفي السنن (۱۶۶/۲) قال الهيثمي في المجمع (۱۱۰/۳) رواه الطبراني وابويعلى وراوه ابن حبان في صحيحه (۱۶۲/۵، ۱۵۲) رقم: ۱۱۴۴و۱۸۵۲) والطبراني في الاوسط (۲۶۸۰) واخرجه الدارقطني (۳۳۳/۱) رقم: ۱۲۷۳ والخطيب في تاريخه (۱۷۶/۱۳، ۱۵۷) وقال الهيثمي رجاله ثقات وصححه الشيخ شيب الارناووط في صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان (۱۵۳/۵)

ژباړه:

له انس ﷺ څخه روايت دی، چې نبي ﷺ يو ځل خپلو ملګرو ته لمونځ کاوه؛ نو چې کله يې لمونځ پوره کړه؛ نو مخ يې راواړوه او و يې فرمايل: اياتاسې په لمانځه کې په امام پسې قرائت کوئ؟دري ځل يې داخبره وکړه؛

نو يوه كس و ويل، چې هو! موږ دا كاركوو: و يې فرمايل داكارمه كوئ او هر يو كس دې فاتحه له ځان سره لولي،

**يادونه**:

د((في نفسه)) مانا ملا علي قاري ﵀كوي، چې سراً غير جهر (ياني په پټه به يې وايي نه په ښكاره)

دغه شان امام بيهقي په كتاب القرائة ص(١٧)كې ليكي:

ان يتلفظ بهاسرادون الجهربها.

ياني تلفظ به پرې كوي په پټه جهربه پكې نه كوي وګوره المرعات(١١٢/٣)

٣: عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَقْرَؤُونَ خَلْفِي؟» قَالُوا: نَعَمْ إِنَّا لَنَهُذُّ هَذًّا قَالَ: «فَلَا تَفْعَلُوا إِلَّا بِأُمِّ الْقُرْآنِ»

القراءة خلف الإمام للبخاري (١ / ١٨)

ژباړه:

عمروبن شعيب دخپل نيكه په واسطه له نبي عليه السلام څخه نقل كوي، چې نبي عليه السلام وفرمايل: تاسې له ما نه وروسته قرائت كوئ؟ نو موږ وويل هو! يا رسول الله په تلوار تلوار قرائت كوو؛ نو هغه وفرمايل: دا كار مه كوئ صرف سورت فاتحه لولئ.

اخرجه البخاري في جزء القرائة ص(١٨)رقم: ٣٤، والبيهقي في كتاب القرائة خلف الامام ص (١٦٧) والدار قطني (٣١٨/١) والبغوي في شرح السنة (٨٢)

د انس ﵁ دروايت په شان دا رنګ د عمرو بن شعيب د روايت په شان روايت له ابوقتادة او نور صحابه كرامو نه هم نقل دی، وګوره كتاب القرائة للبيهقي ص (٦٢) مسنداحمد (٨١/٥) كنزالعمال رقم: ٢٢٩٦٨، مجمع الزوائد(١١١/٢)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يادونه**:

د انس، عمرو بن شعيب او ابوقتادة ﵃ له روايت څخه دا معلومه شوه په كومو حديثونوكې، چې له قرائت نه منع راغلې ده، له هغې نه مراد د سورت فاتحې نه علاوه بل سورت ويل دي، او هر چې سورت فاتحه ده نو ددې لوستل په امام پسې په ټولولمونځونوكې ضروري دي، هغه جهري وي كه سري، يواځې په جهري لمونځ كې دسورت فاتحې نه علاوه بل سورت لوستل منع دي ليكن سورت فاتحه به په جهري كې هم لولي.

**څلورم دليل**:

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الصُّبْحِ، فَثَقُلَتْ عَلَيْهِ الْقِرَاءَةُ، فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ: «إِنِّي لَأَرَاكُمْ تَقْرَؤُونَ وَرَاءَ إِمَامِكُمْ؟» قَالَ: قُلْنَا: أَجَلْ وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَذًّا قَالَ: «فَلَا تَفْعَلُوا إِلَّا بِأُمِّ الْكِتَابِ؛ فَإِنَّهُ لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِهَا»

صحيح ابن خزيمة (٣ / ٣٦)

اخرجه احمد: (٣٢٢/٥، ٣١٢)والبيهقي في كتاب القرائة ص(٤٤)وابن حبان في صحيحه (١٥٦/٥، ٩٥، ٨٦) رقم: ١٨٤٨، ١٧٩٢، ١٧٨٥) والحاكم في المستدرک (٢٣٨/١) والبخاري في جزء القرائة ص (٢٥٨، ٦٤) و ابوداوود (٨٢٣/١، ١٢٧) والترمذي (٦٩/١) رقم: ٣١١، وابن حزم في المحلي (٢٣٦/٣) وقال الشيخ شعيب الارناووط في تعليقه وتحقيقه علي ابن حبان (١٥٦/٥، ٩٥، ٨٦) اسناده قويٌ وقال الدارقطني والترمذي اسناده حسن وصححه ابن خزيمة وابن حبان

ژباړه:

له عبادة بن صامت﵁ څخه روايت دی چې يوځل موږ ته نبي ﷺ د سهار لمونځ كاوه؛ نو قرائت ورباندې دروند شه، كله چې له لمانځه نه

راوستون شه وه يې فرمايل

زما په ګومان تاسې په امام پسې قرائت کوئ؟ موږ ووېل هو! اى دالله رسوله! په تادى قرائت کوو. هغهﷺ فرمايل دا مه کوئ، بلکې يواځې سورة فاتحه لولئ، ځکه د هغه چا لمونځ نه کېږي، چې دا ونه لولي

داحديث صحيح دې او شيخ شعيب الار ناووط هم ورته قوي ويلي دي، چې ددې تفصيل په صحيح ابن حبان (۵/ ۸۲) کې وګوره.

دغه شان داحديث امام نسائي په السنن الكبرى: رقم: ۹۰۲، سنن النسائي (۲/۱۴۱) امام بخاري په خلق افعال العباد کې ص (۲۷) جزءالقرائة (۲۵) دارقطني (۱/۳۱۸) رقم: ۱۲۰۷ المسند الجامع (۸/ ۲۱) رقم (۵۵۴۴) طحاوي په معانى الا ثار کې راوړى دى وګوره امام الكلام لعبدالحى لكهنوي تفصيلا له دې حديث نه دا مسئله معلومه شوه، چې مقتدي به هم په جهري لمونځونو کې په امام پسې سورت فاتحه لولي، د عبادة بن صامت حديث په دې باره کې امام خطابي فرمايي:

هذالحديث صريح بان قراءة الفاتحة واجبة على من خلف الامام سواء جهربالقراءة اوخافت بهاواسناده جيد لاطعن فيه

(عون المعبود: ۳/ ۳۲)

ژباړه:

داحديث په دې مسئله باندې دليل دى، چې دفاتحې لوستل فرض دي په مقتديانوباندې که اما جهرکوي اوکه په پټه قرائت کوي، اوسنديې بې عيبه دى،

دعبادة بن صامت دروايت په اړه عبدالحى لكهنوي ليکي

ان حديث عبادة صحيح او حسن عند جماعة من المحدثين الخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عبادة حديث د محدثينو په اند صحيح دى او ياحسن، په دې اړه وګوره غيث الغمام حاشية امام الكلام للعلامة عبدالحى لكهنوي، ورسائل اللكهنوي (۳/ ۲۲۲) وعمدة الرعاية (۱/ ۱۷۴) او څوک، چې وايي د عبادة حديث منسوخ دى د هغوى وينا خطا ده، لكه ملا عبدالحى صاحب له ملاعلي قاري نه نقل کوي

قال القاري ولعل هذاهوالناسخ لماتقدم الخ

کېداى شي دا د مخکې لپاره ناسخ وي

ددې نه وروسته علامه عبدالحى صاحب ليکي:

و فيه نظر ظاهر اما او لا فلان النسخ لا يثبت بالا حتمال.

په دې کې ښکاره کمزوري ده، ځکه نسخ په کېداى شي نه ثابتېږي

بل ځاى ليکي

ان دعوى كون حديث عبادة منسوخا بحديث (و اذا قرء فانصتوا) مردود لعدم علم بالتاريخ وللخصم ان يدعي العكس فصار دعوى منعكسة.

ژباړه:

د عبادة د حديث د منسوخ والي دعوه کول په (و اذا قرا فانصتو) والا روايت سره دا نه منل کېږي، ځکه د تاريخ تعين نشته او کېداى شي مقابل لورى داسې ووايي، چې دغه حديث منسوخ دى؛ نو بيا به دعوى بدله شي،

وګوره: امام الكلام، مجموعه رسائل اللكهنوي(۳/ ۲۲۲)

**۵: پنځم دليل:**

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ صَلَّى صَلَاةً لَمْ يَقْرَأْ فِيهَا بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَهِيَ خِدَاجٌ» ثَلَاثًا غَيْرُ تَمَامٍ. فَقِيلَ لِأَبِي هُرَيْرَةَ: إِنَّا نَكُونُ وَرَاءَ الْإِمَامِ؟ فَقَالَ: «اقْرَأْ بِهَا فِي نَفْسِكَ» ؛ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يَقُولُ: " قَالَ اللهُ تَعَالَى: قَسَمْتُ الصَّلَاةَ بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي نِصْفَيْنِ، وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ......

صحيح مسلم (١ / ٢٩٦)

ژباړه:

له ابوهريرة څخه روايت دی، چې نبی علیه السلام فرمايلي دي: څوک چې داسې لمونځ وکړي، چې فاتحه په کې ونه لولي نودانيمګړی وي۔پوره نه وي۔ دري کرته يې داخبره وکړه؛نوابوهريرة ته ووېل شول موږ؛خوکله په امام پسې ولاړيوهغه ورته ووېل دځان سره يې پټه وايه ځکه ماله رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي، چې الله تعالى فرمايلي دي: ما لمونځ زما او د بنده ترمينځ وېشلی دی، حديث تر اخره ولوله

حافظ عبدالبر په خپل كتاب الاستذكاركې ليكي:

وفی حديث ابی هريرة هذامن الفقه ايجاب القرائة بالفاتحة فی كل صلاةوان الصلاة اذالم يقرأفيهابفاتحة الكتاب فهی خداج والخداج النقصان والفسادومن ذالک قولهم أخدجت الناقة ا ذاولدت قبل تمام وقتهاوقبل تمام الخلقة وذالک نتاج فاسد اه

ژباړه:

دابوهريره په حديث کې له فقهي مسائلوڅخه يوه مسئله داده، چې په هرلمانځه کې دسورت فاتحې لوستل واجب دي اوكله چې سورت فاتحه ونه لوستل شي نوداخداج وي اوخداج نيمګړتيااوخرابتياته ويلی شي له همدې مانې نه داويناد عربوهم ده چې(اخدجت الناقة)اوښه نقصاني شوه، چې كله له خپل وخت اواندامونودپوره كېدوله مخه بچی راوړي اودانيمګړی پيدابښت وي



امام زرقانی په شرح دمؤطا (١/١٥٩) کې ليکي:

فهوحجة قوية على وجوب قرائتهافی كل صلاة

دابوهريرة حديث په هرلمانځه کې دسورة فاتحې دلوستلو په فرضيت قوي او مضبوط دليل دی همدغه راز له ابوهريرة څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تُجْزِئُ صَلَاةٌ لَا يُقْرَأُ فِيهَا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ» قُلْتُ: فَإِنْ كُنْتُ خَلْفَ الْإِمَامِ، فَأَخَذَ بِيَدِي، وَقَالَ: اقْرَأْ بِهَا فِي نَفْسِكَ يَا فَارِسِيُّ "

قال الأعظمي: إسناده صحيح

اخرجه ابن خزيمة (٢٤٨/١)رقم: ٤٩٠، وابن حبان كمافي الموارد: ١٢٦، رقم: ٤٥٧، قال الاعظمي واسناده صحيح وصححه النووي في شرح مسلم: ١٧٠/١، وهوفي ابن حبان(١٣٩/٣)

ژباړه:

له ابو هريرة ؓ نه روايت دی، چې رسول الله فرمايلي دي هغه لمونځ نه کېږي، چې سورة فاتاتحه پکې ونه لوستل شي ماووېل: كه ته امام پسې ولاړيې؟ راوي وايي: زما لاس يې ونيوه، راته يې ووېل له ځان سره يې وايه ای دفارس۔ايران۔اوسېدونكيه!

امام نووی په شرح دمسلم کې ليکي:

اقْرَأْ بِهَا فِي نَفْسِكَ فَمَعْنَاهُ اقْرَأْهَا سِرًّا بِحَيْثُ تُسْمِعُ نَفْسَكَ وَأَمَّا مَا حَمَلَهُ عَلَيْهِ بَعْضُ الْمَالِكِيَّةِ وَغَيْرُهُمْ أَنَّ الْمُرَادَ تَدَبُّرُ ذَلِكَ وَتَذَكُّرُهُ فَلَا يُقْبَلُ لِأَنَّ الْقِرَاءَةَ لَا تُطْلَقُ إلا على حركةاللسان بحيث يسمع نفسه ولهذا اتَّفَقُوا عَلَى أَنَّ الْجُنُبَ لَوْ تَدَبَّرَ الْقُرْآنَ بِقَلْبِهِ مِنْ غَيْرِ حَرَكَةِ لِسَانِهِ لَا يَكُونُ قَارِئًا مُرْتَكِبًا لِقِرَاءَةِ الْجُنُبِ

الْمُحَرَّمَةِ

شرح النووي على مسلم (٤ / ١٠٣)

ژباړه:

په حدیث کې د (اقْرَأْ بِهَا فِي نَفْسِكَ) مانا دا ده، چې ځان سره يې په قلاره کراره وایه، چې پخپله يې اوري، اوبعض مالکيان، چې له دې ځخه تدبراخستی دی، نو دا خبره نه شي قبلېدای، ځکه د قرائت اطلاق د ژبې په خوځولو کېږي، چې خپله يې اوري. له همدې امله دوی اتفاق کړی، چې جنب که په قران کې سوچ وکړه اوپه خوله يې ونه ویلونوداګناهګارنه دی، ځکه ده هغه قرائت نه دی کړی، کوم چې پرده باندې حرام وه

ملاعلي قاري په المرقات (۵۴۹/۲) کې ليکي:

اقرأبهافي نفسک ای إقرأهافي نفسک سراغيرجهر.

له ځان سره يې په پټه وايه په زوره يې مه وايه

**د قرائت خلف الامام په اړه د صحابه کرامو اثار**

١: عَنْ يَزِيدَ بْنِ شَرِيكٍ , أَنَّهُ سَأَلَ عُمَرَ عَنِ الْقِرَاءَةِ خَلْفَ الْإِمَامِ فَقَالَ: «اقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ» , قُلْتُ: وَإِنْ كُنْتَ أَنْتَ؟ , قَالَ: «وَإِنْ كُنْتُ أَنَا» , قُلْتُ: وَإِنْ جَهَرْتَ؟ , قَالَ: «وَإِنْ جَهَرْتُ» . رُوَاتُهُ كُلُّهُمْ ثِقَاتٌ

سنن الدارقطني (٢ / ٩٦)

اخرجه البيهقي في كتاب القرائة ص (١٧) و في السنن الكبرى ((١٦٧/٢)) و في مختصر الخلافيات (٤٠٥/١) والدارقطني (٣١٧/١) قال الدارقطني رواته كلهم ثقات وصححه معلقه ايضارقم (١١٩٨) والصنعاني في مصنفه (١٣١/٢) واخرجه البخارى فى جزئه ص (١٨) ثم رواه الدارقطنى باسناد اخر وقال صحيح واخرجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن ابي شيبة (٣٧٣/١) وابن حزم فى المحلى (٢٦٦/٢) والحاكم فى المستدرک (٩٠٨/١، ٢٣٩) وصححه الذهبي

ژباړه:

له یزیدبن شریک څخه روايت دی، چې ده له عمربن خطاب نه د فاتحې خلف الامام باره کې وپوښتل هغه ووېل: وايه يې: ماورته وويل که تاپسې ولاړ يم؟هغه ووېل بيايې هم وايه ماورته وويل که ته جهرکوې هغه ووېل نوهم يې وايه

٢: عن حسان بن عطية ان اباالدرداء قال: لاتترک الفاتحة خلف الامام جهراولم يجهر

اخرجه البيهقى فى السنن الكبرى(١٧٠/٢)وکتاب القرائة ص (١٠١) رقم: ٢٢٩.

ژباړه:

له حسان بن عطيه څخه روايت دی، چې ابوالدرداء فرمايلي دي: فاتحه خلف الامام مه پرېږده که هغه په جهرقرائت کوي اوپه پټه

٣: عَنْ ثَابِتٍ , عَنْ أَنَسٍ , قَالَ: " كَانَ يَأْمُرُنَا بِالْقِرَاءَةِ خَلْفَ الْإِمَامِ قَالَ: وَكُنْتُ أَقُومُ إِلَى جَنْبِ أَنَسٍ فَيَقْرَأُ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَسُورَةٍ مِنَ الْمُفَصَّلِ وَيُسْمِعُنَا قِرَاءَتَهُ لَنَاخُذَ عَنْهُ "

القراءة خلف الإمام للبيهقي (١ / ١٠١)

كتاب القرائة خلف الامام ص(١٠١)رقم: ٢٣١،

ژباړه:

ثابت له انس څخه روايت کوي، چې انس به موږ ته په قرائت خلف الامام امرکاوه، راوي وايي: زه به دانس څنګه ته ودرېدم نوهغه به فاتحه لوستله اويوسورته به يې ورسره دمفصلاتونه هم ملګرى کاوه موږته به يې خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرائت را اوراوه چې موږيې ترې یاد کړو.

٤: عَنْ عَطَاءٍ , عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ , رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: «اقْرَأْ خَلْفَ الْإِمَامِ جَهَرَ أَوْ لَمْ يَجْهَرْ»

القراءة خلف الإمام للبيهقي (١ / ٩٦)

كتاب القرائة للبيهقى(٩٦)رقم: ٢١٠، ومثله في ابن ابي شيبة: ٣٧٤/١) والطحاوي(٢٠٦/١)

بل روايت كې دي كوم، چې حافظ ابن عبدالبرراوړى دى (١٣١/٢، تحقيق الكلام (١٠٢/١)

ژباړه:

عطاء له ابن عباس څخه روايت كوي، چې په امام پسې قرائت كوه كه هغه په زوره قرائت كوي اوكه په پټه.

دي باره كې نورحديثونه هم شته اودصحابه كراموآثرونه هم په كې دبردي لكه دبعض نومونه دادي،

١١: له ابن عمرڅخه روايت دى، چې هغه به امام پسې روسته قرائت كاوه.

جزء القرائة للبخاري ص (٣٥) رقم: ٢٠، كتاب القرائة للبيهقى ص(٩٧)

١٢: عن اميرالمؤمنين على ابن ابي طالب رضى الله عنه انه كان يامران يقرا خلف الامام في الركعتين الاولين بفاتحة الكتاب وسورة، وفي الاخريين بفاتحة الكتاب عَنْ عَلِيٍ , رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ «كَانَ يَأْمُرُ أَنْ يُقْرَأَ خَلْفَ الْإِمَامِ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَسُورَةٍ وَفِي الْأُخْرَيَيْنِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ»

اخرجه البهقي في السنن الكبرى(١٦٨/٢)وفى القرائة خلف الامام



ص(٩٣)مختصر الخلافيات(٤٠٥/١)والدارقطنى (٣٢٢/١)رقم: ١٢١٦، وقال اسناده صحيح والحاكم فى المستدرك(٣٦٦/١، ٣٦٥)وصححه ووافقه الذهبي

ژباړه:

له على ابن ابوطالب څخه روايت دى، چې ده به په لومړنيوركعتونوكې دفاتحې اوديوسورت په لوسلتوپه امام پسې امركاوه، اوپه وروستنيوكې به يې دفاتحې په لوستلوامركاوه.

١٣: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي الْهُذَيْلِ , قَالَ: سَأَلْتُ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ [ص: ٩٤] رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: " أَقْرَأُ خَلْفَ الْإِمَامِ؟ قَالَ: نَعَمْ "

اخرجه البيهقي في مختصرالخلافيات(٤٠٦/١)وفي كتاب القرائة خلف الامام ص(٩٤، ٩٣)والدارقطني(١١٩٩)

ژباړه له ابوالهذيل څخه روايت دى، چې ده له ابي بن كعب څخه وپوښتل: ايازه په امام پسې قرائت كوم؟هغه وويل: هو!كوه يې.

بل روايت كې دي

عن حسان بن عطية ان اباالدرداء قال: لاتترك فاتحة الكتاب خلف الامام جهراولم يجهر

رواه البيهقي فى السنن الكبرى(١٧٠/٢)وكتاب القرائة خلف الامام(١٠١)

١۴: ابوهريرة هم دقرائت خلف الامام قائل او فاعل وه، لكه دهغه روايت مخكې ذكرشو.

١۵: معاذبن جبل رضى الله عنه

١۶: عبدالله بن مغفل رضى الله عنه

١٧: جابربن عبدالله رضى الله عنه

١٨: عبادة بن صامت رضى الله عنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹: ابوسعيد الخدري رضى الله عنه

۲۰_ عائشة ام المؤمنين رضى الله عنها

۲۱: عبدالله بن مسعود رضى الله عنه

۲۲: عمران بن حصين رضى الله عنه

۲۳: عبدالله بن عمروبن العاص رضى الله عنهما

۲۴: هشام بن عامر رضى الله عنه

۲۵: عبدالله بن عمر رضى الله عنه

ددې ټولوصحابه وو رضى الله عنهم څخه روايت دى، چې دوى په امام پسې قرائت کاوه

## د قرائت خلف الامام په اړه د تابعينو اثار

دغه شان دبې شمېره تابعينونه نقل دي، چې دوى به امام پسې قرائت کاوه، لکه اما بخارى فرمايي:

وقال الحسن، وسعيدبن جبير، وميمون بن مهران، ومالايحصى من التابعين واهل العلم انه يقراخلف الامام وان جهر، وكانت عائشة تامربالقرائة خلف الامام.

جزء القرائة ص: ۲۸، رقم: ۳۰، وكتاب القرائة خلف الامام للبيهقى ص: ۹۹، رقم: ۲۲۲، والمجموع للنووى: ۳/۳٦۵، نو دا د بې شمېره تابعينو او نورو علماوو مذهب دى.

اوڅوک، چې دصحابه کراماوودتابعينوداثرونوتفصيل په دې مسئله کې غواړي؛ نوهغه لپاره داکتابونه کتل پکار دي،

۱/جزء القرائة خلف الامام للبخارى: ۲/كتاب القرائة للبيهقى، ۳/ خيرالكلام فى وجوب الفاتحة خلف الامام للعلامة مولاناحافظ



محمدصاحب گوندلوى، ٤/الكواكب الدرية فى وجوب الفاتحة خلف الامام فى الجهرية للشيخ ابوطاهرزبيرعلى زئى، ٥/امام الكلام مع غيث الغمام للعلامة عبدالحى لكهنوى، ٦/تحقيق الكلام للعلامة المحدث المباركفورى، ۷/السنن الكبرى للبيهقى، ۸/مختصرالخلافيات

دامذکوره کتابونه مستقل په همدې موضوع باندې ليکل شوي دي اوپه دې ټولوکتابونوکې داذکردي، چې مقتدي به په جهري اوسري دواړولمونځونوکې سورت فاتحه لولي که فرض وي که نفل اما پسې وي که ځانله.

## د قرائت خلف الامام په اړه د علماوو ويناوې

۱: دتابعينوقولونه؛خومخکې ذکرشول، چې بې شمېره تابعين دقرائت خلف الامام قائل وواوحواله هم وکړل شوه.

۲: امام بخارى لکه دوى په خپل صحيح کې باب لګولى دى: باب وجوب القرائة فى الصلوات كلهافى الحضروالسفرومايجهرفيهاومايخافت، دغه شان په دې موضوع باندې يې مستقل کتاب ليکلى دى، چې دهغې نوم: جزء القرائة خلف الامام دى

۳: امام بيهقى، ده هم په دې باره کې مستقل کتاب ليکلى دى کتاب القرائة

۴: امام نووى په المجموع کې(۳۲۲/۲)اوپه شرح دمسلم کې (۱۷۹/۱)

۵: مولانانذيرحسين محدث دهلوى فتاوى نذيريه (۳۹۲/۱)

۶: علامه ابوطيب صديق حسن خان په الروضة الندية (۱۸۸/۱) کې

۷: فتاوى اللجنة، چې دا د سعودي د (۷) اوو غټو علماوو فتاوى ده (۳۸۴/۲) کې داسې ليکلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



والصحيح من اقوال العلماء وجوب قرائة الفاتحة فى الصلاة على المنفرد والماموم والامام فى الصلاة الجهرية والسرية لصحة الادلة الدالة على ذالك وخصوصها.

ژباړه:

سمه خبره دعلماوودويناوونه داده، چې د فاتحې لوستل پرامام، مقتدي اوخانله لمونځ کونکي باندې په جهري اوسري لمونځونوکې فرض ده، ځکه کوم دلائل، چې پردې راغلي هغه صحيح اوخاص دي.

۸: امام ابن حزم المحلى (۲/۲۶۵)

۹: مولانا حافظ محمدصاحب ګوندلوى، په خيرالكلام فى وجوب الفاتحة خلف الامام کې

۱۰_حافظ زبيرعلى زئي په الكواكب الدرية فى وجوب القرائة خلف الامام فى الجهرية کې

۱۱: فتاوى الدين الخالص ۱۴۲/۴، ۱۲۴، کې يوه قيمتي رساله ليکلى شوې ده: مسک الختام فى القرائة خلف الامام

۱۳: الشيخ ابوالحسن مبشراحمدرباني په (آپ كے مسائل اور ان كا حل: ۱۲۷/۱)

۱۴: علامه ابن باز په فتاوى هيئة كبار العلماء کې: ۲۰۰/۱، او فتاوى اسلاميه: ۲۲۰/۱.

۱۵: مولانا ابو الوفاء ثناء الله امرتسرى په فتاوى ثنائيه: ۵۵۵/۱، کې

۱۶: شيخ صالح الفوزان په الملخص الفقهى کې: ۹۰/۱، کې

۱۷: ابوعبدالسلام عبدالرؤوف په القول المقبول فى شرح وتعليق صلاة الرسول صلى الله عليه وسلم (۳۷۰) کې



۱۸: الشيخ عبيدالله المباركفوري په المرعاة: ۱۱۳/۳، ۱۰۳، کې

۲۰_علامه صنعاني په سبل السلام کې: ۲۲۱/۱،کې

۲۱: علامه عبدالحى لكنوى په امام الكلام مع غيث الغمام: ۲۲۷، کې مجموعه رسائل اللكهنوى: ۲۲۷/۳،التعليق الممجدص: ۱۰۱، کې

۲۲: علامه ابوطيب محمدشمس الحق عظيم ابادى په عون المعبودشرح سنن ابى داوود کې: ۳۲/۳، کې ليکي:

قلت القرائة خلف الامام فيمااسروفيماجهرهذاهوالحق، واليه ذهب الشافعى واسحق والاوزاعى والليث بن سعدوابوثور، وبه قال عروة بن الزبيروسعيدبن جبيروالحسن البصرى ومكحول

ژباړه:

زه وايم، چې په امام پسې په جهري اوسري لمونځونوکې قرائت حق دی، او دا د امام شافعی، اسحق، اوزاعى، ليث، ابوثور، عروة بن زبير، سعيد بن جبير، حسن بصري او مكحول رايه هم ده. (عون المعبود: ۳۲/۳، للعظيم ابادى)

۲۳: الاما الجليل المحقق محمود محمد خطاب السبكى په المنهل العذب المورود شرح سنن ابى داوود: ۲۴۵/۵، کې

۲۴: حافظ ابن حجر په فتح البارى کې: ۱۹۲/۱

۲۵: علامه ابن قدامة په المغنى کې ۵۲۷/۱.

۲۲: امام احمد بن عبدالرحمن البناء په بلوغ الامانى شرح الفتح الربانى: ۲۰۰/۳، کې

۲۷: شاه ولى الله محدث دهلوي په حجة الله البالغة کې: ۹/۲.

۲۸: شيخ ابو عمر عبدالعزيز النورستاني د پيغمبر لمونځ کې: ۲۰۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۹: شيخ حبيب الله سلفي په هداية الصلاة کې: ۵۳.

۳۰_ امام زيدالدين ابوالفضل عبدالرحيم بن الحسين العراقي او د هغه زوی ابوزرعة په کتاب طرح التثريب فی شرح التقريب ۲۷۹/۲، کې

۳۱: شيخ ابو عبد الاحد عبدالرحيم مسلم دوست په کشف الابهام عن حقيقة قرائة الفاتحة خلف الامام کې

۳۲: علامه شيخ ابوزکريا(عبدالسلام) الرستمی حفظه الله ورعاه په خپل کتاب(لمونځ په رڼاداحاديثو کې)

دې ټولوعلماوپه دغه مذکوره کتابونوکې ليکلي دي، چې مقتدي به په امام پسې جهري اوسري دواړولمونځونوکې سورت فاتحه لولي.

**محققين احناف او فاتحه خلف الامام**

محققين احناف هم په سري لمونځونوکې دفاتحې خلف الامام قائل دي لکه.

۱: علامه عبدالحی لکهنوی په دې باندې مستقل کتاب ليکلی دی امام الکلام اونوموړی په جهري لمونځونوکې هم دفاتحې خلف الامام قائل دی، لکه مخکې يې ويناوې تېرې شوې

۲: امام محمدرحمه الله

۳: اما ابوحنيفة رحمه الله نه هم روايت دی، چې مقتدي په سري لمونځونو کې امام پسې قرات کولی شي وګوره عمدة الرعاية: ۱۷۳/۱، غيث الغمام ص: ۲۱۲، ۱۵۲)

۴: ابوحفص کبير

۵: شيخ التسليم هروی

۶: ملاعلی قاری حنفی

۷: شاه عبدالعزيزصاحب امام الکلام لمولاناعبدالحی تفصيلا



۸: شيخ ګوهررحمن تفهيم المسائل: ۲۹۳/۴.

۹: شاه اسمعيل شهيدصاحب تنويرالعينين ص ۵۴

۱۰_شاه ولی الله صاحب حجة الله البالغة: ۹/۲)

۱۱: علامه ابن ابی العزالحنفی، التنبيه علی مشکلات الهداية ۵۹۲/۲

۱۲: علامه عينی حنفی کماقال العلامة عبدالحی لکهنوی فی غيث الغمام ص: ۱۵۲)

۱۳: شاه عبدالرحيم د شاه ولي الله والد صاحب: غيث الغمام

۱۴: ملا جيون حنفي تفسيرات احمدية ۲۲۷.

**د مقابل لوري دلائل او د هغې تجزيه**

کوم خلق، چې امام پسې دسورت فاتحې دلوستلوقائل نه دي، نوصحيح او حقه خبره داده، چې د دوی لپاره هيڅ داسې دليل نشته، چې هغه د سورت فاتحې په نه لوستلودلالت وکړي او کوم ته، چې دوی دلائل وايي؛ نوهغه ټول عمومات دي، چې څه:خو پکې صحيح نه دي اوکوم، چې صحيح دي؛ نوهغه صريح نه دي او هيڅ داسې صحيح، صريح دليل له دوی سره نشته، چې هغه د سورت فاتحې په نه لوستلودليل شي،

اول دليل: يې دادی،

قران کريم کې دي، و اذا قرئ القران فاستمعوا له وانصتوا لعلکم ترحمون کله، چې قران لوستل کېږي نو غوږ ورته کېږدئ او چپ شئ، دې لپاره، چې رحم درباندې وکړی شي

۲: په حديث کې دي مَنْ كَانَ لَهُ إِمَامٌ فَقِرَاءَةُ الإِمَامِ لَهُ قِرَاءَةٌ.

سنن الدارقطني ـ تدقيق مكتب التحقيق - (۲ / ۱۰۷)

د چا چې امام وي نو د امام قرائت ده لره قرائت دی

۳ په بل حديث کې دي

«وَإِذَا قَرَأَ فَأَنْصِتُوا »

سنن أبي داود ـ محقق وبتعليق الألباني - (۱ / ۱۳۵)

کله چې امام قرائت کوي نوتاسې چپ شئ

٤: فَانْتَهَى النَّاسُ عَنِ الْقِرَاءَةِ

القراءة خلف الإمام للبخاري ـ مشكول - (۱ / ۵۷)

خلک له قرائت څخه بند شول

او دغه شان نور حديثونه ذکرکوي؛ نو دا ټول ګوماني دلائل يو هم په منع د قرائت خلف الامام باندې دليل نشي جوړېدای، بلکې څوک، چې دا په دليل کې ذکر کوي د هغوی استدلال ناسم دی، لکه دې باره کې ډېرو علماوو دا خبره کړې ده.

موږ يوائځې د علامه عبدالحی لکهنوی حنفی ويناد (ګواه ازخانه)په بناء باندې ذکرکوم، علامه عبدالحی صاحب په التعليق الممجد على مؤطا محمد ص: ۱۰۱، کې داسې ليکي:

لم يردفی حديث مرفوع صحيح: النهی عن قرائة الفاتحة خلف الامام.وکل ماذکروا فيه: امالا اصل له وامالايصح

ژباړه:

په هيڅ يوصحيح مرفوع حديث کې په امام پسې دفاتحې له لوستلومنع نه ده راغلې اوکوم، چې دوی پيش کوي نو يا؛ خو بالکل شته نه او يا صحيح نه دي

لنډيز:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په صحيح اوصريح حديثونو سره سورت فاتحه له قرات نه مستثنی ده او په جهري لمونځونوکې امام پسې دسورت فاتحې نه علاوه بل سورت لوستل منع دي اوپه امام پسې دسورت په لوستلوباندې امر راغلی دی

لکه دعبادة بن صامت په حديث کې دي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

۱: فلا تقرؤوا بشيءٍ من القران اذاجهرتُ الابام القران.

ژباړه

کله، چې زه په جهرقرائت کوم نو تاسې له سورت فاتحې پرته نور قرائت مه کوئ

۲: فلا تفعلوا الابام القران، فانه لاصلاة لمن لم يقرابها.

ژباړه:

صرف فاتحه لولئ، ځکه دهغه چا لمونځ نه کېږي، چې دا ونه لولي بل روايت کې دي

۳: لاصلاة لمن لم يقرابفاتحة الكتاب خلف الامام.

ژباړه:

د هغه چا لمونځ نه کېږي، چې امام پسې سورت فاتحه ونه لولي.

۴ دابوهريرة رضی الله عنه وينادہ اقرا بها فی نفسک

ژباړه:

له ځان سره يې وايه.

۵: دعمرفاروق رضی الله عنه ارشاد دی

و ان جهرت (اګر که زه په جهر سره قرائت کوم خو ته ما پسې سورت فاتحه وايه) چې ددې ټولوحديثونوحوالی سره دتفصيل نه مخکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذكرشوي،

؛نوځوک، چې په دې حديثونوعمل نه کوي اوددې پرخلاف دقرائت خلف الامام دمنع لپاره دليلونه وايي اواستدلال ترې کوي؛نودهغوی خبره خطاده لکه مخکې ذکرشو، چې په کوموحديثونوکې، چې دقرائت نه منع راغلي ده هغه عام دي اوپه هغې کې دنفس قرائت څخه منع راغلي ده اودقرائة الفاتحة خلف الامام حديثونه خاص دي اوپه سورت فاتحه ويلوباندې روستودامام نه امرراغلی دی، اودااصولوعامه قاعده ده، چې:
العام يقضى على العام خاص دليل عام دليل ختموي.

ياني کله، چې په مسئله کې خاص دليل راشي؛نوبياپه عام دليل باندې استدلال کول غلط وي؛ نو له قرائت نه دمنع والاحديثونوکې لفظ دقرائت راغلی دی، اوداعام لفظ دی، فاتحې اوسورت دواړوته شامل دی، ليکن رسول الله صلى الله عليه وسلم داتخصيص وفرمايلو، چې سورت فاتحه امام پسې لولئ اود دې نه پرته بل سورت، چې کله امام په جهرقرائت کوي مه لولئ

او دې مسئله کې صحيح او صريح حديثونه او د صحابه کرامو ويناوې راغلي دي، چې د مقتدي لپاره قرائت الفاتحه خلف الامام ضروري ده. لکه ځينې له هغې نه مخکې ذکرشول؛ نو اوس هم، چې څوک ددې په مقابله کې په عموماتواومتشابهاتوباندې دليل نيسي اودسورت فاتحه قرائت په امام پسې منع کوي؛نويقينا، چې ددې خلکودليل نيول ناسم اوکمزوري دي

ځيني حنفيان صاحبان په دې مسئله کې د درواغو څخه کاراخلي اوددې په ذريعه سبب سره امام پسې دسورت فاتحې لوستلوڅخه د خلکو د منع کولوکوښښ کوي، لکه



۱: حنفی مقلدليکي:
ډېرو صحابه کرامو به په امام پسې سورت فاتحه نه لوستله

۲: بياپه رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې دروغ ترې اوليکي:
رسول الله امرکړی، چې مقتدي دې په امام پسې فاتحه پرېږدي

۳: بياليکي: دا د ډېرو صحابه کرامو نه نقل دي او د ډېرو تابعينو وينا ده، چې امام پسې به فاتحه نه لولي

۴: بيا ليکي: د غير مقلدينو په اند د دغه صحابه کرامو لمونځ ونشو تر اخره.

دمذکورحنفي ددرواغوځواب

۱: د ټولو نه اول؛ خو د(الفقه على المذاهب الاربعة: ۱/۲۳۰) په مصنف باندې دروغ افتراء اوغلط بياني وکړه، ځکه په دې کې د «فاتحې» لفظ نشته دا خالص دروغ دي. لکه (الفقه على المذاهب الاربعة: ۱/۲۳۰) کې دي
وقدنقل منع الماموم من القرائة عن ثمانين نفرامن كبارالصحابة الخ
دقرائت نه د مقتدي منع کول له اتيا «۸۰» غټو غټو صحابه وونه نقل شوي دي؛ نو دلته منع دقرائت راغلي ده اودفاتحې نه ده راغلي. اوموږمخکې ووېل، چې دقرائت نه دمنع په حديثونوکې د«قرائت»لفظ نه مراددسورت فاتحې نه پرته په جهري لمونځونوکې بل سورت لوستل مراد دي، له فاتحې څخه منع نه ده راغلي، بلکې له صحابه کراموڅخه؛په صحيح اوصريح حديثونوکې نقل دي، چې هغوی به فاتحه لوستله اوپه دې باندې يې حکم کاوه، چې ددې تفصيل مخکې تيرشو، اوس د دغه صحابه کرامونومونه صرف يادوم اوتفصيل يې مخکې تيرشوی دی.

۱: عمرفاروق رضى الله عنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



٢: علی بن ابی طالب رضی الله عنه

٣: عبدالله بن مغفل رضی الله عنه

۴: جابربن عبدالله رضی الله عنه

۵: عبادة بن صامت رضی الله عنه

۶: معاذبن جبل رضی الله عنه

٧: ابی بن کعب رضی الله عنه

٨: ابوسعيدالخدری رضی الله عنه

٩: عائشة ام المؤمنين رضی الله عنها

١٠_عبدالله بن مسعود رضی الله عنه

١١ عمران بن حصين رضی الله عنه

١٢: عبدالله بن عمروبن العاص رضی الله عنه

١٣: هشام بن عامر رضی الله عنه

١۴: عبدالله بن عمر رضی الله عنه

١۵: ابودرداء رضی الله عنه

١۶: عبدالله بن عباس رضی الله عنه

١٧: انس رضی الله عنه

له دې ټولوصحابه ووڅخه په صحيح اوصريح الفاظوکې دانقل دي، چې دوی به سورت فاتحه لوستله يابه يې په سورت فاتحه لوستلو.باندې امرکاوه ددې نه علاوه نوروصحابه کرام هم شته، چې هغه په (جزء القراءة للامام البخاری کتاب القرائة للبيهقی) کې تفصيلا ذکردي؛نواوس، چې څوک ددې صحابه ووپه دغو صريحواوخاصواومحکمو ويناووباندې عمل نه کوي اوددې په مقابله کې په عموماتو او متشابهاتو باندې عمل کوي اودقرائت خلف الامام نه خپله منع کېږي يانورخلق منع کوي نو ايا دا د علم



او د عقل تقاضا ده؟ ايا دا په زيغ (کوږ والي) کې داخل نه ده.

اوکه بالفرض ديوصحابي اثردې باره کې راشي، چې فاتحه دمقتدي لپاره ويل نشته نوبيابېرته خپل اصل اوعامه اتفاقی قاعده باندې به عمل کولای شي، چې(قول الصحابی حجة اذالم ينفه شيئ اخرمن السنة)دصحابي وينادليل وي، چې کله يې بل مرفوع حديث نفی نه کړي،

امام الکلام(٢٣٥)احياء السنن لاشر ف علی تهانوی (٣٩) مرقاة شرح مشکوة(٢/٢٣٤)اعلاء السنن(١/٥٠٩، ١٣٤، ١١٦)حکم الذکربالجهر سرفرازخان صفدر (١٠٥)ردالمختار(١/٥٥٠)

دې ټولوکتابونوکې دي، چې کله مثلاديوصحابي قول درسو ل الله صلی الله عليه وسلم دوينا سره خلاف راشي؛نودصحابي قول حجت نه وي، درسول الله صلی الله عليه وسلم دحديث په مقابله کې به دده قول نه اخستل کېږي.تاسي ته ښه معلومه شوه، چې دلته خلاف راځي اوکه نه؟ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: دمقتدي لپاره دفاتحې نه پرته لمونځ نه کېږي، بل حديث کې دي، چې امام پسې فاتحه وايه دفاتحې نه پرته قرائت مه کوه، اوس مثلايوصحابي نه په صحيح صريح سندسره نقل شو، چې فاتحه مه وايه؛نودايمان اودمخکنۍ قاعدې تقاضاڅه ده؟

بل دا، چې څه صحيح شو، چې ددې صحابي نه نقل شو، چې فاتحه مه وايئ، اودنوروبې شمېره صحابه کرامونه نقل دي، چې فاتحه وايئ؛نو، چې کله د ددوو صحابه يادوه علماوويادوه عواموداختلاف راشي؛نوالله تعالی مونږته قران کې په څه خبره امرکوي؟

((فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ [النساء: ٥٩]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه:

چې کله مو په يوشي کې جنګ راشي نو الله اورسول ته يې واپس کړئ که پرالله اواخرت ايمان لرئ؛نورسول الله صلى الله عليه وسلم خوفرمايي، چې پرته دفاتحې نه لمونځ نه کېږي؛نوپه همدې خبره به عمل وي

۲: د دغه حنفي مقلددويمه خبره داوه، چې:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي، چې مقتدي به په امام پسې فاتحه نه وايي،

ځواب:

مقلدصاحب! دا حديث چېرته دی اوسند يې څنګه دی؟دا په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې درواغ تړل دي.

هو! دا شته، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي، چې دغه کس لمونځ نه کېږي، چې امام پسې وروستو فاتحه ونه وايي (لکه مخکې ذکر شول)

دغه شان رسول الله دا هم فرمايلي دي، چې ما پسې وروسته قرائت مه کوئ، البتة سورت فاتحه لولئ، ځکه د سورت فاتحې نه پرته لمونځ نه کېږي؛ نو د دغه حنفي مقلد څخه سوال دا دی، چې څنګه رسول الله د فاتحې نه منع کوي او بل مقام کې په همدغه فاتحې لوستلوباندې حکم کوي؟

حقيقت دادی، چې داسې صحيح اوصريح حديث نشته دی، چې په هغې کې امام پسې دفاتحې ويلونه منع راغلي وي، لکه مخکې دعلامه عبدالحی صاحب نه همداخبره نقل کړی شوه، نومحکم پرېښودل اومتشابهاتوپسې ورپسې کېدل داهل زيغ کاروي.

۳: ددغه مقلددريمه خبره داوه: چې ډېرصحابه کرامواوتابعينوامام



پسې فاتحه پرېښې وه.

ځواب:

دصحابه کراموموتعلق خومخکې ذکرشو، چې دهيڅ يوصحابي نه داروايت نشته دی، چې هغه بعينه سورت فاتحه پرېښې وي.اودتابعينوپه باره کې داويل، چې ډېروتابعينوبه فاتحه خلف الامام نه ويله داهم ښکاره درواغ دي، ځکه امام بخاری په خپل کتاب جزء القرائة کې داسې ليکي

وقال الحسن وسعيدبن جبيروميمون بن مهران ومالا يحصى من التابعين واهل العلم انه يقراخلف الامام وان جهروكانت عائشة تامربالقرائة خلف الامام.

ژباړه:

حسن بصری اوسعيدبن جبيرميمون بن مهران اوداسې ګڼ شميرتابعين اوعلماء و ويلي دي، چې امام پسې به فاتحه لولي ولوکه امام په زوره قرائت کوي اوعائشې به په قرائت خلف الامام امرفرمايلو

جزء القرائة ص (۲۸) رقم: ۳۰، کتاب القرائة خلف الامام للبيهقي (۹۹) رقم: ۲۲۲، والمجموع للنووی: ۳۶۵/۳،

هو! د ګڼو تابعينو نه به دا قول نقل وی، چې قرات مه کوئ، ليکن موږ بار بار وويل، چې فاتحه دقرائت نه مستثنی، اوخاصه شوې ده، په نص درسول الله صلى الله عليه وسلم سره

۴: د حنفي مقلد د څلورمې خبرې ځواب دا دی، چې دا خالص درواغ او افتراء ده، چې ځينې نا اهله احناف يې په غيرمقلدينو پسې کوي، بلکې دې باره کې زموږ فتوی واوره:

د فاتحې پرېښودونکي يا د ټولو سنتو پرېښودونکي څلورډوله دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی**

هغه علماء چې اجتهاد يې کړی دی يانې مجتهدين دي، ائمه دي خپل کوښښ يې وکړه او ذهن يې دې ته ورسېده چې د فاتحې لوستل نشته يانې په دې امت کې د ځينو علماوو ذهن دې ته رسېدلی دی؛ نو د هغوی لمونځ کېږي او الله ﷻ به ورته اجر هم ورکوي او د هغوی په اړه به موږ داسې وايو، چې مجتهد مخطئ فی هذه المسئلة عالم دی، اجتهاد يې کړی دی او په خپل اجتهاد تېروتي دي. الله به ورته يو اجر ورکوي او لمونځ يې هم شوی دی او د دوی په اړه به موږ نه وايو. چې لمونځ يې فاسد دی، ځکه د اسلام اصول داسې دي، نبی ﷺ فرمايي، که مجتهد په خپل اجتهاد کې خطا شي؛ نو الله ﷻ ورته يو اجر ورکوي.

**دويم**

هغه ناپوه کس، چې له هيڅ نه خبر نه دی او ملايانو ورته ويلي، چې د ((وَلَا إِلَهَ غَيْرَكَ)) نه به اخوا ته نور لمونځ نه وايي او هغه يې د نا خبر تيا له امله نه وايي، له دې مسئلې څخه بالکل خبر نه دی او چا نه دی خبر کړی، تنبيه يې نه ده ورکړې؛ نو دا د هغه جاهل کس لپاره عذر دی او د دې عذر له امله هغه هم معاف دی څه به ورته نه وايي، چې ستا لمونځ نه دی شوی؛ خو دا هله، چې دا مسئله ورته نه وي رسېدلې؛ نو جاهل دی معاف دی، لکه موږ ټول تر اوسه نه پوهېدو د ناپوهۍ له امله مو خلک هم منع کړي دي، چې په امام پسې د ((لَا إِلَهَ غَيْرَكَ)) نه اخوا لمونځ مه وايئ؛ نو د جهالت له امله، چې چا تر اوسه پورې په امام پسې تر ((لَا إِلَهَ غَيْرَكَ)) پورې لمونځ لوستلی وي؛ نو هغه معاف دی او اوس که څوک ناپوهه وي هغه هم معاف دی.



**درېيم**

هغه کس، چې تر ((وَلَا إِلَهَ غَيْرَكَ)) پورې لمونځ وايي او دا مسئله ورورسېده، چې په امام پسې فاتحه لوستل پکاردي، پر دې اړه حديث راغلي دي او هغه بيا هم بې باکي وکړه او هماغه خپله طريقه يې راټينګه کړې وه، چې پلاراو نيکه څه ور ښوولي وه او پر دې مسئله پروانه کوي، داسې هم نه وايي، چې دا حديث نه منم؛ خو بې پروا دی؛ نو داسې انسان په لويه خطره کې ښکېل دی او داسې نه وايو. چې دا لمونځ يې فاسد شه ؛خو په غټ خطر کې پروت دی. ځکه چې په نبوي سنت يې له سره غوږ ونه ګراوه دا خو د بل چا کاردی، چې سړي ته دې ديني خبرې بيان شي او داپرې له سره غوږ نه ګروي. داډېره دسخت زړتوب او د زړه د مړ کېدو خبره ده، دا د بل چاکاردی؛ نو دا سړی فاسق دی او ددې وېره شته، چې الله ﷻ يې دغه لمونځ قبول نه کړي

**څلورم**

هغه کس، چې ښه صحيح حديث وروړسېدل او ښه پرې پوه شه، ترمذی، بخاری ابوداود ټول يې وکتل؛ نو دا لا په ضد کې راغی، چې زموږ د امام صاحب مذهب دا دی او فاتحه دې نه وايم او مناظره پرې کوم او ددې مقابله کوم؛ نو ددې سړي د لمانځه غم مه کوه د ده د ايمان غم وکړئ، چې دا کافر شوی دی که نه قرآن داسې وايي

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ

ژباړه:

ستا په رب مې دې قسم وي که داخلک تر هغې مؤمنان وي چې ستا پرېکړه (فيصله) ونه مني

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وايي ښه حديث شته؛ خو زه دا نشم منلای، ځکه چې

*ما راقول ابوحنیفه کافی است ما را قال قال بکار نیست.*

زما لپاره دامام ابوحنيفة قول بس دی او ((قال قال)) مې پکارنه دي دا کافر دی مسلمان نه دی او داسې مقلد کافر وي ټول مقلدين کافرنه دي. په دوی کې معذورهم شته. ښه او ديندار خلک هم پکې شته: خوهغه څوک چې له نبوي سنتو سره ضد کوي د هغه دايمان غم وکړه او ورته ووايه، چې په الله ايمان راوړه. ځکه داسې کس له دين څخه وتلی دی او قاعده ددين په هره مسئله کې کارېږي، ياني يو څوک به يا د اجتهاد له امله تېروتنی وي؛ نو دا ګنهګارنه دی. يابه دناپوهی له امله وي؛نو داهم نه ګنهګارېږي اوکه دبې باکۍ له امله يې پرېږدي؛نو دا کس فاسق دی اوکه دضدله امله يې پرېږدي؛ نو دا کافردی

**نولسمه مسئله په فاتحه لوستلو کې سنت طريقه**

په لمانځه کې دفاتحې سورة د لوستو سنت طريقه داده، چې پر هر آيت باندې وقف وشي. لکه الحمدلله رب العلمين (وقف وکړه) الرحمن الرحيم (وقف وکړه) ملک يوم الدين (وقف وکړه) که څه هم په پرلپسې ډول ياني پر يوه ساه باندې د فاتحې لوستل روا دي : خو د سنت مطابق نه دي، د نبي ﷺ طريقه دا وه، چې پر هر آيت باندې به يې وقف کاوه او د قراءت په باب دهغه طريقه دا وه، چې مد به يې راښکه (كان يمد) په قرائت کې به هغه مدونه کول او په احاديثو کې د مد اصطلاح دې ته وايي، چې د (واو، الف، يا) حروف علت، چې کله راشي دې لره زوروركړي ياني لږ اوږدوالی ورکړي، لکه الحمدلله رب العلميـــــــن او ژر ژر به يې نه لولې، ځکه ژر ژر لوستل يې ناسم دي



هر ايت باندې وقف كول، اوقرائت کې مدكول، او د خپل وس مطابق بې تکلفه اواز خوږول

«زَيِّنُوا الْقُرْآنَ بِأَصْوَاتِكُمْ، فَإِنَّ الصَّوْتَ الْحَسَنَ يَزِيدُ الْقُرْآنَ حُسْنًا»

المستدرك على الصحيحين للحاكم (۱ / ۷۶۸)

ژباړه:

قرآن پر خپلو غږونو ښکلی کړئ، ځکه خوږ غږ لاپسې دقران ښکلا زياتوي

ياني سست قران به نه وايې دادسست طريقه ده چې لنډاوزرقرائت وايي قرائت هله خوندکوي چې زړه ژوندی وي دزړه دژوندنښه داده چې قران په شوق سره وايي به مزه باندې وايې خوندترې اخلې اوزړه چې کله مړوي نوبياخانه پوري کوي صرف ی ډېرامامان به تاسبګوری، چې لمونځ کوي رکعت پوره کوي فقط چې يوڅه قرائت ووايي اورکعت پوره شي داغم ورسره نه وي چې له لمانځه څخه خونداخستل پکاردي الله رضاکول پدې پکاردي دهغه پرې ادب پکاردی‌موږبه بل چارددخپل خان لپاره کووچېموږلره توجه پکارده زړه کې ژوندپيداکول ضروري دي زړه ژوندی کړه داسې قران وايه چې دلالت کوي ستادزړه په ژوندباندې بې تکلفه شوق سره وايه ولوکه کله دې زړه هم نه کيده الله درلره شوق پيداکوي قران په شوق اوجذبې سره لوستل پکاردي

براء بن عازب وايي

سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " يَقْرَأُ: وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ فِي العِشَاءِ، وَمَا سَمِعْتُ أَحَدًا أَحْسَنَ صَوْتًا مِنْهُ أَوْ قِرَاءَةً "

صحيح البخاري (۱ / ۱۵۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه

((ما له نبي ښخه واورېدل د ماخوستن په لمانځه کې يې (والتين. والزيتون) سورة لوسته، ما له نبي پرته د بل چا دومره خوږ غږ نه و اورېدلی))

**شلمه مسئله: په خفيه لمونځونو کې د مقتدي لپاره د فاتحې نه علاوه د نورقرات کولو حکم**

د مقتدي لپاره امام پسې په جهري لمونځونوکې له فاتحې نه پرته بل سورت ويل نه دي جائز، بلکې مقتدي به په جهري لمونځ کې امام پسې صرف سورت فاتحه وايي اوکله، چې امام په قلاره قرات کوي ياپه جهرسره قرات کوي، ليکن مقتدي دامام نه لرې وي اودامام اوازنه اوري؛نوپه دې دواړوصورتونوکې دمقتدي لپاره دسورت فاتحې نه پرته بل يوسورت ويل غوره دي

پردې خبره دليل دادی

۱: عن علی ابن ابی طالب انه کان يامرويحب ان يقراخلف الامام فی الظهر والعصر بفاتحة الکتاب و سورة و فی الاخريين بفاتحة الکتاب.

اخرجه الدارقطنی: ۱\۳۲۳، وقال اسناده صحيح واخرجه البخاری ونحوه فی کتاب القرائة للبيهقی ص: ۹۳، رقم: ۱۹۶، ۱۹۵،

ژباړه:

له علی بن ابی طالب ښخه روايت دی، چې ده به د ماسپښين اومازديګرکې په لومړنورکعتونوکې امام پسې فاتحه او يوسورت لوستل خوښول او امر به يې هم پرې کاوه اوپه وروستنوکې صرف سورت فاتحه همدارازله په يوبل روايت کې ترې نقل دي، چې فرمايلي يې دي



اذالم يجهرالامام فی الصلاة فاقرابام الکتاب وسورة فی الاولیين من الظهروالعصر، وفی الاخريين من الظهروالعصروفي الاخرة من المغرب وفي الاخريين من العشاء

(اخرجه الدارقطني: ۱\۳۲۲، وهذا اسنادصحيح)

ژباړه

کله، چې امام په جهرقرائة نه کوي: نو ته د ماسپښين او مازديګر په لومړنيو دوه رکعتونوکې فاتحه او يوسورت وايه، همدغه شان په روستنی رکعت د ماښام او په روستنيو دوه رکعتونو د ماسخوتن کې (سورت فاتحه او يو بل سورت وايه)

۲: عن جابربن عبدالله (رضي الله عنه-قال: کنانقرافي الظهروالعصرخلف الامام في الرکعتين الاولیين بفاتحة الکتاب وسورة وفی الاخريين بفاتحة الکتاب

رواه ابن ماجة: ۱\۱۴۰، رقم: ۸۴۳، کمافی الارواء: ۲\۲۸۸، رقم: ۵۰۶، وصفة الصلاة للالباني ص(۱۰۰) وصححه الشيخ في صحيح ابن ماجة والارواء

ژباړه:

له جابرښخه روايت دی، چې موږبه په ماسپښين اومازديګرپه لومړنيورکعتونوکې فاتحه اويوسورت لوسته اوپه وروستنيوکې به مو فاتحه لوستله

۳: عن عمربن ابي سحيم قال: کان عبدالله بن مغفل المزني صاحب رسول الله صلى الله عليه وسلم يعلمناان نقراخلف الامام في الظهروالعصرفی الرکعتين الاولیين بفاتحة الکتاب وسورة وفی الاخريين بفاتحة الکتاب

اخرجه البيهقي في کتاب القرائة خلف الامام ص: ۱۰۲، رقم: ۲۳۵، والبخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



في جزء القرائة ص: ٣٥، رقم: ٦١.

ژباړه:

له عمر بن ابي سحيم څخه روايت دی، چې عبدالله بن مغفل د نبي عليه السلام ملګري، به موږ ته را ښودل، چې په ماسپښين او مازديګر کې په امام پسې په لومړنيو رکعتونو کې سورت فاتحه او يو سورت ووايو او په وروستنيو کې صرف سورت فاتحه ولولو.

٤: عن ثابت عن انس قال: كان يامرنابالقرائة خلف الامام قال: وكنت اقوم الي جنب انس فيقرا بفاتحة الكتاب وسورة من المفصل ويسمعناقرائته لنا خذ عنه (كتاب القرائة) ص (١٠١) رقم: ٢٣١،

ژباړه:

ثابت له انس څخه روايت کوي، چې موږ ته به يې په فاتحه خلف الامام باندې امر کاوه، ثابت وايي: زه به د انس خوا ته ودرېدم نو هغه به فاتحه او يو سورت د مفصلاتو نه لوسته او موږ ته به يې را اورولو، چې موږ يې ترې يادکړو،

٥: عن عبادة بن صامت ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لاصلاة لمن لم يقرابام القران وفي رواية فصاعدا-رواه مسلم: ١|١٦٩،

و في رواية فما زاد كما رواه البيهقي: ٢|٥٩، صفة صلاة النبي للالباني ص: ٧٣،

ژباړه:

له عبادة بن صامت څخه روايت دی، چې نبي عليه السلام فرمايلي دي: د هغه چا لمونځ نه کېږي، چې سورت فاتحه اوله دې نه زيات ونه وايي



فصاعدالفظ ته ځيني علماء شاذ وايي، چې دامتکلم فيه دی خوراجح داده، چې داصحيح روايت دی:خوفصاعدادلته صرف دجوازلپاره دی، لکه ددې تفصيل په المرعات دمبارکفوري، درس ترمذي اوداسې نوروکې کتلای شئ

ددې ذکرشويوروايتونونه؛خويوه دامسئله معلومه شوه، چې مقتدي لپاره په امام پسې دسورت فاتحې لوستلوسره يوبل سورت ويل مستحب دي بله مسئله ترې نه داهم ثابته شوه، چې سورت فاتحه لوستل منسوخ نه دې لکه څنګه، چې ځيني خلکويولنډشان ځواب زده کړی دی، چې کله د ده له مذهب يارايې خلاف يوحديث راشي نوسمدست وايي دامنسوخ دی نودلته څه ناسخ نشته، بل دا چې عمر بن ابی سحيم دغه شان ثابت وغيره تابعين دي او دوی ته عبدالله بن مغفل دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم له وفات څخه وروسته وښودله ثابت له انس نه فاتحه خلف الامام سره دسورت نه اورېدلې ده،

د لا ډېر تفصيل لپاره فتاوى الدين الخالص ١٨٦|٤، وګوره هذا و بالله تعالى التوفيق

**يوويشتمه مسئله: تر ((وَ لَا الضَّآلِّيْنَ)) وروسته امين ويل او د هغې اړوند مسئلې**

تر ((وَ لَا الضَّآلِّيْنَ)) وروسته امين ويل پکار دي او په امين ويلو کې قاعده داده که پټ لمونځ وه په پټه به يي وايي، که جهري لمونځ و؛نو جهر به کوي، ځکه امين د فاتحې تابع دی، که فاتحه په جهر وه دابه هم په جهر وي او که فاتحه په پټه وه دابه هم په پټه وي او دا هسې کمزورې مسئلې دي، چې ځيني خلک وايي امين دعا ده او دعاپه پټه ويل پکاردي دا؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوقیاس دی دالله نبی ته رجوع وکړه، چې هغه څنګه کړي دي، هغه امین په جهرکړی دی، بل دا، چې دا فاتحه ګنې دعانه ده؟دې ته سورة الدعا یانې (د دعا سورة) وایي : نو بیا هغه څنګه په جهر وایې. دا چې هغه په جهر وایي :نودې یوټکي څه ګناه کړې ده، چې دا پټ وایي او د جهر خلاف یې کوې دا ډېره کمزورې خبره ده چې ځیني خلک یې کوي او کېدای شي، چې هغوی ته دا حدیث نه وي رسېدلی، چې له دې امله هغوی د اللهﷺ په وړاندې معذوردي (ان شاءالله) خو که څوک سره له علمه د دې سنت خلاف کوي؛ نو هغه به معذور نه وي، ځکه مونږ ته دامسئله رارسېدلې ده .

**که څه هم ځیني کسان د ښکاره (په جهر) د امین ویلو ډېرمخالفت کوي او په پټه باندې دامین ویلو په باره کې څه فتوی هم راوړي، چې ځیني دلیلونه یې دادي،**

١: ادعوا ربكم تضرعا وخفية

٢: واذكرربك في نفسك تضرعاوخفية ودون الجهرمن القول

٣: قال قداجيبت دعوتكماوقال عطاامين دعاء(بخاري: ١|١٠٧)

٤: عن علقمة بن وائل عن ابيه ان النبی صلي الله عليه وسلم قراغيرالمغضوب عليهم ولاالضالين فقال امين وخفض بهاصوته رواه الترمذي: ١|٥٨، والبيهقي: ٢|٥٧.

٥: عن ابي وائل قال: كان عمروعلي لا يجهران ببسم الله الرحمن الرحيم و لا بالتعوذ و لا بالتامين رواه الطحاوي: ١|١٥٠، وابن جرير

٦: روينا عن عبدالرحمن بن ابي ليلي ان عمربن الخطاب قال: يخفي الامام اربعاً: التعوذ، و بسم الله الرحمن الرحيم، و آمين، و ربنا لك الحمد. المحلي لابن حزم



٧: عن علقمة والاسودعن ابن مسعودقال: يخفي الامام ثلاثاً: بسم الله الرحمن الرحيم، و آمين، المحلي لابن حزم: ٢|٢٠٦.

٨: عن الحسن ان سمرة بن جندب وعمران بن حصين تذاكرافحدث سمرة بن جندب انه حفظ عن رسول الله صلي الله عليه وسلم سكتتين سكتةًاذاكبروسكتةًاذافرغ من قرائة غيرالمغضوب عليهم ولاالضالين فحفظ سمرةُوانكرعليه عمران بن حصين، فكتبافي ذالك الىأبي بن كعب وكان فى كتابه اليهمااوفى رده عليهماان سمرة قدحفظ راوه ابوداوود: ١|١٢٠، والترمذي: ١|٥٩.

ځواب

د امین په اړه؛ خو علماوو مستقل کتابونه لیکلي دي. چې دهغې کتل پکاردي؛ خو زه دلته د پورتنیو هغو دلیلونولنډه تجزیه ذکرکوم، چې د پټ امین ویلو په لړ کې ذکرشوي دي

اجمالا په دې خبره ځان پوهه کړئ، چې په هیڅ صحیح حدیث کې دانشته، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم امین په پټه ویلی وي اونه یې داویلي دي، چې امین په پټه باندې وایئ اونه له یوصحابي نه په صحیح سندسره داثابت دي، چې هغه امین په پټه باندې ویلی وي

لکه علامه عبدالرحمن مبارکفوري په تحفة الاحوذي (١|٢٠٩) کې لیکي:

ولم يثبت عن احد من الصحابة الاسرار بالتامين بالسند الصحيح، ولم يثبت عن احد الانكار على من جهر بالتامين

ژباړه:

له هیڅ یوصحابي څخه په صحیح سندسره په پټه امین نه دی نقل اونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترې په ښکاره ویلوبدویل نقل دي،

موږ اول هغه دلیلونه ذکرکوو، چې امین بالجهرلپاره دلیل وي، او وروسته به دهغه دلیلونوحال اودرجه بیان کړو، چې دامین بالاخفاء لپاره دلیل وي

**په جهر د امین ویلو دلیلونه**

اول دلیل:

عن سلمة بن كهيل عن حجربن عنبس عن وائل-رضى الله عنه-قال: كان رسول الله اذاقلا ولاالضالين قال: امين ورفع بهاصوته وفي لفظٍ: ومدبهاصوته وفي رواية فجهربآمين وفي رواية فسمعناها.

رواه الترمذي: ١\٥٨، وابوداوود: ١\١٣٤، رقم: ٩٣٢، وابن ماجة: ١\١٤٢، رقم: ٦٩٦، واحمد: ٢\٢٠٥، والدارقطني: ١\٣٣٤، والبيهقي: ٢\٥٧، والبخاري في جزء القرائة ص: ٢٣٥، ٢٣٤، و ابن عبدالبر في التمهيد: ٧\١٤، و ابن ابي شيبة ٢\٤٢٥، والبغوي: ٥٨٦،

ژباړه:

سلمة بن كهيل دحجربن عنبس په واسطه له وائل نه روایت کوي، چې نبي علیه السلام به کله ولا الضالین وویلو نو آمین به یې ویلواوازبه یې پرې اوچتوه، بل روایت کې دي، چې اوازبه یې پرې راښکه، بل روایت کې دي، چې پرامین باندې یې جهروکړه، بل روایت کې دي، چې موږواورېده،

داصحیح حدیث دی اوپه دې خبره دلیل دی، چې امین په زوره ویل پکاردي،

اودوائل بن حجرنه، چې په پټه باندې امین ویلوکوم روایت راغلی دی نوهغه ضعیف دی، لکه ددې تحقیق به ان شاء الله روستوراشي،



دوائل بن حجردامین بالجهردې روایت ته ګڼو محدثینو صحیح ویلی دی، لکه دهغوی نومونه دادي:

[۱] امام بخاری، [۲] امام ابوزرعة رازي دې دواړو ویلي دي، چې دآمین په زوره ویلوداحدیث دشعبه له حدیث نه کوم، چې دامین پټوویلوباره کې راغلی دی ډېرصحیح دی (ترمذی ۱\۵۸) [۳] امام ترمذی وايي: دا حدیث حسن دی (ترمذی: ۱\۵۷)، [۴] حافظ ابن حجر فرمايي: ددې حدیث سند صحیح دی (التلخیص الحبیر ۱\۲۳۶)، [۵] محدث العصر علامه البانی دې حدیث ته صحیح ویلی دی، صحیح الترمذی، صحیح ابی داوود، مشکوة المصابیح، صحیح ابن ماجة، سلسلة الاحادیث الصحیحة رقم: ۴۶۵، صفة صلاة النبی صلی الله علیه وسلم، للالبانی، ص: ۱۰۱

[۶] علامه عبیدالله رحمانی فرمايي: داحدیث صحیح دی، مرعاة المفاتیح: ۳\۱۱۹، [۷] شیخ عبدالحق محدث دهلوی کما فی تحفة الاحوذی: ۱\۲۰۹، [۸] علامه عبدالحی لکهنوی التعلیق الممجد ص: ۱۰۱. [۹] علامه مبارکفوری تحفة الاحوذی: ۱\۲۰۹. ابکار المنن ص: ۱۷۹. [۱۰] فتاوی الدین الخالص: ۴\۱۵۶. [۱۱] شیخ شعیب الارناووط: د صحیح ابن حبان په تحقیق: ۵\۱۰۹، کې لیکي: اسناده قوی دغه شان ددې نه علاوه نورو بې شمېره محدثینو دې حدیث د وائل بن حجر ته صحیح ویلي دي،

۲: دویم دلیل:

عن ابي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا امن الامام فامنوا، فانه من وافق تامينه تامين الملائكة غفرله ماتقدم من ذنبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(اخرجه البخاري: ۱\۱۰۸، ومسلم: ۱\۱۷٦، والترمذي: ۱\۳۰، رقم: ۲۵۰، والنسائي: ۱\۱٤۷، رقم: ۹۲۷، ۹۲۵، وابن ماجة رقم: ۸۵۱، ومالک: ۱\٦۹، واحمد: ۲\٤۵۹)

ژباړه:

له ابوهریرة څخه روایت دی، چې نبي علیه السلام فرمایلي دي کله، چې امام امین ووایې نوتاسې هم امین ووایئ، ځکه دچاامین، چې دملائکوDامین سره یوځای شو؛نومخکني ګناهونه به یې وبښل شي،

داحدیث پردې دلیل دی، چې امین په جهرسره دی، ځکه که چیرته دامام جهرپه امین سره نه وي؛نومقتدي به دامام امین څنګه واوري اوهغه سره به امین څنګه موافقت وکړي، اوکه امام په پټه امین ووایي؛نومقتدي به څنګه دهغه سره امین ووایي؟

اودې حدیث باندې امام بخاري، نسائي، ابن ماجة او نورو ګنو محدثینو په امین بالجهرسره دلیل نیولی دی، صحیح ابن ماجة ۱\۲۸٦ لکه علامه سندي حنفي دنسائي اوابن ماجة په حاشیه لیکي

اخذمنه المصنف الجهرعندتامینه اذلواسرالامام بآمین لماعلم القوم بتامین الامام فلایحسن الامرایاهم بالتامین عندتامینه وهذااستنباط دقیق، مرجعه ماجاء من التصریح بالجهروهذاهوالظاهرالمتبادر، اه

حاشیة السندی: ۱\۱٤۷، علی النسائي والمرعاة للعلامه المبارکفوري: ۱ \۱۱۹)

ژباړه:

له دې حدیث نه مصنف په جهرامین ویلوباندې دلیل نیولی دی، ځکه که امام په پټه امین ووایي نوقوم دهغه پرامین نه پوهېږي؛نوبیامقتدیانوته دا امر(چې دایمان امین پسې امین وایئ) مناسب نه دی، اوداډېرباریک



استنباط دی، چې مرجع یې هغه تصریح ده، چې په امین بالجهرباندې راغلي ده، اوهمداله دې لفظ نه په ډاګه معلومېږي،

علامه خطابي په معالم السنن: ۱\۲۲۳، کې لیکي

وفیه دلیل علي ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یجهربامین ولولاجهره به لم یکن لمن یتحري متابعه في التامین علی سبیل المدارکة طریق الی معرفته، فدل انه کان یجهربه جهرایسمعه من ورائهُ

ژباړه:

داحدیث پردې مسئله دلیل دی، چې نبي علیه السلام به امین په زوره ویلواوکه دانه وی نوکوموخلکو، چې پسې اقتداکوله دهغه امین ویل به یې نه پېژندلای؛داحدیث دا لاربنوونه کوي، چې نبي علیه السلام به امین په زوره ویلواو وروسته خلکوبه اورېدلو،

حافظ ابن القیم په اعلام الموقعین (۲\۳۵۷) کې فرمایي

ولولاجهربالتامین لماامکن الماموم ان یؤمن معه ویوافقه في التامین.

که امین په زوره ویل نه وي نومقتدي نه شي کولای، چې دامام سره یوځای امین وکړي

علامه عبدالرؤوف مناوي فرمایي

وفیه ندب التامین للامام خلافالمالک ورفع صوته به اذلولم یجهرلماعلم تامینه الماموم.

په دې کې دامین ویلومستحب والی دامام لپاره ذکردی صرف امام مالک خلاف کړی دی، اوپه زوره ویل یې هم ذکردي، ځکه که جهرنه وي نومقتدي دامام په امین نه پوهېږي

داټول قولونه دعلماوو موځکه ذکرکړل، چې څوک ونه وایي، چې دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهرنشته،

۳ دریم دلیل

عن ابي هريرة قال: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم: اذافرغ من قرائة ام القران رفع صوته وقال امين.

اخرجه الدارقطني: ۱\۳۲۹، رقم: ۱۲۵۹، وقال: هذا اسنادحسن، والحاكم: ۱\۲۲۳، وقال: صحيح على شرط الشيخين، ولم يخرجاه بهذا اللفظ، وصححه الذهبي في تلخيصه ايضا ومثله في ابي داوود: ۱\۱۳۵، رقم: ۹۳٤، وابن ماجة رقم: ۸۵۳، وابن حبان: ۳\۱٤۷، وابن خزيمة: ۱\٤۹۹، ۲۸۷، والبخاري: ۱\۱۰۸.

ژباړه:

له ابوهریرة څخه روایت دی، چې نبي علیه السلام به کله دسورت فاتحې له لوستلوڅخه وزګارشه؛نواوازبه یې اوچت کړه اوامین به یې وویلو.

۴ څلورم دلیل:

وعن عائشة-رضى الله عنها-انهم (اليهود) لايحسدونناعلى شيئ كمايحسدونناعلى يوم الجمعة التي هداناالله وضلوا عنها وعلى القبلة التي هدانا الله لها وضلوعنها وعلى قولناخلف الامام آمين.

اخرجه احمد: ۶\۱۳۵، ۱۳٤، مصباح الزجاجة: ۱\۲۹۷، وابن ماجة: ۸۵۶ وابن خزيمة: ۱\۲۸۸، رقم: ۵۷٤، والبيهقي: ۲\۵۶، وفي مجمع الزوائدللهيثمي: ۲\۱۵، والبخاري في التاريخ الكبير: ۱\۲۲، والادب المفرد: ۹۹۱، كنزالعمال: ٤\۹۷، رقم: ۲۰۳۵، والطبراني في الاوسط والمنذري في الترغيب: ۱\۱۹۲، وصفة صلاة النبي للالباني: ۱۰۲، وصححه في صحيح ابن ماجة وصفة صلاة النبي والصحيحة: ۶۹۱،



ومثله عن ابن عباس و معاذ و انس وابي هريرة رضى الله تعالى عنهم اجمعين،

ژباړه

له عائشې څخه روایت دی، چې یهودموږسره په په هیڅ شي دومره کینه نه کوي، لکه چې دجمعې په ورځ اوپه قبله کوم، چې موږته الله راکړي اوهغوی یې ترې بې برخې کړي دي اوپه امام پسې امین ویلوباندې چې یې راسره کوي

داحدیث ښکاره دلیل دی، پردې خبره، چې په لمانځه کې آمین په زوره ویل سنت طریقه ده، ځکه که امین په زوره سره ونه ویلای شي اویهودیان یې وانه وري؛نوهغوی به بیاموږمسلمانانوسره په امین ویلوباندې څنګه کینه کوي، بلکې له دې نه هم صریح روایت حافظ ابن حجرپه خپل کتاب المطالب العالیة: ۱۲۳\۱ ، کې ذکرکړي دي، چې

ان يهوديامرباهل مسجدوهم يقولون آمين قال اليهودى والذي علمكم امين انكم لعلى حق.

ژباړه:

یویهودي په یوجوماتو والاباندې ورغلی، چې آمین یې ویلویهودي وویله زمادې په هغه ذات قسم وي، چې تاسوته یې امین درښودلی تاسویه حق یاستئ

فائده: حافظ ابن عبدالبرلیکلي دي، چې امام احمدبن حنبل به له هغه چاڅخه ډېرخفه کېده، چې امين بالجهربه یې بدګڼلو، اودابه یې ویل، چې درسول الله صلى الله عليه وسلم فرمان دی، چې یهودیان تاسوسره په بله هیڅ شي دومره ډېره کینه نه کوي، چې څومره درسره په امین ویلوکوي،

تمهيددابن عبدالبر: ۷\۱۵، والقول المقبول في شرح وتعليق صلاة الرسول

ص: ٣٦٦، لابي عبدالسلام عبدالرؤوف.

غرض دا، چې د يهوديانو صفت دادى، چې په امين بالجهرباندې غصه کېږي او خفه کېږي؛ نو ځوک چې پردې خفه کېږي په هغه کې د يهوديانو صفت دى. او دا حديث بالکل صحيح دى. امام الباني په صحيح ابن ماجة: ١٤٢\١١، رقم: ٦٩٧، تعليق الترغيب والترهيب: ٩٧٨\١١، او په صحيحة: ٦٩١، کې يې صحيح کړى دى، امام بويصري فرمايي چې دا صحيح حديث دى،

٥ پنځم دليل

عن عطاء قال امن ابن الزبيرومن ورائه حتى ان للمسجدللجة

ژباړه:

له عطاء څخه نقل ده، چې ابن الزبير او د هغه مقتديانو امين وويلو نو جومات داسې انګازې وکړې،

دا حديث امام بخاري په خپل صحيح کې تعليق راوړى دى، دغه شان مسند شافعي: ٢١٢، ١٥، البيهقي: ٥٩\٢، عبدالرزاق: ٩٧\٢، ٩٦، ابن منذر: ١٣٢\٣، محلى ابن حزم: ٢٤٦\٣، ابن ابي شيبة: ١٨٨\٢، درالتاج ومثله عن عكرمة التابعي مصنف ابن ابي شيبة: ١٨٧\٢.

٦ شپږم دليل

و عن عطاء بن ابي رباح قال: ادركت مائتين من اصحاب النبي صلى الله عليه وسلم في هذالمسجد-المسجدالحرام-اذاقال الامام ولا الضالين رفعوا اصواتهم بآمين.

رواه البيهقي: ٥٩\٢، وابن حبان في الثقات: ٢٦٥\٦ المرعاة: ١٢٠\٣،

ژباړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عطاء بن ابي رباح وايي: ما دوه سوه (٢٠٠) صحابه په مسجدحرام کې ليدلي دي، چې کله به امام ولا الضالين وويلو نو هغوى به امين ويلو او اوازونه به يې پرې اوچتول

امام عطاء د امام ابوحنيفة استاذ دى امام ابوحنيفة د ده په اړه داسې وينا کړې ده: ما رايت مثله. ما دده په شان بل ځوک نه دى ليدلى. (ميزان الاعتدال: ٧٠\٣، رقم: ٥٦٤٠.

فائده: د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه له دغه دورڅخه تر اوسه پورې مسجد حرام او مسجد نبوي په امين بالجهر باندې کړنګېږي د حاجيانو نه پوښتنه وکړئ؛ نو چې مسجد حرام او مسجد نبوي د (١٤٠٠) کالو نه را په دېخوا په امين بالجهر ويلو باندې کړنګېږي نو بيا د احنافو مسجدونه ولې د امين ددې خوږ اواز څخه چپ او خاموش دي؟

زما محترمو مسلمانانو ورونو!

دا سنت ژوندي کړئ او د خپلو جوماتونو نه د حرمينو شريفينو په شان مسجدونه جوړ کړئ. صلاة الرسول (٢١٠، للسيالكوتي)

دويمه فائده: له دې څخه دا هم معلومه شوه، چې امين په زوره ويل منسوخ نه دي اوابن زبير، چې په مسجدحرام کې امين په زوره ويلو؛نودادرسول الله صلى الله عليه وسلم له وفات څخه وروسته يې ويلى دى، ځکه عطاء بن ابي رباح تابعي دى، اوهغه امين په جهرسره اورېدلو؛نوايادرسول الله له وفات څخه وروسته هم ځوک حکم شرعي منسوخ کولاى شي؟

په امين بالجهر ويلو باندې د صحابه کرامو اجماع ده

علامه مبارکفوري په تحفة الاحوذي (٢٠٩\١١) کې ليکي:

ولم يثبت من احد من الصحابة الاسرار بالتامين بالسند الصحيح ولم

(c) ketabton.com: The Digital Library



يثبت عن احد منهم الانكار على من جهر بالتا مين. فقد ثبت اجماع الصحابة-رضى الله عنهم- على الجهر بالتا مين على طريق الحنفية فانهم قالوا: ان ابن الزبيرا فتى في زنجي وقع في بئرزمزم ينزح مائهاوذالک بمحضرمن الصحابة ولم ينكر عليه احد فكان اجماعا فكذا لک يقال: ان ابن الزبيرا من بالجهر في المسجد بمحضر من الصحابة ولم ينكر عليه احد بل وافتوه وجهروا معه بآمين حتى كان للمسجد للجة فكان اجماع الصحابة على الجهر بالتامين

ژباړه

له هيڅ يوصحابي څخه په پټه امين په صحيح سندسره نه دی نقل اونه له دوی څخه په امين ويلوڅه بدو يل نقل دي، بلکې پر جهرآمين داحنافوپر طريقه باندې اجماع نقل ده. څکه هغوی وايي ابن زبيرديوسړي باره کې چې په کوهي کې ولېدلی وه ويلي وو، چې ټولې اوبه به ترې ويستلی شي اونوروصحابه وويرې بدنه دي ويلي ؛نودا اجماع شوه؛نودلته هم ابن زبيرپه امين باندې جهرکړی اوهيچاپرې بدنه دي ويلي، بلکې فتوی يې ورکړې اودهغه سره يې پرې جهرهم کړی دی، دومره قدرې، چې جومات کړنګاوکړه نوداپه زوره امين ويلودصحابه وواجماع شوه.

**د امين بالجهر په اړه د علماوو قولونه:**

١: علامه عبدالحی لکهنوي فرمايي

والانصاف ان الجهرقوى من حيث الدليل.

انصاف خبره داده، چې جهرد دليل په اعتبارسره ډېرقوي دی

سعايه شرح شرح الوقايه (١٣٧/١١) کې فرمايي:

لقدطفناسنينابهذالبيت طرا اجمعين فوجدنابعدالتامل والامعان ان القول بالجهربامين هوالاصح لكونه مطابقالماروى عن سيدبني عدنان وروایة الخفض



عنه ضعيف لاتوازي روايات الجهرواى ضرورة داعية الىحمل روايات الجهرعلى بعض الاحيان اوالجهرللتعليم مع عدم ورودشيئ من ذالک في رواية والقول بانه كان في ابتداء الامراضعف لان الحاكم قدصححه من رواية وائل بن حجررضى الله عنه وهوانمااسلم في اواخرالامركماذكره ابن حجرفي فتح الباري

ژباړه

موږټول وګرځېدونوله ډېرژورسوچ نه وروسته موداوموندله، چې امين په زوره ويل ډېرسم دي، څکه داله نبي عليه السلام څخه صحيح ثابت دي، او د په قلاره ويلو حديث ضعيف دی، د جهر امين ويلو سره نه شي برابرېدای، او څه لامل دی، چې د جهر حديثونه يا په ځينې وختونو باندې او يا په تعليم باندې حمل کړو سره له دې، چې په دې کې هيڅ شی نه دی راغلی، او دا خبره کول، چې دا په اول د اسلام کې وو ډېر کمزوری دی، څکه حاكم دغه حديث د وائل په روايت صحيح کړی دی، او وائل خو په اخر وخت کې اسلام راوړی دی، لکه دا خبره ابن حجر په فتح الباري کې کړې ده

او کوم اثر، چې د ابراهيم نخعي وغيره نه ذکرکولی شي د پټ امين ويلو په اړه نو دا هم د جهر امين ويلو روايتونوسره مقابله نه شي کولای

، آمين بالجهرلمولانامحمديحيى ګوندلوي ١٧۴.

٢: شاه اسمعيل شهيدپه خپل کتاب تنويرالعينين ص ٧١، کې ليکي

ان الجهربالتامين اولى من خفضه

ژباړه:

په زوره امين ويل دپټ ويلونه غوره دي

٣: شيخ عبدالحق محدث دهلوي په اشعة اللمعات شرح مشكوة کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکي:

*درباره آمين بالجهر احاديث اکثر واصح امده است:*

دښکاره امين ويلو په اړه حديثونه ډېر او صحيح دي

همدغه راز نوموړی په مدارج النبوة (۱۱۱۰۴۰) کې ليکي:

*و در اخر فاتحه امين ميگفت در نماز جهري به جهر و در سري بخفيه و مقتديان بموافقت آمين گفتند و در جهر بآمين در نماز جهر احاديث واقع شده.*

دفاتحې په پای کې به امين په جهري لمونځونو کې په جهر او په سري کې په پټه ويل کېږي او مقتديان به د امام سره امين لولي او په دې کې حديثونه هم راغلي دي (مدارج النبوة مترجم اردو: ۱۱/۲۹۵).

۴: مولانا محمد احمد حنفي د ترمذي په فارسي شرح کې څلور واړه مذهبونه بيانوي ليکي:

د امين بالجهر روايتونه ډېر او صحيح دي

(ابكارالمنن: ۱۱۹، آمين بالجهر للشيخ محمديحي گـوندلوي: ۱۷٤).

۵: علامه ابن الهمام حنفي د هدايه په شرح فتح القدير کې ليکي:

وَلَوْ كَانَ إِلَيَّ فِي هَذَا شَيْءٌ لَوَفَّقْت بِأَنَّ رِوَايَةَ الْخَفْضِ يُرَادُ بِهَا عَدَمُ الْقَرْعِ الْعَنِيفِ، وَرِوَايَةَ الْجَهْرِ بِمَعْنَى قَوْلِهَا فِي زِبْرِ الصَّوْتِ وَذَيْلِهِ يَدُلُّ عَلَى هَذَا مَا فِي ابْنِ مَاجَهْ «كَانَ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إذَا تَلَا {غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ} [الفاتحة: ۷] قَالَ آمِينَ حَتَّى يُسْمِعَ مَنْ فِي الصَّفِّ الْأَوَّلِ فَيَرْتَجُّ بِهَا الْمَسْجِدُ»

فتح القدير للكمال ابن الهمام (۱ / ۲۹۵).



ژباړه:

که په دې مسئله کې زما څه اختيار وی نو ما به داسې ويلي وي چې د په قلاره ويلو له روايت نه ډېر په تېزه نه ويل مراد دي. او د جهر له روايت څخه اواز او چتول خونرم ويل مراد دي. او پر دې خبره باندې د ابن ماجة روايت دليل دی، چې نبي عليه السلام به کله ولاالضالين وويلو: نو داسې امين به يې ويلو، چې لومړي صف والا به اورېده نو جومات به د امين ويلو له امله وکړنګېده پېغمبر لمونځ (۲۰۴).

۲: پيران پيرشاه عبدالقادر جيلاني په خپل کتاب غنية الطالبين کې ليکي:

والجهر با لقرائة وآمين.

په سهارماسپښين ماسخوتن په لمونځونو کې به قرائت او آمين په جهرسره ويلی شي.

۷: اشرف علي تهانوي په امدادالفتاوی کې د يوې پوښتنې په ځواب کې ليکي:

پوښتنه:

امين بالجهر كهنا جائز هے يا نهيں؟

په جهر امين ويل جائز دي که نه دي؟

ځواب

جائز هے جيسا كه عدم رفع بهى جائز هے اور مرجع احد الشقين كا تحقيق هے يا تقليد.

جائز دي، لکه څنګه چې په قلاره ويل جائز دي او د يو لوري غوره کول يا د تحقيق له امله وي يا د تقليد. امداد الفتاوی: ۱۱/۱۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاني، چې څوک يې په جهر وايي او که په پټه؛ خو د يوې وجهې نه به يې کوي، يا د تقليد له امله لکه حنفيان، او يا د تحقيق له امله لکه اهلحديث. (پېغمبر لمونځ: ۲۰۲)

۸: علامه صنعاني په سبل السلام: ۲۲۵\۱، کې

۹: شيخ الاسلام ابن القيم رحمه الله په اعلام الموقعين: ۲۴۳۲ ، ۴۳۰، کې په امين بالجهر باندې ډېر زيات دليلونه ذکر کړي دي، جامع الفقه لابن القيم: ۸۶\۲، ۸۲

۱۰_فتاوی اللجنة الدائمة: ۴۲۴\۶، ۴۲۰،

۱۱: فتاوی نذيريه لسيدنذيرحسين دهلوي: ۴۳۴\۱،

۱۲: مغنی المحتاج للخطيب الشربيني الشافعي: ۲۷۴\۱،

۱۴: د پېغمبر لمونځ: ۲۰۷، ۲۰۱، او نيل المرام شرح بلوغ المرام ۲۲۲\۱

۱۵: آمين بالجهر مسلک احناف کا مدلل جواب قرآن حديث کی روشنی مين. محمديحيی گوندلوي

۱۶: فتاوی الدين الخالص: ۱۵۶\۴.

۱۷: صحيح البخاري: ۱۰۷\۱، امام المحدثين اميرالمؤمنين في الحديث محمدبن اسمعيل

۱۸: آپ کی مسائل اوران کاحل قران اورحديث کی روشنی مين. ۱۱۵\۱

۱۹: السنن الکبری: ۵۶\۲،

۲۰_المغني لابن قدامة: ۵۲۵\۱

۲۱: فتح الباري: ۲۰۸\۲.

۲۲: فتاوی ثنائيه ۴۵۴\۱



۲۳: فقه السنة: ۱۲۳\۱.

۲۴: صفة صلاة النبي: ۱۰۲، سلسلة الاحاديث الصحيحة: ۸۱\۶. رقم ۲۵۳۴. کلاهما للالباني

۲۵: تنقيح تحقيق احاديث التعليق: ۳۶۷\۱. للحافظ ابن عبدالهادي

۲۶: احياء علوم الدين للغزالي: ۲۷۵\۱،

۲۷: نيل الاوطار للشوکاني: ۲۴۴\۲.

۲۸: الانصاف في معرفة الراجح من الخلاف لعلاء الدين المرداوي ۵۱\۲.

۲۹: الروضة النديه لصديق حسن خان: ۱۰۱\۱.

۳۰_القول المتين في الجهربالتامين للشيخ زبيرعلي زئي

۳۱: تيسيرالرحمن لبيان القران للدکتورمحمدلقمان السلفي: ۱۴\۱،

۳۲: مرعاة المفاتيح للشيخ عبدالله رحماني: ۱۱۹\۳.

۳۳: تحفة الاحوذي شرح سنن الترمذي: ۲۰۹\۱.

۳۴: فتاوی برکاتيه للشيخ ابوالبرکات احمد: ۴۲.

۳۵: صلاة الرسول لمولانامحمدصادق سيالکوتي: ۲۱۳، ۲۰۷.

۳۶: تفسيراحسن الکلام للشيخ ابي زکريا عبدالسلام حفظه الله: ۳۴\۱-۳۶.

۳۷: بلوغ الاماني من اسرارالفتح الرباني لترتيب مسند الامام احمد بن حنبل الشيباني: ۲۰۵\۳.

۳۸: هداية الصلاة للشيخ حبيب الله السلفي: ۸۱-۸۲.

۳۹: کتاب طرح التثريب في شرح التقريب للعراقي: ۲۲۸\۲، ۲۲۷.

۴۰_ المجموع شرح المهذب: ۳۷۲\۳-۳۷۳. او شرح د مسلم کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام نووي ليکي:

ويسن للامام والمنفرد الجهر بالتامين وكذا للماموم على المذهب الصحيح

ژباړه: په صحيح مذهب کې امام او ځانله لمونځ کونکي لره امين په زوره ويل سنت دي

## په پټه د امين ويلو دليلونه او د هغې تجزيه

١: د حنفيانو اول دليل

١: قال الله تعالى:

ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ [الأعراف: ٥٥]

، خپل رب په عاجزۍ او په پټه رابلئ، ځکه الله تعالى تېرى کونکي نه خوښوي

٢: وَاذْكُر رَّبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ وَلَا تَكُن مِّنَ الْغَافِلِينَ [الأعراف: ٢٠٥]

خپل رب سبا او بېګا د ځان سره په عاجزۍ، په پټه پرته له اوچتې وينانه يادوه او د غافلانو نه مه کېږه.

قَالَ قَدْ أُجِيبَت دَّعْوَتُكُمَا فَاسْتَقِيمَا

[يونس: ٨٩]

الله ورته وويل ستاسو دعا قبوله شوه نو اوس برابر چلېږئ.

اوسني حنفيان په پټه امين ويلو باندې د صحيح دليلونو د نشت والي له امله دا مفکوره ډېره خپره کړې ده، چې امين دعا ده او دعا په پټه ويل پکار دي. او له دغه ايتونو نه دليل نيسي، ليکن دغه ايتونه حق دي؛ خو له دې نه دا استدلال ناسم دی، چې امين په پټه ويل پکار دي له ډېرو وجوهونه.



١: اوله وجه: کله، چې امين بالجهر باره کې صحيح، محکم او غير منسوخ حديثونه موجود دي؛ نو ددې په مقابل کې په دغه ايتونو دليل نيول ناپوهي او کم عقلي ده او په دين کې تناقض راوبنکل دي. ځکه که دا ومنل شي، چې امين دعا ده: نو په کوم پيغمبر چې ايت نازل شوی دی: نو همدغه پيغمبر موږ ته دا ويلي دي، چې امين په زورسره وايئ! او هغه خپله هم امين په جهر ويلی دی، اوله رسول الله صلى الله عليه وسلم له وفات وروسته صحابه کرامو هم امين په جهر ويلی دی، لکه مخکې د بخاري (١٠٧١) په روايت کې او د عطاء په وينا کې تېر شو.

همدغه شان د ابوهريرة عمل په دې ګواه دی، چې هغه به په مروان خليفه باندې دا شرط لګولی وو، چې له ما نه به امين مخکې نه وايي او ابوهريرة به آمين په زوره ويلو مصنف عبدالرزاق (٩٧١٢) مصنف ابن ابي شيبة (٤٢٥١٢) تعليق التعليق (٢١٨١٢) سنن الكبرى للبيهقي (٥٩١٢) او د امام عطاء روايت، چې صحابه کرامو به په لمانځه کې په زوره سره امين ويلو په صحيح بخاري ١٠٧١، السنن الکبری ٨٢١١، ٨٥، رقم ٢٤٥٤. کې ذکر دی.

٢: دويمه وجه: د صحيح حديثونو په مقابله کې د قرآن کريم په عموماتو باندې استدلال کول او صحيح حديثونه په دې ايتونو سره رد کول د اهل زيغو او مبتدعينو او د منکرين حديث طريقه ده، په مزدلفه او عرفات کې جمع بين الصلاتين نشته او په دليل کې دا آيت پيش کړي، چې:

إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا

بېشکه لمونځ په مؤمنانو په خپل وخت فرض دی.

نو په دې ايت کريمه باندې د جمع بين الصلاتين نه کولو لپاره دليل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نيول غلط دي، ځکه، چې په مزدلفه او عرفات کې د جمع بين الصلاتين لپاره صحيح حديث راغلي دي؛ نو لکه څنګه، چې دا استدلال باطل دی. دغه شان د آمين بالجهر په اړه د راغلو صحيح حديثونو په مقابله کې په عام ايتونو سره دليل نيول هم بې بنياده دي،

يا لکه يو کس وايي، چې د پړانګ، لېوه، خرسپي، پيشو او داسې نورو ټولو خوړل روا دي، ځکه چې په قرآن کريم کې راځي

((بِالْعُقُوْدِ ۚ اُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيْمَةُ الْاَنْعَامِ اِلَّا مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ))

[المائدة: ۱]

ژباړه: ستاسو لپاره د هغه څارو پرته، چې درته بيان شوي دي نور څاروي حلال دي؛ نو ددې کس استدلال هم په جواز د دغه حيواناتو باندې په دغه ايت کريمه باندې ناسم دی، ځکه چې په صحيح حديثونو سره ددې حيواناتوخوړل حرام دي

بعينه د آمين بالجهر مثال هم داسې دی، چې په صحيح حديثونو کې راغلي دي، چې رسول الله ﷺ به امين په جهر ويلو او صحابه کرامو به هم په جهر سره لوستلو او د رسول الله له وفات څخه وروسته به يې هم آمين په جهر ويلو

اوس څوک، چې بيا هم دا وايي، چې دعا ده او قرآن کريم کې الله تعالى فرمايي: چې دعا په پټه ويل پکار دي: نو امين هم په پټه ويل پکار دي؛ نو ددې کس دا استدلال به داسې خطا وي لکه د دغه مخکنيو استدلال، چې ناسم وو. چا چې جمع بين الصلاتين د رد کولو لپاره په آيت

((اِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا))

سره استدلال کړی وه دغه شان چاچې دپړانګ، ګېدړ. لېوه، خراوسپي



خوړلو د جواز لپاره په ((اِلَّا مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ)) باندې دليل نيولی غلط دی؛ نوداټول په دليل کې دقرآن کريم ايتونه پيش کوي ؛ خو استدلال يې ترې غلط اوګمراه کن دی. چې د «کلمة حق اريد بها الباطل» مصداق ګرځېدلي؛ نو احناف به دې کسانوته څه ځواب ورکوي، چې وايي حج کې جمع بين الصلاتين نشته يا وايي، چې دغه مخکني حيوانات حلال دي، او له قران کريم څخه دليل نيسي؟ ښکاره خبره ده، چې احناف به هغوی ته وايي، چې ولې تاسې درسول الله ﷺ حديث نه مني ولې دا نه دي راغلی، چې په حج کې جمع بين الصلاتين شته دی، اوپه ايت کريمه کې ((كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا)) راغلی دی. ليکن موږدلته په حديث باندې عمل کوو، او د حج په وخت کې جمع بين الصلاتين له دې نه خاص کوو،

معارف القران لمفتي محمدشفيع «۵۷۹۱۳»

فماهوجوابکم عن تلک الاعتراضات فهوجوابناعن اعتراضکم.

نو موږ حنفيانو ته هماغه ځواب کوو کوم، چې دوی منکرين حديث ته کوي موږوايوسمه ده ايت کې خوداراغلي دي، چې دعاپه پټه ويل پکاردي، ليکن موږدصحيح حديث په بناباندې په جهرسره امين وايو او دا د دغه ايت په خاص او مستثنى دی،

۳: دريمه وجه: کله چې ددې ايتونو مانا- د حنفيانو د خيال مطابق-دا شوه، چې هر قسم دعا په پټه پکار ده؛ نو اوس زموږ سوال دا دی، چې بيا ولې رسول الله صلى الله عليه وسلم په جهر سره دعاګانې ويلې دي؟ همدغه راز ولې صحابه کرامو او تابعينو په جهر سره دعا کوله، مثلا رسول الله صلى الله عليه وسلم ددعاطريقه داوه، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم دزندګۍ په هره شعبه کې دعاکړې ده دکورنه ترميدان جنګ پورې

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**